پښتو پښويه (گرامر)

PASHTO GRAMMAR

دويم لاسوهلی ازمېښتي چاپ

پوهندوی دوکتور مجاور احمد زيار

Dr. M. A. Zyar

PROPERTY OF ACKU
5596

ادب پوهنځی

د ۱۳۵۷ وری

نیو لیک (فهرست)

سرلیـــــک	مـــخ
یادښت	الف
پښویه (گرامر)	۱
لومړۍ برخه ــ غږ پوهه (فونو لوژي):	۱
دویمه برخه ــ ګړ پوهه (مور فولوژي):	٦
تـوم ګړ پوهـــه	٦
نوزي (جنس)	۷
پیر (حالت)	۱۰
ناوښتونی نومونه	۱۲
څیز نوم (اسم)	۱۳
ستاینوم (صفت)	۱٤
شمیرنوم (عدد اسم)	۱٦
نومځری (ضمیر)	۱۸
ځانګړي نومځري (شخص ضمیرونه)	۱۸
تولنو ځري (ملکی ضمیرونه)	۱۹
نغوتنومځري (اشاري ضمیرونه)	۱۹
پوښتنو ځري (استفهامی ضمیرونه)	۲۰
وییکو ځري (اداتی ضمیرونه)	۲۱
اړیکو ځري (ارتباطی ضمیرونه)	۲۲
غبرګون نومځري (انعکاس ضمیرونه)	۲٤
ناټیکو ځري (ابهامی ضمیرونه)	۲٤

سرلیک	مخ
گډ تولنومځري (اشتراکي ضمیر)	۲۷
تول_ ځانګړي نومځري (شخصي_ ملکي ضمیرونه)	۲۷
لومړي کړ اوونه (تمرینونه)	۳۲
دویم کړ اوونه (تمرینونه)	۳۳
د کړ ګړ پوهه یا د فعل صرف	۳٤
کړ نوموونکی (مصدر)	۳٤
د کړ اوړونې توکونه اوار خونه	۳۵
اوړونونه (ګردانونه)	۳۹
د تیرمهال کړ اوړون	
روز دنی تیرمهال (اعتیادي ماضی)	٤۱
لنډ تیرمهال (قریبه ماضی)	٤۲
لرتیرمهال (بعیده ماضی)	٤۳
ګوماني تیرمهال (احتمالي ماضی)	٤٤
ارماني تیرمهال (تمنایي ماضی)	٤۵
اړوتي تیرمهال (شرطي ماضی)	٤۷
تواني تیرمهال (امکاني ماضی)	٤۸
ټینګاري تیرمها ل (تاکیدي ماضی)	٤۸
هیښني تیرمهال (تعجبي ماضی)	٤۹
پوښتني تیرمهال (استفهامي ماضی)	٤۹
ناليزندکړ (لازمي فعل)	۵۰
بشپړ تیرمهال (مطلقه ماضی)	۵۰

سرلیک	مخ
خبري تیرمهال	۵۰
لنډ	۵۰
لر	۵۱
نابشپړ	۵۱
روزدنی	۵۱
ارمانی	۵۱
توانی	۵۳
گومانی	۵۳
ټینگاري	۵٤
پوښتنی	۵۵
اړوتی	۵۵
د اوسمهالکړ اوړون	۵٦
بشپړ اوسمهال ــ خبري	۵٦
اړوتی	۵۷
ارمانی	۵۷
پوښتنی	۵۷
هیننی	۵۷
توانی	۵۸
امري	۵۸
ټینگاري	۵۸
غوښتنی	۵۹

سرليـــــك	مـــخ
گومانی	٥٩
نابشپړ اوسمهال	٥٩
اړوتی	٦٠
ارمانی	٦٠
پوښتنی	٦٠
هینښی ــ گومانی ــ توانی ــ امري ٠٠٠	٦١
ناليزند (تل ــ) ــ بشپړ اوسمهال	٦٢
خبري ــ اړوتی ــ ارمانی ٠٠٠٠	٦٢
نابشپړ اوسمهال	٦٣
خبري ٠٠٠٠	٦٤
داوسترمهالکړ اوړون (دمستقبل فعل گردان)	٦٥
نالیزندخ ــ ولاړ ــ	٦٥
دکړ رغاونی (ساختمانی) ډولونه	٦٦
یوستوي ــ بیلښتی (ساده ــ اشتقاقی)	٦٦
خواپرخوا (سست ترکیبی)	٦٧
تړښتی (ترکیبی)	٦٨
دویمه برخـــــه :	٦٩
ناوړیدونی گړونه	٦٩
کړولونه (قیدونه)	٦٩
ويیکی (ادوات)	٧١

سرلیـــــک	مـــخ
اړیکوییکی – ورتښ وییکی – تړ وییکی	۷۱
تولوییکی – سرېلونه	۷۲
۳ـ کـــــړ اوونه (تمرینونه)	۷۸
٤ـ کړ اوونه	۷۹
د پښتو ګړونو انځورلیك	۸۰
د ریمـــه برخـــــه :	
غونډې له پوهه (نحو)	۸۱
غونډې له (جمله)	۸۱
د غونډې لی جوړښت	۸۱
د غونډې لی رغنده توکونه	۸۵
اوډ ون (ترتیب)	۸۷
د غونډې لی بشپړ اند توکونه (اهنګ ـ خج ۰۰۰۰)	۸۸
د اینښ اواینښونی سمون	۹۱
نومواله اوکړ واله غونډې له	۹۳
د غونډې لی مانیز ډولونه	۹٤
د غونډې لی جولیز ډولونه	۹۵
یوستوي غونډې له	۹۵
غبرګغونډې له	۹٦
ګډه غونډې له	۱۰۱
ګډ لی غونډې له	۱۰۳

سرليك	مخ

سرليك	مخ
گړنې (اصطلاحات)	١٠٥
غونډه له پوهېزه شننه (نحوي تجزیه)	١٠٧
ګړاوونه	١١٥
نوې نوموړنې	١١٧
وېي پانګه	١٣٢
اخځليک	١٥٧

یادښت

دنوي اوزاړه ترمنځ یوه نه شلیدونکی شخړه یو دیالکتیکی قانون دی ۰ هر زوړ څیز اویدیده په خپل ځان کی دننه دیوه ورسره نوي اړ پیچ (ضد) زړی روزي او په هغه دی دود اودوی د وګړنی ټولنی بشپړ تیا یی بهیر مخ پرو ړ اندي دروي اوله دي سره یی انداوبوهه ۰ په دي توګه له مهال تیریدنی اوځانګړ و ځانی او جهانی اړ ونو سره سم بشري پوهنه تل بدلون اونوي کیدون موی اوهمدغه بدلون اونوي کیدون یی بشپړ تیایی تګلوري ورسیخوي ۰

زموږ په وروسته پاتی ټولنه کی دنورو بشري پوهنو په لړ کی ژبپوهنه هم ښوي دودیدونکی ده او زموږ له ټولنیزو اړ ونو سره سم یی یو رنګ لاسم دود نه وي موندلی چی په نوره نړۍ کی هغه بیا دوخته زوړ وي ۰ که څه هم لږ ترلږه شل کاله پوره کیدونکی دي چی نوي ژبپوهنی دادبپوهنځی له لاري زموږ هیوادته سررادننه کړې خوبیا یې هم نه یوانحس دزړې دودیزې ژبپوهنی اوبنوبی ځاي نه دي نیولی چی لاکوزټ یی ثري سر هومره هم نه دي هسك کړي ۰

دعبدالاحد یاري دنوي ژبپوهنی څولوستونه اولیکنی لادشاګردانو مغزو ته سمی نه وې رسیدلی چی درښتین ژبنودنی بیا ټول افغانستان نیولی وکه له الهامه تیرشو ، دپښتو ځانګی پاړوال استاد شاکر دنوي ژبپوهنی دپیښاوو په توګه نه دومره اکادمیکه زده کړه اوسمبالتیا درلوده اونه یی ورسره لږه کی زړ ورتیا چی هغه زړه ژبنودنـــه لږ ترلږه له پوهنځی څخه وباسی ۰ ده چی دژبپوهنی مؤ سس او پښتو ځانګې دژبنیو څیړنو او ښوونی بشپړ مونو پول یی په لاس کی وله ((نوئیم وخه ته وایی — موږ فهم وخه ته وایی؟)) پرته نه نور څه زده وو او نه یی ترهغه زیات څه ور اندي کړاي شـــول ۰

نو په دي توګه به تري پخپله دپښتو ژبپوهنې یاپښتو پښوونې په باب څه هیله شوي واي . دتېزي نوي ژبپوهنې (دپښتو ټولنې د ۱۳۴۴ خپرونې) اود پالوال نوي مصدر (د ادبپوهنځي د ۱۳۵۰ خپرونې) بیاهم زاړه غوزونه یوځه وښکول اودایې لږ ترلږه وښووله چې نوي ژبپوهنه یاپښوونه څه مانا !

ما دژبپوهنې دیوه نوېزده کوونکي او پښتو ګړ دوډېروونکي په توګه دسویس له زده کړونه لهبیرته راستېدو سره له زړې ژبپوهنې اوزړې ژبښوونې سره یوې مخېږزي نه پخلا کېدونکې سرغړاوي ته راودانګل اوخپله لوړې دنده مې داوبلله چې له پښتوځانګې څخه همدومره دزړې ژبښوونې تغرویلز دبوم لکه کوم کار چې په دري ځانګه کې الهام او نګهت کړي دي اوترخپل مسلکي واک اووس پورې دنوي ژبپوهنې په رڼاکې دیوې نوې ښوونځیوالې (مکتبي) پښوونې اوژبښوونې بنسټ هومره کېږدم .

زه داباتې نه وهم چې دغه پښوونه په تیوریک ډول دکوم ډېر تازه او لوکس ژبوهنیز ښوونځي (لکه ترانسفورماسیونل – ژنراتیف ګرامر) ښکارندوېي ګڼلاي شي او نه په سلوکې دپښتو یو بشپړ سپړیز (تشریحي) ګرامر اوسي خودا په ډاډ ویلایشم چې دودیز نورماتیف ګرامر هم نه دي . داچې ایکي اوعلمي پښتو لامنځ ته نه ده راغلې اوهرڅوا خپله کلیواله او ځانګړي پښتو رامخکې کړېده نوکېداي شي ځینو ګوتیوونکو ته زمادغه پښوونه یو نورماتیف ګرامر وایي ځکه ماد نورو پرخلاف ځانته یو څو ځینې پښتو امرلي اوغوره کړي ده اودګرامري دودونو (قاعدو) اوټولیو (کټیګوریو) په سپړنه ایسته اوویشنه کې مې دټولو پښتو ګړ دودونو یوې ګډې امرلې (انتخابي) پښې اراو معیار په کار اچولی دي په دي چې د ((پښتو)) ګرامر لیکه اود ((پښتو ګانو)) ګرامر لیکه سره توپیرلري .

دموخې اومرام له پلوه مازيات دپښتو ښځانګې دشاګردانو راتلونکې اړتيا په پام کې نيولې ده ۰ هغه داچې دوي په داسې يوې‌نوي پښتوې سره پرخپل خپل وار پــــه منځنيو او لوړو ښوونيزو ښځانګو کې سمدلاسه دزړې ژبښوونې پايته رسيدل اوله دود ه لويدل هومره ښوولاي شي اوبرځاي يې دنوي ژبښوونې يوه وزمه هومره څپره کړي داسې نوي ژبښوونه چې هم تخنيکې اومتوديکې نوېوالې لري اوهم ژبنۍ نوېوالې ۰ او زماپه ازمېښت ندي لاسوند چې ماولې دغه دوه اړخيز نوېوالې ته پرېووار را ودانګل ، داديچې يوازې په دې يوه نوېـــوالې له زړې ژبښوونې او پښتوې سره مبارزه بياهم نيمګړې وه ۰ د ((حـــرف ياتوري))ـــ((مصدر)) ـــ ((فاعل)) او ((مفعول))غوندې کرغيړنې نومونې چې استاديې په ويلو او شاګردان ياشاګردانې يې په اوريدلو شرميږي نور هماغسې له دوره او موده وتلي بريښې لکه پخپله دزړې ژبښودنې کړغيړن دوداو تخنيک ۰

که څه هم ددې نوې‌غورځنګ دغه دويم اړخ راته داپنځه شپږ کاله دسريه کاسه کې اوبه راکړې اودزړې لياري پلويانو مې دکوټلو لپاره همداپلمه ونيوله خوما هرڅه ديوه ((علمي بري)) په خاطر وزغمل او ډال مې پرځمکه کېښې نښود ۰ همدغه زغم اړتينــــګ هوډ اوويلاړ و چې تر بريې ورسولم او هغه داچې دغه نوي پښتو به مې له ټولو نويو نومونو اوترمونو سره هم شاګردانو وسهلاي شوه او زده کړاي شوه او هم مې دشاګردانو شاګردانو ۰ داد پوهنځي دناپښتو ښځانګو او ځينو نورو پوهنځيو لپاره له همدغه ګرامر څخه لوستونــــه برابر شول او همداسې يې پسې دهيواد نورو ډيرو ښوونيزو مرکزونو ته لارپيداکړه اولا پيداکوي يې ۰ دملالۍ ليسې پښتو ښځانګې زما له همدغه ګرامر څخه يووتلي لوستليکې کاپي کړ او دهغه ليسې په درسي کتابونو کې يې ورته ځاي ورکړ ۰ بې له دې چې زما لــــه شاګردانو څخه کوم يوه هلته ښکارندوي کړېوي ۰ له دې ټولو خبرو سره سره زه بياهــــم خپله پښتويه يوه بشپړه اوبې ((خو)) نه بولم اونه يې بوللاي شم ۰ هماغسې چې زمـــا

دغه پښتو یه د پوهاند رښتین ترژبړودنې نوي د ه او د همغې ځاي ین ونیو همدغسې به په ځا پسې د دوکتور تزي هم زما تر دي نوي وي اوځاي به ېې نیسي ۰ مقصد یوه نوي لاره هغه هومره مې وایستله اوس نو هر نوي ژبپوهاند او پښتو پیوهاند کولاي شي بې له کوم سرخوږ ه د نوي ژبپوهنې د هماغه بېخې نوي ښوونځې په رڼا کې دلازیاتې نوي پښتو ژبپوهنې او پښتو پښتو یې په باب تازه نوښتونه او نو چارونه وړاندې کړي ۰ نه یوازې په ګړ هار پنلکې په چار او کړ ن سره زما د دغوځاي ونیسې او په دي توګه د نوي نړ ۍ او نوي پیړ ۍ له پوهې او تخنیک سره د پښتو او پښتو په پېژندوېې او روز دیدنه کې ترمـا زیاته ونډه واخلې ۰

تل دې پرنا پوهې باندې د پوهې بــري

اوبر زړ و باندې د نویو لاسبــــــري

پوهندوی دوکتور مجاور احمد زیار

نادرشاه مینه د ۱۳۵۶ د کب ۱۵

سید مسافر

پښوويه (گرامر)

پښوويه د ژبپوهنې يوه ستره سپړيزه (تشريحي) برخه ده چې په دوديزه توګه پښوونځيو او ژبښيو زده کړوڅيو (کورسو) کې د يوې ژبې د ياده‌غې د معياري ليکنې ښوونې د زده کړې د اسانتيا لپاره لوستل کيږي، يا په لنډه توګه:

پښوويه د يوې ژبې له بيلا بيلو جوليزو توکونو او د ودونو څخه غږيږي يا په لنډه توګه

وينا پښوويه د يوې ژبې د رغاونې (جوړښت) سپړنه (شرح) ده چې د اسپړنه له دروا ړخو څخه ترسره کيږي:

۱ــ غږپوهه (فونولوژي) ۰

۲ــ ګړپوهه (مورفولوژي)

۳ــ غونډله پوهه (سينتکس) ۰

لومړۍ برخه

غږپوهه (PHONOLOGY)

غږپوهه په ټولیز ډول د يوې ژبې لومړني ساده توکونه (غږونه) کتې اوڅيړي

او په لنډه توګه په دوو څانګو ويشل کيږي:

۱ــ اوازپوهه (فونيميکس) ۰

۲ــ سپڼپوهه (فونيتيکس) ۰

اوازپوهه: اوازپوهه د يوې ژبې ارزښتناک غږونه (اوازونه) ترڅيړنې لاندې نيسي ۰ اواز: (فونيم) هماغه د اوريدو ور سپڼ يا غږ دی چې د غږيزو غړو او ساهوا په مرسته پريووار له خولې راوځي پخپله کومه مانا نلري خو په ويونو (کلمو) کې مانيز توپير پيښوي نکه پور او تور چې د يوه اواز په بدلولو سره د وه بيلا بيل ويونه دي ۰

سپڼپوهه: سپڼپوهه د يوې ژبې ټول غږونه يا سپڼونه که ارزښت ولري يا ونلري يومخيز ترڅيړنې لاندې نيسي د ساري په توګه (د) د پښتو يو ارزښتناک غږ (اواز) دی خو په وينې

یاڅپه کی له راز راز دریځ (موقعیت) سره بیلابیلی بڼی ځانته غوره کوي . دا سی چی وینګ (تلفظ) یی دوبی یا څپی په یوه برخه کی زور وروي او په بله کی کمزوري یانیم کمزوري لکه په (دود) کی چی لومړي (د) تر دویم هغه غښتلی ویل کیږي او دویم . بیخی د (ت) وینګ ته نژدي کیږي . نود فونیتیکس له پلوه پر لومړي دویم او ... (دالونو) ویشو او د فونیمیکس له پلوه یی دهماغه یواځینی (دال) په توګه پیژنو .

په دي توګه هره ژبه یو ټاکلی شمیر اوازونه لري خو سپڼهونه یی هرخومره کیــــدای شی .

د پښتو اوازونـــه : یوه ـ یواځینی ـ ګړه لیکی معیاري پښتو تول ۳۶ اوازونه لري چـــی پرځلورو ډلـــو ویشل کیږي :

۱ـ خپلواک (واول) چی راپیداکیدل یی له کوم ستر هوایی بندیز څخـــه ترسره کیږي او شمیریی اووته رسیږي .

زور	a	لکه	سر	sar
زورکي	ə	لکه	تره	trə
الف	ā	لکه	کار	kār
اوږده ي	e	لکه	ادي	ade
لنډه ي	i	لکه	ښادي	ṣādi
اوږدو	o	لکه	اور	or
لنډو	u	لکه	سور	sur

۲ـ بیواک (کنسوننت) چی له راپیداکیدو یا له خولی څخه دراوتو پرمهال د ساهوا له بندیز سره مخامخیږي او شمیریی (۲۷) ته رسی .

ب	(بې	b)	لکه	بر	bar
پ	(پې	p)	لکه	پور	por
ت	(تې	t)	لکه	تور	tor
ټ	(ټې	ṭ)	لکه	ټول	ṭol
ج	(جې	j)	لکه	جوړ	jor
ځ	(ځې	j̃)	لکه	ځوړ	j̃war
څ	(څې	c)	لکه	څار	c̄ar
چ	(چې	č)	لکه	چار	č̄ar
خ	(خې	x)	لکه	خول	xol
د	(دې	d)	لکه	دود	dod
ډ	(ډې	ḍ)	لکه	ډاډ	ḍād
ر	(رې	r)	لکه	زور	zor
ړ	(ړې	ṛ)	لکه	ړوند	ṛund
ز	(زې	z)	لکه	زر	zər
ژ	(ژې	ž)	لکه	ژر	žər
ږ	(ږې	ẓ)	لکه	ږیره	ẓira
س	(سې	s)	لکه	سم	sam
ش	(شې	š)	لکه	شل	šəl
ښ	(ښې	ṣ)	لکه	ښل (زینه)	ṣəl
غ	(غې	ğ)	لکه	غرمه	ğarma
ک	(کې	k)	لکه	کر (کشت)	kar

گ (گې g) له گر (ظلم) gar

ل (لې l) له لار lār

م (مې m) له موړ moṛ

ن (نــې n) له نن nən

ڼ (ڼــې ṇ) له بڼ baṇ

هـ (هې h) له هلك halək

٣ــ نیمواك (نیم واول) هغه اوازونه دي چې دخپلواکو او بیواکو دواړو دنده پرځاي کوي یاپه بله وینا که په یوه څپه کې د زړي یاهستی (حرکت) کارورکړي د خپلواك بنهـ غوره کوي که نه دبیواك . په ترتیب سره لکه په بیل bel اوبیا byā کــې . دنورو خپلوانو ژبو غوندي پښتو هم دوه نیمواکه لري :

و (w) له ور war

ي (y) له یور yor

٤ــ غبرگغږونه (دیفتونگونه) هغه اوازونه دي چې دخپلواکو اونیمواکو په ملگرتیا منځ ته راځي اولکه پوستوي اوازونه یووارپتــلیز (پیوسته) له خولې راوځي . دیوه غبرگغږ لومړي توك یو خپلواك او دویم توك یې یو نیمواك اوازوي او دا چې پښتو نیمواك اوازونه دوه دي نویه دې توگه یې یو ډول غبرگغونه په و (w) جوړیږي اوبل ډول یې په ي (y) چې ټول شمیر یې یوولسوته رسي .

لومړي ــ دي (y) غبرگغږونه :

نرمه یازورواله ي ay له سړی saṛay

اي y له ځاي zāy

درنه یازورکې والې ی y له مړی maṛəy

ۍ	oy	لکه	زوۍ	zoy
ۍ	uy	لکه	بوۍ	buy

دویم — د و (w) غبرګړونه :

او	aw	لکه	لو	law
او	w	لکه	کټو	kaṭəw
او	üw	لکه	پړاو	paṛüw
او	ow	لکه	اوړۍ	owṛəy
یو	ow	لکه	ایو (ګاه ګل)	low
یو	iw	لکه	تریو	triw

څپه : څپه ، هجا یا سیلابمغه اواز غونډ (فونیمي ګروپ) دي چې یا یو خپلواک وي او یا له یوه خپلواک او یوه یا څو بیواکو څخه جوړ وي او په یو ځای د ټول له خولې راوځي ، لکه په (ادوم) کې چې دوه زړي (خپلواکه) لري لومړۍ څپه (الف) او دویمه (دوم) ده یا شخوند sxwand چې یوزړي (a) لري او پنځه بیواکه نویوه او زده څپه ګڼل کیږي . څپه هرومرو مانا نلري د ساري په توګه کور هم یوه څپه ده او هم یو ویی ځکه مانا لري مګر (اغـ ـزه) په اغیزه کې دریواړه څپې ځانته جلا جلا مانا وې نلري .

خج یا فشار (اکسینټ) : خج هغه چار (عملیه) ته وایي چې د ژبنیو توکونو په لړ کې یو توک په زور او شدت سره وویل شي .

په دې توګه خج په دوو ډولو وېشل کیږي :

غونډله ییز (جملوي) خج — ویيیز (لغوي) خج او څپییز (هجایي) خج

لکه په (زه پوهنتون ته ځم zə pohanṭun ta jəm.) کې یوغونډله ییز خج راغلی او هغه هم پر (u) او په یوه وخت کې ویيیز خج هم دې ځکه د

غونډلی دنورووینو په ترڅ کی یوائی د (پوهنتون) ویی خج اخیستی او هم ځپیزخج دي ځکه دپوهنتون د دري گونو ځپو په ترڅ کی یوائی یوي ځپی خج ترلاسه کړي دي ٠

دویمه برخه

گړپوهه (صرف Morphology)

گړپوهه دپښتو هغه برخه ده چی دگړونو (مورفیمونو) له رغاونی اوړون (گردان) او دهغو له ټولونو (ډولونو) سره کار لري ٠

گړ : گړ هغه کوچنی دانیز ژبنی توک یا مانیز یوون (واحد) دي چی که وشنل شی اوازونه تري لاسته راځی اوپه دي توگه خپله مانا له لاسه ورکوي ٠

ځانگی : گړ پوهه دگړونو د ډولونو له مخی په دوو ځانگو وشل کیزي : یوه داوړید ونیو (گردانید ونکو) گړونو ځانگه اوبله دنااوړید و نیو گړونو ځانگه ٠ داوړید ونیو گړونو ځانگه بیا دوي برخی را اخلی :

١ـ نوم گړپوهه ٠
٢ـ کړگړ پوهه ٠

نوم گړ پوهه :

په نوم گړ پوهه کی د نومونو ډولونه اود هغه اوړونونه (گردانونه) څیړل کیزي ٠

نوم : هغه ویی دي چی بی له زمانی اړیکی (دکړپه توپیر) د راز راز ځیزونو او ښکارند و (پدید و) څرگند ونه کوي لکه تیزه ، لرگی ، سړي ، سړیتوب ، ښایست ، روغ ، روغتیا ، روغوالی ، زه ، ته ، دي ، یو ، دوه ٠٠٠٠

دنومونو ډولونه :

نومونه پرځلورو ډلو (گروپونو) وشل کیزي :

١ـ ځیزنومونه (اسماء) ٠

۲ــ ستاینو مونه (صفات) ٠

۳ــ شمیرنومونه (اعداد) ٠

٤ــ نومځیري (ضمایر) ٠

دنوم اوړون اړخونه :

نومونه په ټولیز ډول د درو اړخو (وجوهو) له مخې اوړون موي لکه نوزي ، گڼه ، پیر ، خو څلورم ډول (نومځري) یې پرهغو سربیره د یوه بل اړخ (وگړي) له مخې هم گردانیږي ٠

۱ــ نوزي (جنس) چې نوم نرینه دي لکه گیدړ ، سور اویا ښځینه لکه گیدړه ــ سره ٠

دنرینه نوم نښې : داوروسته نومونه زیاتره نرینه دي :

۱ــ چې وروستی اواز (فونیم) یې بیواك (کنسوننت) وي لکه : کور ، ختیځ ، هلك ، غــټ ، زیاړ ، هیواد ، غورځنگ ، اوږ میږ ، الاس ، پټ ، چرگ ، بیدوده (مستثنی) زیاتره دخپلوانو نومونه لکه : خور ، مور ، ترور ، نږور ، ندرور ، ورندار ، تندار ٠ یاهغه ښځینه نومونه چې په رینگ کې زیاتره خپل پای خپلواك غورځوي لکه ستن ، څنگل ، لار ، ترخ ٠ همداراز ډز (ډزې) اومټ (مټې) ٠

۲ــ له زورکی والی ی (ۍ) او ـه پرته هرنوم چې په غبرگغږ (دیفتونگ) پای ته رسیدلی وي لکه سړي ـ لرگی ـ ځای ـ ډای ـ زوي ـ لوي ـ څارندوي ـ پیژندوي (مشهور) بوي ـ خوي ـ کډو ـ لو ـ جړاو ـ پړاو ـ کړاو ـ نیاو ـ لیو ـ تیو ٠

۳ــ هغه نومونه چې په زورکی پای کیږي لکه تره ـ پسه ـ لیوه ـ رواړه ـ زړه ٠ بیدوده لکه : خوله ـ وباله ـ تراه ٠

٤ــ هغه نومونه چې په لنډو (u) پای ته رسي لکه چاکو ، تټو ، یابو اردو (عسکري) ، لاټو ، لاهو ، کاهو ، ماکو ، پټو ، پیښاوو (مقلد) ، ماڼو (باجه) ، ساهو (ازاد) ، بازو ٠

دښځینه نوم نښې : داوروسته نومونه زیاتره ښځینه نښې (پایلې) لري :

۱ــ له زورکی اولنډو (و) پرته هغه نومونه چې په خپلواکو (واولو) پای ته رسي لکه ادې ، ناوې ، خوزه ولې ، ښادي ، رزوري ، ودانې ، ورانې ، ښه ، پزه ، ښځه ٠

رڼا ، برېښنا ، پېدیا ، لوړتیا ، نخا ، ځلا ، ورا ، بلا ، ژړا ، خندا ، غلا ، ملا (کمر) ،
شا ، ویسا ، پښتیانا ، ارانا ، پیشړ ، زانګو ، درخو ، بیو ، پیلبو (برېښنا) ، شادو ، بیزو ۰۰۰۰۰

ښځینه لکه: دادا (پلار) ، ماما ، کاکا ، لالا ، بیړا ، بړا (مقابل) ، بومیا (پیشرا) ،
هوسا ، جلیا ، ملیا (باغوان) ، کونا ، رونډا ، سبا ، میلمه ، کوربه ، غوبه ، لربه ۰۰۰

۲ـ د ښځو په غبرګغږ پای کېدونکی نومونه ، لکه: کټو (کټوره) ۰

۳ـ په زورکی والی ی (غبرګغږ) پای کېدونکی نومونه ، لکه: ټوټی ، هوسی ، کبلی (غزال) ، شړی ، مړی ، اړی (کور دخورد) ، ټی (کلك دندی) ، متهی ، ګدی (فاحشه) ، اریکه
مسند ، قنجوغی) ، نجلی ، مخی (بدلګري نجلی ، معما ، چیستان) ، نتکی ، شپیلی ۰۰۰۰۰

دګڼـــــــی(عدد) نښـــــی :

الف ـ د نرینه ګڼی (جمع) نښی په داوروسته ډول دي :

۱ـ ان ، زیاتره هغه نرینه نومونه ډېرګړي (جمع) کوي چې بېواکپای اوساوالاوي ،
لکه هلکان ، پړانګان ، مچان ، کبان ، چنګابنان ۰

ځینی خپلواکپای نرینه نومونه لکه لیوان ، ټټوان ، اسان (اسونه) ، پسان (پسونه) ۰۰۰۰

۲ـ ونه ، زیاتره بېواکپای بې سا نرینه نومونه ډېرګړي کوي ، لکه سیندونه ، ډنډونه ،
میزونه ، کتابونه ، لاسونه ، نسونه ، سرونه ، پلونه ، خوېونه ، بویونه ، توبونه ، وربربونه ۰

ځینی خپلواکپای نرینه نومونه لکه ترونه ، وربرونه ، زړونه ، ځینی ساوالا بېواکپای نرینه نومونه لکه پلرونه ۰

۳ـ زورکی ، ځینی لنډ ځپیز او خپلواك (وای) منځی نرینه نومونه ډېرګړي کوي ،
لکه: خره ، غله ، دښنه ، مله ، مړه ، وازره ، پښتانه ، شپانه ، خوازه ، تراخه (ترخه) ،
زږه (ززه) ، ماغزه ۰

٤ـ لنډه ي (ۍ) هغه نومونه ډېرګړي کوي چې په نرمه ی ay پای وي ،
لکه نرګی ، سړي ، ځلمی ، نښتی ، غویی ، وی ، توکی ، پیاوړي ، روي ، ګوي (غابنی) ، غابنی ۰

د دي روستاري بلگې ان اوونه هم لز و ډېرراځي لکه ځلمیان غویان ویښته

خوریونه ۰

۵ـ یان چې دان بلگړ دي او ځینې غیرگټزیاي او خپلواکپاي نرینه نوموونه ډیرگړي

کوي لکه میرزایان ، اشنایان ، سویان ۰۰۰۰

۶ـ گان چې دان یوبل بلگړ دي او ځینې خپلواکپاي نرینه نوموونه ډیرگړي

کوي لکه سنډاگان ، لاټوگان ، کدوگان ، ټټوگان ، ماماگان ، کاکاگان ، لالاگان ، بیړاگان ،

پړاکان (پړا) ، پوډاگان ۰

بیدوده لکه میلمانه ، زامن ۰

ب ـ د ښځینه گڼې (جمع) نښې په دې لاندې ډول دي :

۱ـ اوزده (ي) ، هغه ښځینه نوموونه جمع کوي چې په زوریا زورکي پاي ته رسي ۰

لکه : منې ، پزې ، خولې ، ویالې ، وړانگې ، خانگې ، سانگې (نیزې) ، پانگې ، ډیوې ،

شونډې ، سکروټې ، پلې (پې) ، ټوکې ټکالې ، غلې ، ملې ، خرې ۰۰۰۰

۲ـ زورکي واله ئ y ې ، هغه ښځینه نوموونه ډیرگړي کوي چې په لنډه ي

پاي ته رسیدلي وي ، لکه ودانۍ ، خپلوۍ ، ښادۍ ، ناروغۍ ۰۰۰۰۰

۳ـ وې wo هغه ښځینه نوموونه ډیرگړي کوي چې په الف یا اوزده (و)

پاي ته رسي ، لکه ژړاوې ، خنداوې ، ملاوې ، نخاوې ، زانگووې ، پیلبوې ، ښکالووې ،

پیسرزووې ۰

باگړیې گانې هم راځي لکه شاگانې ، نخاگانې ، بریښناگانې ، زانگوگانې ،

بیزوگانې ، همداراز ورندارگانې ، نندرورگانې ۰۰۰۰

۴ـ آنې ، زیاتره هغه ښځینه نوموونه ډیرگړي کوي چې پاي ته یې لنډه ي

راغلې وي لکه بیبیانې ، شادیانې ۰ او دیوې بلې نښې (ینډي) دبلگړ په توگه ، لکه :

ډوبیانې ، مزدورانې ، تروړانې (ترینډي) ، مورانې (میندي) ۰۰۰۰

ه‍ـ ينلي، هماغه بيواكيايه خپلوان نومونه ېږگړي: كوي‌چې ورسره لنډون‌مومي لكه ميندې، خوېندې، نږيندې، ترېندې ٠

٦ـ صفر داماتا چې په زوركي واله ي باندې پاي‌نوموته بي له كومې نښې د ېږگړي په توگه هم راځي٠ لكه : كړ كړ، بچلي، ېوېي، خپلي، تېري (واسكټ)، بلگړيس (ياني) هم‌يوځه دودلري ٠ لكه : كړكياني، بچلياني، كوچياني، موچياني، كبلياني، كچنياني، چينكياني، ترورياني (تروري) ٠

ب، د وه (مستثنې)٠ لكه : نجوني او نجونه، لونې ٠

۳ـ پير (حالت) ٠ چې نوم په خپل چاپيريال (غونډ ياغونډ له)كې څه حالت لري ٠ لكه : پلوشه راغله، پلوشي ېوېي وخوړه، دپلوشي وروړ ناروغ دي، له يوه لاسه ټك نه خيژي) دلته گورو چې (پلوشه، يو اولاس) څنگه خپل حالتونه او بڼې بدلوي ٠ په پښتوكې ديوه نوم پيردكړوال څار(فعلي عملي) اوويكو(اداتو) له مخې څرگنديږي اودپيرښې يې هماغه پايلې يا روستاړي دي‌چې په پاي پورې يې نښلي ٠ نومپيرونه په داوروسته ډولودي :

۱ـ كړندپير(فاعلي حالت) لكه ځلمي ېوېي وخوړه ٠ ځلمي راغی ٠ ځلمي ېوېي خوري ٠ په درېواړو غونډ لوكې ځلمي كړند پير لري يا په بله وينا په درېواړو ځايوكې ځلمي كړند (فاعل) دي :

۲ـ لنډ كړي پير (بې واسطه مفعولي حالت) لكه : بارك اوبه وڅښلي ٠ بارك پلوشي ته ليكې (كتاب) وركړ ٠ خوازك پلوشه ووهله ٠ په دي غونډ لوكې (اوبه، پلوشي اوپلوشه) لنډ كړي (بې واسطه مفعولونه) دي ياپه بله وينا لنډكړي پيرلري ٠

۳ـ لركړي پير(بالواسطه مفعولي حالت) ٠ لكه : ببرك زمرك ته ليكانې‌وركړ سنگ اڅك ته خبره وكړه ٠ غرزي ماته روښې ژبه رازده كوي ٠ په دي غونډ لوكې زمرك

اخلک او (ما) نرکري دي يا په بله وينا دغه د ريوار ه نوونه لرکړي پيرلري او په هغه غير غږ ليدلو کي (ليکانې ، خبره او رومن ژبه) لنډه کړي بدل کيږي ، يا په بله وينا دغه د ريوار ه نوونه لنډه کړي دي ۰

۴ـ لوښتن پير (الی حالت) ؛ داماناچې د يوه لوښتين يا الې په وسيله يو کار ترسره شوي وي لکه : ترربالي په بياتي ژرل شو ـ بريالي په ليکاني يو ليک وکيښ ـ ګلخانګه په کاشوغه ډوډۍ خوري ، په تغر د رو بيلګو کي (بياتي ، ليکاني او کاشوغه) لوښتن يا الې نومونه دي او په دې توګه لوښتن پير لري ۰

۵ـ تولپير (اضافي حالت) ؛ هغه نوم چې يو شه ور پوري اړه لري ، تولنوم (مضاف اليه) ګڼل کيږي او تول پير (اضافي حالت) لري ۰ لکه : د وبالي اوږه بنې دي ۰ د زمري کور ښکلی دی ۰ د اسمان ستوري په وريځ کې پټيږي ۰ (وبالي ، زمري او اسمان) تولنومونه دي يا په بله وينا دغه د رنومونو تولپير غوره کړي دي ۰

۶ـ رتون پير (انتهايي يا مفعول منه حالت) ؛ داماناچې يو نوم د يوه کار پيليځ (منشا) ګرځيدلی وي ۰ لکه : له کنده هاره راغلم ـ له بنوسه زيږي ـ له بدو وانه زيږي ۰ دلته (کندهاره ، بنو او بدو) رتون پيرلري ۰

۷ـ تون پير (داخلي يا مکاني او زماني حالت) همدارنګه مفعول اليه يا استقامتي او معيتي حالت) ؛ هغه مکان نوم يا ځاينوم چې د يوه کار ظرف ګرځيدلی وي او يا ور ته يو کار متوجه شوي وي ۰ تونوم بدل کيږي اوږه ندي توګه تون پيرلري ۰ لکه : په کور کې ځوک نشته ـ په شپه کې خلک لږ ګرځي ـ زه د ورځې کار کوم ۰ دلته (کور ، شپه او ورځ) تونپير يا ظرفي حالت غوره کړي دي ۰

۸ـ بلن پير (ندائيه حالت) ؛ کړ يوه نوم ته بلنه يا غږ شوي وي ۰ بلننوم (منادا) بدل کيږي او حالت ته يې بلنپير وايي ۰ لکه : اي هلکه ! يه خلکو ! واحلميه ! ۰ (هلکه ، خلکو او حلميه) بلن پيرلري ۰

یادښت : که یوه نوم په کوم پورتنی پیرکی خپلی ښځی ته بدلون ورکړي وي . او ښتی نوم بدل کیږي یاپه بله وینا هغه نوم اوښتی پیر (مغییره حالت) لري او که اوښته یی نه وي موندلی نو ارنوم ورته وایی او حالت یی ارپیر (اصلی حالت) بلل کیږي .

دنوم پیر (اسمی حالت) ښښ (پایلی)، زیاتره له گڼښ (جمع) هغو سره سمون لري . لکه ځلمی ـ دځلمی ـ پلوشه ـ دپلوشی، شپون ـ دشپانه، غل ـ غله ...

پرته له ا ن اووي او د هغو له بلگړونو (لیوان، سیندونه، بیبیانی، شادیانی، زړاوي) او د بیواکپایو ښځینه نومونو (میندي) .

ډیرکړي (جمع) نـومونه بیا په یو مخیز ډول خپل اوښتی پیر په (و) ښیی . لکه : دښځو ـ سړیو ـ هلکانو ـ خویندو ـ بریښناگانو ....

په دي توگه په ا ن، وي، ونه، انی، یندي او د دوي په نورو بلگړونو (الومورفونو) جمع کیدونکی نرینه او ښځینه نومونه له (بلن پیر) پرته نوره اوښته نلري . البته په بلن پیرکښ بیواکپای نومونه خپل پای په زورونو (فتحو) روستاړي کوي . لکه په هلکه! په مورې! په پښتنو! داوښتونکو نومونو فورمول په دي ډول دي :

زه، ته (دحال مفعولیت پرته)، دی، دا، هغه، هغه، څوک، سړي، ښځـه، پښتون ....

ـ وییکی (ادوات) یادلیزند تیرمهال کړند والی (متعدي ماضی فاعلیت) = ما، تا، ده، دي، هغه (په زورکی)، هغی، چا، سړي، ښځی، پښتانه .....

نا اوښتونی (تغییر نه موندونکی) نومونه : ځینی داسی نومونه شته چی په یو گړي ښه په اتو واړو پیرونوکی کوم جولیز اوښتون (تغییر) نه مومی او هغه دادي :

۱ ـ الف پاینومونه : لکه کاکا، ملا، دادا، پښتیانا، اریانا، پکتیا، سبا، یما، کیشکا، لوړتیا ....

۲ــ وــ پاي نوموونه (لنډ يا اوږده) ، لکه زانګو ، بيزو ، درخو ، ټټــو ؛

۳ــ درې ـــ پاي نوموونه ، لکه : نجلۍ ، ليونۍ ، خوګه ، سپوږمۍ ...

٤ــ زورکۍ پاي نوموونه ، لکه : نيکه ، تره ، زړه ، ورارو ، واده ....

٥ــ ځينې زورپاي (ستاي) نوموونه چې هم ښځينه کاريږي او هم نرينه او ښځاځه له دري سره ګډون لري ، لکه بادپاره (بريان) ښايسته ــ ساده ــ پياده ــ شهزاده مليده ، کليه ، غوره ، بډه ، .... يوالي ډيان پيرله مخې .

۱ــ زاډوه بيوالي پاي ښځينه او ښځې يا کپاي نرينه نوموونه چې په زورکۍ نه پيرګري کيږي لکه : يه موږ ! يه تروږ ! يه خوږ ! يه ورور ! يه پلار !

۲ــ ځوي غبرګغږ ــ پاي نوموونه لکه : يه زويه ! يه پرهنډويه ! يه ساتندويه ! لويه ! سويــــه !

۳ــ زي غبرګغږ ــ پاي نوموونه لکه : يه بريه ! يه خويه !

د نوموونو څلورګونې ډلــــې :

لومړي ــ څيز نوم (اسم) :

څيز نوم چې د ويز (غږعنصر) ژپوهانو (اسم) بولي ، يو داسې نوم دی چې نيغ په نيغه د يوه څيز يا ښکارندې (پديدې) نوموونه (نامګذاري) او څرګندونه کوي او د اورو سته ډولونه لري :

۱ــ ځانوم (ذات اسم) : چې په يوه ننګيرېدونکي (حس کېدونکي) اړه لري ، يا په بله وينا داسې يو څيز نوموي چې زموږ په حواسو حس کېدای شي ، لکه ډبره ، لرګی ، اوبه ، هوا او داسې نور .

۲ــ مانا نوم (مانا اسم) چې په يوه نه ننګيرېدونکي (غير محسوس) څيز يا په بله وينا په يوې ښکارندې (پديدې) پورې اړه لري او هغه نوموي ، لکه ښايست ، رښتيا ،

روغتیا ، هیله ، ننګ ، پت ، میړانه ، پیاوړیتوب ، رخه (کینه) ، خونبی ، خوز (درد) ، ویر ، زغم ، اندیښنه ، لوبی ، درناوي ، سپکاوي ، ښیګڼه ، بدي ....

٣ـ ځانګړنوم (خاص اسم): چې یو ځانګړي شیز ، پدیدې ، وګړي یا ځاي نوموي ، لکه پښتو ژبه ، پښتو نواله ، خوازك ، زرمینه ، ننګرهار ، کندهار ، پکتیا ، هند ، ایران ....

٤ـ ټولنوم (عام اسم) . داسې شیز یا ښکارنده نوموي چې ځانګړي او خاص نه وي بلکه ډولونه او ځیلونه ولري . لکه ونه ، هلك ، نجلی ، هیواد ، څاروي ، وګړي ، اولس ، تړون ، ژمنه ....

٥ـ نوز نوم (جنس اسم): چې په یوه شمیرید ونکی شیز (جنس) اړه لري . لکه : زر ـ اوبه ـ اوسپنه ـ اور ...

٦ـ غونډنوم (جمع اسم) : چې یوه ډله او غونډه نوموي . لکه : ټولی ، ټولګی ، ګوند ، ټبر ، ګورم (پاده) ، رمه ......

٦ـ انګینوم (صوت اسم) : چې د طبیعی یا صنوعی اوازونو انګی یا انګازه (پژواك) نوموي . لکه : درز . دروز . درزي . درزا . درزهار . ګرب . ګروب . ګړبی . ګړبا . ګړبهار . ترپ . تروپ .....

دویم ـ ستاینوم :

ستاینوم (صفت) چې په خپلواك ډول څه نه نوموي بلکی دیو څه څرنګوالی نوموي یا په بله وینا یو ستاینوم په یوه شیز نوم اړه لري او دهغه څرنګوالی ښیی ، لکه تود ، سوړ ، غټ ، ووړ ، تور ، سور ، ښکلی ، ښایسته ، غښتلی ، کمزوري ، روغ ، ناروغ .....

په پښتو کی ستاینوم دلوړتیاد پوړونو یا دلزوالی ، ډیروالی ، سستوالی او تونډوالی بیلا بیلی ښکاره دریګونی درجی نلري لکه په دري ژبه کی په ـ بهتر ـ بهترین یا بزرگ بزرگتر بزرگترین

له دې کبله یې پښتو ستاینوم د ویپکو (اداتو) په ملتیا خپل پوړونه یا درجې او طبقې ښکاره کوي لکه ښه — ډیر ښه — لاډیر ښه یا سپین — ډیر سپین — خورا سپین — تر ټولو سپین — زښت زیات سپین او داسې نور.

د ستاینوم ډولونه :

ستاینوم په دوه ډوله دي، لنډ او لر.

لنډ ستاینوم هغه دي چې تر څیز نوم د مخه او ور سره جوخت راځي او لنډه په لنډه یې ستایي لکه توره ډډه، روغ سړی، ښکلې نجلۍ .....

لر ستاینوم هغه دي چې تر څیز نوم وروسته راځي او له کړوالي برخې (مسند) سره پیوستون لري. که څه هم هماغه څیز نوم ستایي. لکه : ډډه توره ده — سړی روغ دی — نجلۍ ښکلې ده ......

لر ستاینوم زیاتره د کړول (قید) په توګه هم کارول کیږي لکه هلک پلی راغی — اسمان په ستورو (ښه) ښکاري — پلوشه (ښکلې) پرېښي — زه کورته (ډیر) ځم .....

د ستاینوم او ستایلي (صفت او موصوف) ګردانې سمون :

په پښتو کې ستاینوم (لنډ یا لر) او ستایلي یا هغه څیز نوم چې ستایل کیږي. د نوم اوړون د د روګونو اړخو (نوزي — ګڼې — پیر) له پلوه سره زیاتره سمون لري لکه : ړوند غل — ړنده غله — ړانده غله — ړندې غلې — د ړانده غله — د ړندې غلې — د ړندو غلو ....

یا په نابشپړ ډول او یا ازبرلیزه دیوه یا دوو اړخوله پلوه : لکه : لوی غل — لویه غله — لوی غله — لوی غلې — د لوی غله — د لویې غلې یا سپین غل — سپینه غله — سپین غله — سپینې غلې — د سپین غله د سپینې غلې — د سپینو غلو ....

په دې توګه ځینې ستاینومونه له خپلو اړوندو (مربوطو) څیز نوموونو (ستایلیو) سره بشپړ اوړون موي او ځینې نه ګړي. لکه په دې لښتیلیک (جدول) کې :

شین خټکــــــی	ــ شنه خټکــــــي
د شنه خټکــــــي	ــ د شنو خټکیــــــو
شنه هندوانــــــه	ــ شنې هندوانــــــې
د شنې هندوانــــــې	ــ د شنو هندوانــــــو

د ریم ــ شمیرنوم (عدد اسم) :

شمیرنوم هم د ستاینوم غوندې په خپلوا ك ډول کومه نومونه نه کوي بلکي په یوه څیز نوم اړه لري ۰ خــــو د ستاینوم غوندې یې څرنګوالی نه چې څومره والی او پوړ والی (تدرج) ښیی ۰ لکه یوــ دوه ــ درې ۰۰۰۰ یا لومړي ــ د ویم ــ د ریم ۰۰۰۰

د شمیرنوم او شمیرلی (عدد او معدود) ګردانی سمون :

په پښتو کی شمیرنوم لکه لنډ ستاینوم تر خپل اړوند څیز نوم (شمیرلی) د مخه راځی او ډیر لږ ورسره اوړون مومی ۰ هغه دا چې لومړي دوه (یو) او (دوه) ورسره د نوزي او پیرله مخی ګردانیږي او نور پورته ورسره یواځی د پیرله مخی ، لکه په دې لښتیلیك کی :

یوغل	یوه غله
د یوه غله	د یوې غلې
د وه غله	د وې غلې
د د وو غلو	د د وو غلو
د رې غله	د رې غلې
د د رو غلو	د د رو غلو
څلورغله	څلورغلې
د څلورو غلو	د څلورو غلو
۰۰۰۰۰۰	۰۰۰۰۰۰۰

د شمیرنوم ډولونه :

شمیر نوم د اوروسته ډولونه لري :

۱ــ آر شمیر (اصلی عدد) لکه یو ــ دوه ــ دري ــ څلور .....

۲ــ پوړ شمیر (وصفی یا رتبی عدد) چې د خپل شمیرلی پوړ اورتبه ښیی لکه :

لومړي ــ دویم ــ دریم ــ څلورم .....

۳ــ وور شیمر (کسري عدد) ، چې داړوند څیز نوم (شمیرلی) ماتوالی اوبرخه والی ښیی لکه دویمه ــ دریمه ــ څلورمه ......

لس (دهه) ، سلی (سده) زری (هزاره) یوډول ګروپی شمیر نومونه دي .

٤ــ ویش شمیر (انقسامی عدد) چې داړوند څیز نومونو ویشنه او جوړه جوړه کونه څرګندوي اوبه دي توګه دوور شمیر غوندي له ډیرګړیو (جمع) څیز نومونو سره اړه لري نه له یوه سره . لکه : یو یو ــ دوه دوه ــ دري دري ــ څلور څلور ....

۱ــ اټکل شمیر (تخمینی عدد) چې دیوه څیز نوم (معدود) پرځاي غبرګ غبرګ څیزنومونه ښیی . اوبوهم نه ټاکي لکه : یو دوه ــ یو دري ــ دوه دري ــ دري څلور ــ یولس ــ لس شل ــ شل دیرش ــ پنځوس شپیته ..... په دي توګه اړوند څیز نومونه د دواړو شمیر نومونو ترمنځ اټکلیداي اړ بمیرداي (انتخابیداي) شي ، یا لومړي یا دویم اویا دهغو ترمنځ .

دغه جوړه جوړه شمېر نومونه زیاتره پرله پسی وي لکه یو دوه ــ دوه دري اویاپه یوه ټاکلی اوعام منلی واټن سره لکه اته ــ لس یا لس شل مګر ښایی هیڅ یو پېښتون دوه څلور ــ دري پنځه ــ څلور شپږ .... ونه وایی . البته (یو) له هرپورته شمیر سره جوړه کیداي شي خو هغه هم زیاتره دپیژند (حرف تعریف) په توګه چې اټکل ورسره په خرمه (ضمنی) ډول هم څرګندیږي .

څلورم ـ نومځــــري (ضمير)

نومځري هغه وى دي چې د يوه نوم ښكارندوى كوي ، د هغه پرځاي راځــــى او يا يى ملگرتيا كوي ، او د همدغې دندې له مخې د نومونو په ډله كې ځاي نيسى . له نورو نومونو (څيز نوم ـ ستاينوم او شميرنوم) سره د نومځري توپير دادي چې دا پرد رو گونو اړخو (نوزي ـ گڼى اوپير) سرپيره د وگړي (لومړي ـ دويم او دريم) له مخې هم اوړون مومى . (وينفريد اولريش د ژبپوهنى قاموس ۲۴۹) .

د نومځرو ډولونه : نومځري د جولى او چارله مخې پردې وروستيو ډلواو ولــو ويشـــــل كيږي .

۱ ـ ځانگړ نومځري (شخصى ضميرونه) ، چې دوه ډوله دي : غبنتلي ـ كمزوري ؛

الف ـ غبنتلي (منفصل) :

گڼه / وگړي	يوگـــړي (مفرد)		ډيرگړی (جمع)
۱	اريــــر: زه	اوبنتن پيـــر: مـــا	مـــوږ
۲	تـــه	تـــا	تاســـى
۳ نرينه	دي هغـه	ده هغـــــه	دوي هغـــوي
۳ ښځينه	دا هغـه	دې هغې	

ب ـ كمزوري (متصل) :

گڼـــه / وگـــړي	يوگـــړي	ډيرگـــړی
۱	مې	مو
۲	دې	مو
۳	يـــې	يـــې

۲ـ تولنومځري (ملکي يا اضافي ضميرونه) چې تول (ملکيت) اوارونددي (متعلقيت) ښيي، دغه نومځري هم پرغښتليو او کمزوريوويشل کيږي:

الف ـ غښتلي (منفصل):

وګړي / ګڼه		يوګړي	ډيرګړي
۱		زما	زموږ
۲		ستا	ستاسې
۳	نرينه	د ده	د دوي
	ښځينه	د دې	

کمزوري تولنومځري کټ مټ د ځانګړيو کمزورو هغوغونډي دي لکه :

وګړي / ګڼه	يوګړي	ډيرګړي
۱	مې	مو
۲	دې	مو
۳	يې	يې

۳ـ نغوتنومځري (اشاري ضميرونه) : هغه نومځري چې وګړو يا شيزونوته نغوته (اشاره) کوي او د هغو د نومونو ځاي نيسي او يا ورسره لکه ستاينوم ملګرتيا کوي نغوتنومځري د نوږي ـ ګڼې ـ پيرـ او يوا ځې د دريم وګړي اوواټن (فاصلې) له مخې اوړون لري:

وګړي / ګڼه		يوګړي اړيېر	يوګړي اونښتي پيېر	ډيرګړي اړيېر	ډيرګړي اونښتي پيېر
۱	لنډ	دغه	دغه ه	دغه	دغو
		دغه	دغې		
	لر	هغه	هغه ه	هغه	هغو
		هغه	هغې		
	لالر	هوغه	هوغه ه	هوغه	هوغو
		هوغه	هوغې		

٤ــ پوښتنو مخري (استفهامي ضميرونه) : چي د يوې پوښتني لپاره په کار لويږي او د وګړي ــ شيز ــ مهال ــ تون ــ څرنګوالي او څومره والي له مخي ټول ټول دي ۰ اوړون يي زياتره يواځي د پيرله پلوه لږ و ډيرترسره کيږي :

ــ څوك (چا) ، چي د وګړي يا وګړو لپاره راځي چي څه يي کړي ياپي کوي ياپري څه شوي يا کيږي ۰ اوزياتره د پوښتني غونډلو (جملو) په سرکي راځي ۰

څوك راغي ــ راغله يا راغلل؟ ۰ څوك ځي؟ ــ چا ووېل؟ ــ څوك وايي؟ ــ څوك يي ووهه؟ ــ ووهله يا ووهل؟ ــ څوك ووهل شو؟ ــ ووهل شوه؟ ــ ووهل شول يا ووهل شوي؟ ــ څوك وهل کيږي؟ څوك داړيك اوناټــك نومخري په توګه هم کارول کيږي او همدارنګه د پيژند (حرف تعريف) کار هم ورکوي لکه څوك مي وليد ــ نن يو څوك راځي ۰

ــ کوم : د وګړي يا وګړو ــ شيز يا شيزونو لپاره راځي چي د نورو پوښتنو مخرو پرخلاف پرپيرسرپيره د نوزي له پلوه هم اوړون لري ۰ لکه په دي وروستيوغونډلوکي :

کوم سړي راغی؟ کوم سړي ووېل؟ د کوم سړي رنګ زيړ وي؟ کومه ښځه راغلي؟ کومي ښځي ووېل؟ دکومي ښځي رنګ زيړ وي؟ کومو ښځو ــ سړيو ووېل؟ د کومو ښځو ــ سړيو رنګونه زيړ وي؟

ــ کله : چي مهال پوښتي او هيڅ اوړون نلري ، لکه کله به راشي؟

ــ چيري : چي تون (ځاي) پوښتي او هيڅ اوړون نلري ۰ لکه چيري ځي؟

ــ څنګه : چي د يوه وګړي يا شيز يا يوه چار څرنګوالي پوښتي ، لکه څنګه راغي؟ څنګه راغله؟ څنګه کار دي وکړ؟ څنګه ننجلۍ دي وليده؟ څنګه ليکی دي ويره؟

ــ څه : چي زياتره د يوه شيز يا وګړي پيژندنه پوښتي اوزياتره په ډيرګړي او نوز نوم (جنس اسم) پوري اړه لري؛ بي له دي چي خپله ښه واړوي ، لکه : داڅه دي؟ داڅه دي؟ څه دي وکړل؟ څه دي راوړل؟ څه يي نرخ دي؟ څه يي ارزښت دي ۰

ــ څو : چي د وګړو يا شيزونو شمير پوښتي نوځکه تل ډيرګړي دي لکه :

څو نجوني راغلي؟ څو هلکان راغلل؟ څوختونه دي ويرل؟ البته څو په يوه بله مانا يو کړول (قيد)

هم نښي لکه څرنګه چې رانغم چې څېنې ليکوال په نامه د ول دعلتيه ويمکي په توګه

هم کاروي لکه د رمل وڅوره ... زوغ شبهه ...

... شوره ؛ چې زياتره د څيزونو وګړو شمير او د جنس (نوزي) او همدا راز

د څرنګوالي او کيفيت ... (...) ... لکه :

څومره ... خومره غنم دي ر پلورل ؟

څومره ... ؟ څومره ... ؟

ولي : چې ... چار ... (عامل او سبب) ويوښتي ، لکه :

ولي ... ؟ ولې ... ؟

... (... ياقيدي) نوموري هغه نومځري دي چې له اره ديوه کړ

او چار سره ... په ... (...) د ځانګړنو مځرو کار هم ورکوي او

هغه هم ... (...) ... حالت ...

... لوي ... ديوه وګړي (يوګړي يا ډېرګړي) بنکارند ويي

کـــــــــړي :

ګڼه / وګړي	يوګړي	ډېرګړي
۱	را	را
۲	در	در
۳	ور	ور

... (ادات ضميرونه) ، چې له ... کو (اداتو) څخه منځ ته راغي

او دا ... ادات له چارو ... سره ... نو مځرو ... نيسي :

... (د ران) چې ... په ... لکه :

باغ ... (خوشال) ،

— پس (بسویش) چی نوم په تونپیرکی ښیی لکه د زهرو گولی خورم پس (ملنگ جان) ۰

— باندې (بالایش) چی یو نوم په تون او هغه هم په پورتنی (استعلایی) پیرکس ښیــــــی لکــــه :

گل وای غوړیدلی باندی ملاست وایږه اوته (خوشال) ۰

— پري (بران) هم (باندې) ورته د نده پرځای کوي لکه :

ماپري سرکیښود — پیس می پرې پوردي ۰

— پـی (بـه‌ان) چی (په اوپرې) هم ویل کیږي په یوه لوښنی (الی) پیرکس دیوه نوم ځای نیسی اوله (پري) سره یی په دي غونډه لوکی توپیر کولای شو :

زه په پښتو لیکه کوم (من به پښتو می نویسم) زه پرپښتو لیکه کوم (من د رباره پښتومی نویسم) ۰

ترې (ازان) چی یونوم په وتون او تون او هغه هم په کښتنی (استفلایــی) پیرکی ښیی ۰لکه :

ماترې واخیست — ماترې لاندې کیښود ځینی له دغوویپکوموځروسره پلوي نومځرې هم مختیاري کیدای شی لکه را — د رــ وریاندې ۰۰۰ مگر دوریکی پرځای (ورکی) ویل کیږي لکــه له نورو اویسریلوسره (ورلاندې — ورته — ورسره — ورځخه ۰۰۰) ۰

۷— اړیک نومځری (ارتباطی ضمیرونه) : چی په یوه غونډه کی د تیري یا راتلونکی غونډه لی له یوه څیز نوم یا نومځري سره راز راز اړیکی ټینگوي ۰ په دې توگه په دې وروسته ډولـــو ویشل کیــــږي :

— چـی : لکه خوازک چی د ببرک وروردي ؛ ننگرهارته ولاړ — ننگرهار یوسیمه ده چی توده هوالري — زموږ هیواد په داسی ځای کی پروت دي چی سمندرته لارنلري — هغه کال ډ یرودان وي چی ډیر اورښت ولري — زموږ هیواد د ومره ښکلی دي چی له سویس سره سیالی کوي ۰ زه د ومره کتابونه لرم چی له شمیره وتلی دي ۰

— چی یـــــی : یوترښتی (ترکیبی) یاد وه توکیزه (دوه جزیی) اړیک نومځري دي ۰ چی هم په تیره غونډه لی کی له راغلی نوم سره اړیکی ټینگوي او هم د هغه کړندوالـــی (فاعلیت) ، کړیوالی (مفعولیت) او تولوالی (ملکیت یا اضافت) څرگندوي ۰ لکه : پکتیا یوه داسی سیمه ده چی یی ځنگلونه نوم لري — سنگ ځکه بریالی شو چی یی زیار ایستلی و — ماشوم هله په ژړا شو چی یی مور وواهه ۰ په دې وروستی غبرگه غونډه لی (مضاعفـــه جمله) کی

(چې يـې)هم له (هله) سره اړيکې ښيي اوهم دماشوم کړيوالی (مفعوليت) او تولوالی (ملکيت له مور سره)•

څوک چـې : يوبل ترښتی اړيک نومحري دي چې يوازې هغه وخت د څرمه غونډلې (فرعي جملې) په سرکې راځي چې ترا ري دمخه وي نوځکه وايو (څوک چې خوب کړي نري کټـې به زيږوي) نه داچې ووايو :(نر کټـې به زيږوي څوک چې خوب کـوي يالکه اجمل خټک چې وايي : (ځي • هغه خواروته جنت وګټـو څوک چې له موره دوزخيان پيدادي)• ددي ګرامري ښه. داسې منيداي شي چې دومه(څرمه غونډه له) پړلومړي (اري غږنډلې) دمخه کړو(څوک چې له موره دوزخيان پيدادي - ځي هغه خواروته جنت وګټـو) او ياداچې څوک تري وغور ځوو • په دې ډول دتورو ژبو لکه اروپايي هغو په پيښود نا سمو • غونډه لو بيلګي دادي :

غرزي کند هار ته ولاړ څوک چې هلته خپلوان ګوري پتنګ په لومړي ګڼه بريالی شو چاچې زيار ايستلی و••••••

سم يــــې : غرزي کند هار ته ولاړ چې هلته خپلوان وګوري- پتنګ په لومړي ګڼـــه بريالی شو چې يې زيار ايستلی و••••••••

همداراز چيري چې - کله چې - کوم چې - څـه چې - څوچې - څومره چې ••

پرواخله • لکه په دې غونډه لوکې : غرزي کند هار ته ولاړ چيري چې خپلوان ګوري - زه هيواد ته هغه وخت را ستون شوم کله چې ډيره وچوبه وه - مايو ليکانی واخيست کوم چې ښه کارکوي- کارښه دي څه چې نيکمرغی راوړي- پنځه کتابه مې واخيستل څوچې زما په کاروو- دومره غنم مې وبيرل څومره چې مې پيرلای شول •••••

سمـې بڼـې يې : غرزی کند هار ته ولاړ چې خپلوان وګوري- زه هيواد ته هغه وخت راستون شوم چې ډيره وچوبه وه -- مايو ليکانی واخيست چې ښه کار کوي- کارښه دي چې نيکمرغی راوړي- پنځه کتابه مې واخيستل چې زما په کاروو•••••

PROPERTY OF ACKU 5596

په دې ډول پښتو له آره همداسې (چې) هم داړيك وييكې په توګه کاروي اوهم يې داړيکـــــــنومځري په توګه او د پورتنيو پوښتنو ځرو (څوك ـ کله ـ چيرې ٠٠٠٠) ملګرې کول ورسره ښې ځايه دي په تيره په آره غونډه له اړياپه داسې ځرمه کې چې تر آرې وروسته راځي ٠ البته څوك ـ کله چيرې اونور پوښتنو ځرې چې له (چې) سره ملګرې کيږي يوازې د اړيکو ييکو (ارتباطي اداتو) چار ځرګندوي نه داړيکو ځرو ؛ لکه : څه چې کړې هغه به ريبـــــــې ـ څنګه غرهسې يې کړيوړي ـ هله به خبرشې چې تاروجبې له ورشې ـ چيرې دي ښـــــــه هلته دي شپـــــه ! څومره چې ګوره اچوې هومره خوزيږي ٠٠٠٠٠

٨ـ غبرګون نومځرې يا انعکاسي ضميرونه :

هغه نومځرې دي چې ډيره چار هم کړند اوسې او هم کړې په پښتو کې داراز نومځرې نومونو ياځانګړنو ځروسره د ((ځان)) په ملګرې کولو لاسته راځي چې زياتره په همدې يوه يوګړې (مفرده) بڼه هرځای را تلاي شي لکه : ځلمي ځان ژوبل کړ ـ ځلمي او زمري ځان (ځانونه) ژوبل کړل هغه ځان ژوبل کړ ـ هغوي ځان (ځانونه) ژوبل کړل ٠ ډيوره ځرګندتيـــــا لپاره له ځان سره (خپل) هم ملتيا کوي لکه هغوي خپل ځان وژغوره ٠

٩ـ ناټيکلنو ځرې (ابهامي ضميرونه) : چې ډيوه ناجوت (نامعين) وګړي ياڅيز لپاره راځي او ډيلا بيلو ډندو له مخې په لاندې ډول دي :

ـ هر : چې زياتره په يوګړي اړه لري او دنوزي او پيرله مخې لږ ډيراوړون لري ؛ لکه هر ځلمي ـ هره پيغله ـ هرڅت (کميس) ـ هره ګنډه (کرتي) ـ هري پيغلې ٠ په اوښتې ډيرګړي کې لکه هرو پنځوشاګردانو ته يو يو ليکې ورسيد ٠ يا زه په هرو دوو اوونيو کې سينمـــــاته ځم ٠

ـ بـــــــل : يوازې د شميرېدونکې يوګړي نوپېرڅای راځي او يا ورسره دنځونټر ځرې غوندې ملګرتيا کوي ٠ لکه : بل ځلمي ـ بله پيغله ـ د بل ځلمي د بلې پيغلې ٠٠٠ :

ــ نو ر : یزاځی د ډیرگړي یا نوز نوم(جنس اسم)ښکارندوین اوملگري کوي اوځه ناځه اوړ ون لري لکه نور هلکان ــ نوری پیغلی ــ نورغنم ــ نوره وسپنه ــ نوره خاوره ــ نورې اوبه ــ دنورو هلکانو ــ دنورو پیغلوــ د نورو غنمو ــ دنورې وسپنې ــ دنورې خاورې ــ دنورو خاورو ــ دنورو اوبو ......

ــ ټــول : دنورغوندې په ډیر گړي او نوز نوم اړه لري اوله لویدیزي پښتو پرته هماغسې اوړ ون موي لکه ټول هلکان ــ ټولی نجونی ــ ټول تیل ــ ټوله خاوره ــ ټولې خاورې ــ ټولو هلکانو ــ د ټولو هلکانو ــ ټولو نجونو ــ د ټولو نجونو ــ د ټولو تیلــو ــ د ټولې خاورې ــ د ټولو خاورو ......

ــ واړ ه : دټول همانیزدي خوواځی د نوزي اوپیره مخی اوړ ون او اوښتون موي ــ لکه واړ ه هلکان ــ واړي نجونی ــ واړ و هلکانو ــ واړ و نجونو ــ واړ ه خاوره ــ واړې خاورې ــ دواړې خاورې ــ دواړ وخاورو ......

ــ دوا ړه : ټل دوگړي (تثنیــه) دي او د (واړ ه)غوندې په نوزي (جنس) اوپیر اړه نلري لکه : دواړه هلکان ــ دواړې نجونی ــ دواړ و هلکانو ــ دواړ و نجونو ..

ــ څه : پر... بروښتنو مخري سربیره یو ناوړیدونی ناټیك نومخري هم دي لکه : څه می ولیدل څه نشته ــ چیی نه کار هلته څه کار . څه له نورو ناټیك نو مخرو او ځینو ستاینو مونو سره ترښتی ناټیك نومخري جوړ وي لکه : بل څه ــ نور څه ــ هرڅه ــ هیڅه (هیڅ څه) لږ څه ــ ډیر څه .. همدارنگه له پیژند (یو) سره لکه یو څــــه .

ــ څــڅ : هم پربوښتنو مخري سربیره یو ناوړ یدونی ناټیك نومخري دي لکه : څو پیسی می په کار دي ــ څو میاشتی په کار دي چی زه کتاب ولیکم . څو له پیژنداو ځینو ناټیك نومخروسره ترښتی ناټیك نومخري جوړ وي لکه : یو څو ــ هرڅو ــ هیڅو(هیڅ څه)...

ــ ځینی : د ډیرگړي او نوز نوم ښکارندوین کوي لکه ځینی شاگردان ځینی شاگردانی ځینو شاگردانو .....

– هيڅ : ديوه ناټاکلی څيزيا څيزونو نشتوالی ښيی او کوم اوړون نلري . لکه :

هيڅ هلك ، هيڅ هلکان ، هيڅ نجلی ، هيڅ نجونی – هيڅ هلکانو – هيڅ نجونو هيڅ غنم – هيڅ غنمو ..... له پيژند (يو) او زياترو ناټيك نومځرو سره د لوړي تـوك په توګه تړښتی (ترکيبی) ناټيك نومځري منځ ته راوړي لکه : هيڅ يو – هيڅه – هيڅو – هيڅو مره – هيڅ کوم – هيڅ بل – هيڅ نور – هيڅوك – هيڅکله – هيڅيري (هيڅ چيري) هيڅ دواړه يا په دري توکيز تړنګ (دري جزئی ترکيب) کی لکه : هيڅ کوم يو – هيڅ کوم څوك يا په څلورو توکيز تړنګ کی لکه : هيڅ کوم يونيم – هيڅ کوم يو بل .....

– څوك : هم پرېوښتو مځري (او اړيکنو مځري) سربيره يوناټيك نومځـري هم دي چی هم د څيزنوم ښکارندويی کوي او هم د پيژند (آرتيکل) لکه : نن څوك راځی – څوك يوکار کوي ، څوك بل – چامی ليکانی واخيست – څوك سړي راروان دي – څوك ښځه می وليده . په نورو پيروڼو کی لکه : چاته می ليکی ورکړي دي خواوس می هيردي – له چانه می ليکی واخيست بيامی هيرشو – خپل کار په چانه کوم – ځلمی له چاسره پرېوځلارنه ځی زه څوك نه وهم – پرچا کارنلرم – څوك چی بل چاته کوهی کيني . پخپله پکی لويږي – له ما سره د چاڅه کار دي په شپه کی چاته ورتګ ښه نه دي ......

له پيژند (يو) او ځينو نورو ناټيك نو مځرو سره هم تړښتی (ترکيبی) ناټيـــك نومځري جوړ وي . لکه : يوڅوك – هرڅوك – هيڅوك – بل څوك – نور څوك – څوك سړي – کوم څوك – کوم چا يا له پيښنو ريان چی وايی : چا ظالم می ژبه پريکړه .

– سړی : پرڅيزنوم او ستاينوم سربيره يوناټيك نومځري هم دي او تر بلن پيره پوري په ټولو پيرووکی راځی لکه سړی دي څه کوي چی څوك تري ونه څوريږي . بايـد له سړي له لاسه داسی کارونه شی چی وروسته پري پښيمان شی – دلته د سړي هره هيله نه پرځاي کيږي سړي دي سړي ته ګوري او بيادي ورسره همغسی چلند کوي . لوړي دي سړی سړي ته پورنه ورکوي او که ورنی کړ بيادي تري ژرنه غواړي – وسړيه ستاله چاسره څــه کار ! له پيژند (يو) او ځينی نورو ناټيك نو مځرو سره تړنګونه (ترکيبونه) هم

جوړ وي لکه يو سړی د يخوالي را د زوم — يوه سړي ته رازويل په کار نه دي — هرسړي (خو هر سړي پيدا دي خپل خپل کار لره که — خوشحال) — هيڅ سړي نه بنکاري — سړي سړي سم کار نه پرېږدي — له خوازك پرته بل سړي مي ونه ليد — څوك سړي زموږ خوا ته راځي — کوم سړي چې د سړي نه خونبيږي شه په کار چې پرمنه ورځي — څه سړي غږيږي را د زوم . يونيم سړی خپل زوند ته پام نلري — کوم نيم سړي مي ونه ليد — کوم يونيم سړي راننځي .....

— پلان او بيستانی هم له عربي او دري (فلان — بستان) څخه پښتو شوي ناتيك نومځري بنکاري ......

— ګډ تولنومځـــــري (اشتراکي ضمير): پښتو دري غونډي له ((خپل)) څخه پرته وروپلاو سوبيره د يوه تولنومځري (ملکي ضمير) کار هم اخلي او داچې د دروواړو وګړو لپاره راځي نو ګډ تولنومځري (مشترك ملکي ضمير) بلل يې غوره دي . لکه: شپون خپلـه رمه پيايي، رمه خپل شپانه پيژني — هرڅوك په خپل کار کې خوښ دي — ځينې خلك خپل ځان نه پيژني — محلمي په خپله خونه کې کار کوي — خوازك خپل کورته ناوخته ځي — خوازك له خپل ورور سره بنازه ولاړ — بريا له خپلو ملګرو څخه مننه وکړه — بريالی له خپلـس خوښۍ څخه نه اوړي . ځينې پښيله ګناه نه پوهيږي خپل زيېږند او ناتيك ستاينوم په توګه هم کارول کيږي لکه خپله لاسه ګله الامه! چې بيا هم يکی د تول (ملکيت) جاج (مفهوم) پروت دي . په تکراري ډول لکه په مخني بيت کې (هو هر سړي پيدا دي خپل خپل کار لره که) خپل د نوزي او بيارله مخي بشپړ اوړون لري . خودګـنيس له مخې نه . له ((ځان)) سره غبرګون نومځري جوړ وي لکه خپل ځان بې زوبل کړ او له دي سره سره همغه تولوالی او بيژندوالی ..... هم څرګند وي .

— تول — ځانګړي نومځري (شخصي — ملکي ضميرونه) چې د غښتلـيو تولنو مځرو او غښتليو ځانګړو يا نغوتنو مځرو په پرځای کيږو سره جوړيږي اوپه دي توګه پريوموخت

د دوو دوونو مځرږ دنده پرځای کوي له همدې کبله دوه اړخیزاو ړون لري او هغه هم د نوزي ـ گڼه ـ پیراو وگړیله مخې ځانگړي ورسره یواځې په دریم وگړي اړه لري . لکه :

۱ـ تول نومځري+ يوگړي ځانگړ نومځري :

گڼه / وگړي	يوگړي	ډيرگړي
۱	هغه هغه زما دي ـ هغه (ده ـ هغه) زما دا ـ هغه (دې ـ هغې)	زموږ دي ـ هغه (ده ـ هغه) زموږ دا ـ هغه (دې ـ هغې)
۲	ستا دي ـ هغه (ده ـ هغه) ستا دا ـ هغه (دې ـ هغې)	ستاس دي ـ هغه (ده ـ هغه) ستادا ـ هغه (دې ـ هغې)
۳	د ده دي ـ هغه (ده ـ هغه) د هغه دي ـ هغه (ده ـ هغه) د دې دا ـ هغه (ده ـ هغې) د دې هغه ـ هغه (ده ـ هغې)	د دوي دي ـ هغه (ده ـ هغه) د دوي دا ـ هغه (دې ـ هغې)

۲ـ تولنو مځري+ ډيرگړي ځانگړ نومځري :

گڼه / وگړي	يوگړي	ډيرگړي
۱	زما دوي ـ هغوي	زموږ دوي ـ هغوي
۲	ستا دوي ـ هغوي	ستاس دوي ـ هغوي
۳	د ده دوي ـ هغوي د هغه دوي ـ هغوي د دې دوي ـ هغوي د هغې دوي ـ هغوي	د دوي دوي ـ هغوي

۳ـ تولنو مخري لاته یوګړي نغرتنو مخري ؛

وګړي / ګڼه	یوګړي	ډیرګړي
۱	زما دغه ـ دغه ـ دغی	زموږ دغه ـ [illegible] ـ دغه ـ دغی
۲	ستا دغه ـ دغه ـ دغی	ستاسی دغه ـ دغه ـ دغی
۳	د ده دغه ـ دغه ـ دغی د هغه دغه ـ دغه ـ دغی د دې دغه ـ دغه ـ دغی د هغې دغه ـ دغه ـ دغی	د دوي دغه ـ دغه ـ دغی

٤ـ تولنومخري له ډیرګړي نغرتنومخري ؛

وګړي / ګڼه	یوګړي	ډیرګړي
۱	زما هغه ـ هغه ـ هغی	زموږ هغه ـ هغه ـ هغی
۲	ستا هغه ـ هغه ـ هغی	ستاسی هغه ـ هغه ـ هغی
۳	د ده هغه ـ هغه ـ هغی د هغه هغه ـ هغه ـ هغی د دې هغه ـ هغه ـ هغی د هغې هغه ـ هغه ـ هغی	د دوي هغه ـ هغه ـ هغی

۵ـ تولنو مخري لالریوګړي نغرتنو مخري ؛

وګړي / ګڼه	یوګړي	ډیرګړي
۱	زما هوغه ـ هوغه ـ هوغی	زموږ هوغه ـ هوغه ـ هوغی
۲	ستا هوغه ـ هوغه ـ هوغی	ستاسی هوغه ـ هوغه ـ هوغی
۳	د ده ״ ״ ״ ״ د هغه ״ ״ ״ ״ د دې ״ ״ ״ ״ د هغې ״ ״ ״ ״	

او همداسی د دویم توك پېرګړي هم اوړون مومی . دادي د تول ــ ځانګړنومځرو د پوره ځرګندتیا لپاره څو بېلګيزي غونډلی (جملی) وړاندي کوو :

ایمل : زما زوي ناروغ دي .

خوشال : زما هغه هم ناروغ دي .

ایمل : زمازوي ښوونځی ته ځی .

خوشال : زمادي لا کوچنی دي .

ایمل : زما وراره ښوونځی ووایه .

خوشال: زما هغه هم ووایه .

ایمل : زما ماما اس واخیست.

خوشال : زما هغه هم واخیست .

ایمل : زماورور ځلمی ته یو لیکی ورکړ .

خوشال: زماده هم هغه ته یو لیکی ورکړ ــ زما هغه هم هغه ته یولیکی ورکړ .

ایمل : زمالیکی ځلمی واخیست.

خوشال : زما دازمري واخیست ــ زما هغه زمري واخیست ــ زما دا هم ده واخیست ــ
زما هغه هم هغه واخیست .

ایمل : زما ورځنی ګټــه سل افغانی ده .

خوشال : زمادادوه سوه افغانی ده .

ایمل : د ده کور لري دي .

خوشال: د ده دا نږدي دي ــ د ده هغه هم لري دي .

ایمل : دهغه مور ناروغه ده .

خوشال : دهغه هغه هم ناروغه ده ــ دهغی هغه هم ناروغه ده .

ایمل : ددې ورور زما ټولګیوال دي .

خوشال : ستادي بیا زما ټولګیوال دي .

ایمل : زما مور و پلار مړه دي ۰

خوشال : ستا هغه ژوندي دي ۰

ایمل : زما مور و پلار کوم رسمي کار نه کاوه ۰

خوشال : زما هغوي هم نه کاوه (زما دوي هم نه کاوه) ۰

ایمل : زموږ کلی له ښاره لري دي ۰

خوشال : زموږ دا هم له ښاره لري دي ۰

ایمل : زموږ هغه د ومره لوی نه دي ۰

خوشال : زموږ د امستاسي له هغه څخه ډېر لوی دي ۰

ایمل : د دویم ټولګي شاګردانو کتابونه نه دي اخیستي ۰

خوشال : د لومړي ټولګي هغوي هم نه دي اخیستي ۰

ایمل : د دریم ټولګي شاګردانو خپل کتابونه بیرته ورکړي دي ۰

خوشال : د څلورم ټولګي هغوي خپل هغه بیرته نه دي ورکړي ۰

لومړي کړاوونه (تمرینونه)

۱ــ پښتو یا گرامر د ژبپوهنې کومه څانگه ده او له څه نه غږیږي ؟

۲ــ پښتو په د څه لپاره لوستل کیږي ؟

۳ــ پښتو په کومې څانگې را اخلي ؟

٤ــ غږ پوهه څه ته وایي ؟

٥ــ د ژبې لومړنې ساده توکونه کوم دي ؟

٦ــ د پښتو ارزښتناک غږونه یا اوازونه پرڅو ډلو ویشل کیږي ؟

۷ــ نیموا ک اوازونه څو دي او څنگه پیژندل کیږي ؟

۸ــ خج څه ته وایي او پرڅو ډوله دي ؟

۹ــ ایا خج په ماناکې ونجون (بدلون) راوړلای شي ؟

۱۰ــ د لاندې توتنه په غږیزه (فونیمیکه) ابیجس ولیکې او خجونه یې نښه کړې :

د اخو جوته او منلې خبره ده چې پښتو د پښتونخوا یوه بډایه او لرغونې ژبه ده چې د زرگونو کلونو په اوږدو کې پرې پوهول را پوهول شوي دي . ډیر پوهان او لیکوال پکې منځ ته راغلي دي . که څه هم ډیري تودې سړې یې لیدلي دي ، خو بیا هم دیوې غزنې ژبې په توگه کروړ ه پاتې شوې او په هر تورتم پسې یې رڼا راغلې ده . دا په ټینگه ویلای شو چې نن سبا پښتنې ټولنه راخوځیدلې ده او له دي خوځون سره به یې ژبه هم هر و مرو مخ پر وړ اندې د رومي .

دویم کړاوونــــــه

١ـ ګړ پوهه له څه نه غږیږي ؟

٢ـ ګړ پوهه لومړي پرکومو دوو څانګو ویشل کیږي ؟

٣ـ د اوړید ونو ګړ پنو څانګه کومې برخې را اخلي ؟

٤ـ نو مګړ پوهه له څه نه غږیږي ؟

٥ـ د نوم اوړون (اسمی ګردان) اړ خونه کوم دي ؟

٦ـ نومځري (ضمیر) د څو اړ خو له مخې اوړون مومي ؟

٧ـ نوم څه ته وایي او کومې څلور ډلې را اخلي ؟

٨ـ څیز نوم او ستاینوم سره څه توپیر لري ؟

٩ـ نومځري څه ته وایي او په پښتو کې پر څو ډ لو ویشل کیږي ؟

١٠ـ په لاندي ټوټــه کې هر ډول نوم پښــه کړ ي ، او ونوموئ :

بارک له ما څخه یو لیکی وغوښت ، خو ما تري وژغوره ، ځکه ټولګی یې را څخه بیل دي ، په ښوونځی کې د د ، د ادریم کال دي او زما د ادویم ، له یوه ټولګیوال سره یې هم چال چلند سم نه دي ، دي خورا چڼلګر دي او د یوه بل خبرېال ، د یوه خبره یوه ته وړي او د بل بل ته ، کله یې له یوه سره اخ وډب وي او کله یې له بل سره ، څوک تري ارام نه دي له هر چا سره چې یو ځل کښیني بیــا یې نوروته ویاراوید وایي ، د غله په غره کې ځاي نشتــه ، پرید بوټــی سپی هم متیازي نه کوي ، هر سړي ته په کار دي چې خپل کارته پام ولري او د بل په کار کې ځان ګډ نه کړ ي ، پښتیاران وایي :

د خواري کونډي زویه ــ خپلی روټــی ژویه !

دکړ ګړپوهه یا دفعل صـــرف (CONJUGATION)

په کړ ګړپوهه کی دکړ له ړاز ړاز بدلونو او اوړونو (ګردانونو) څخه خبري کیږي ،

کـــــــړ : هغه وی (لغت) دي چی د زمانی په چوکاټ کی دیو څه پیښیدنه څرګندوي ، داچی دکړ جاج (مفهوم) بی د زمانی له ملګرتیا نه پوهید ل کیږي نو ځکه کړ ته مهال وی (دزمانی لغت) هم وایی ،

کړنو مووئکـــــی :

په پښتو کی یو کړ په مصد ر(ناپاي) نومول کیږي له همدي کبله مصد رته کړنو مووئکی وایو ، په عربی کی یو کړ دخپل تیر مهال (ماضی) د دریم وګړي په یو ګړي ځیل (مفرده صیغه) یادیږي لکه ضرب – نصر ، پخوا په المانی او پارسی کی کړنو مووئکی پخپله دکړ ریښه وه خو اوس په دغو دواړو ژبو کی دپښتو غوندي یو کړ دخپل مصد ر په نامه نومول کیږي لکه : تون – کردن – کول ...... د مصد ر جوړښت او ونډه : په پښتو کی یو مصد ر په یوه یوګړیز (مورفیمز) روستاړي (ل) پیژند ل کیږي ، دغه روستاړي په کړولی (فعلی ریښی) پوري سیده نښلی په دي آړ (شرط) چی کړ ساده یا په بله وینا یو ګړیز یا یومورفیمزوي او که بیلښتی او تړښتی (اشتقاقی او ترکیبی) ري نو مصد ري روستاړي (ل) په مونډ (تنی) پوري نښلی ، سیده په کړولی پوري لکه : مونډل – وهل – خوړل په مونډ پوري لکه : غوړځول اوبول – کښیناستل – پریوتل – یوځایکول – لاسته راوستل – تود تود کیدل – نیغ نیغ کیدل پخلا کیدل یا کول ......

د مصد ر ونډه هم دا ده چی یو کړ ونوموي ، کټ مټ لکه ونه – لښره – سړي – کندهار ، داچـــــی مصد ر دیو څه کړنه او پیښیدنه څرګندوي نو دکړنی او پیښیدنی نوم دي نه پخپله کړ ځکه په زمانی پوري اړه نلري ، داچی د ودیزو (عنعنی) ژبپوهانو مصد ر له خپلی وییزي (لغوي) مانا سره سم دکړ د بیلا بیلو بڼو (زیږنده) او یا بنسټ بللی دي یوبی سروبوله

خبره ده . د کړ ښنت هماغه کړ ولی (فعلي ريښه) يا کړ سونډ (فعلي تنه) ده چه پښتانه مصدر تري د (ل) په ورښلولو جوړيږي .
که مصدر په رښتيا سره د ټولو فعلي بيلونو او ښوونو اوريزنده واي نو بايد په هره ښه کی روغ رمټ پاتيداي حال دا چې موږ گورو چې يواځی کړ ولی (فعلي ريښه) ياموند (فعلي تنه) په هره ښه کی خپل شتوالی ساتلاي شی لکه وه په وهم – وهو – وهې – وهی . – وهې يا وواهه – واهه – وهلی دي او داسی نوروکی . له دي کبله د مصدر پرځاي کړ نوم يا کړ نوموونکی ولی په کار دي ځکه همغه يی دنده ده . (ناپاي) په نامه يی يادول چې دلاتين (INFINITIVE) اړونه ده . هم دومره ناوړه نه ايسی ځکه يوه ناپايه او ناټاکلی کړنه او پيښيدنه څرگندوي او ښودوي ، نه په وگړي اړه لري ، نه په زمانی او داسی نورو گردانی اړخونو . که د مصدر نوموونه پرکړ نوم واړوو . ښايی له نورو ډيرو کړ نو مونو سره يی گډ ون راشی لکه خوړ نه – خوړ انه – خوړ نگ – خوړ ونکی – خوړ لی – خو ړ – خوړ – خورنده – خورندي – خورکه او داسی نور چې د خوړ ل غوندي له خوړ او خور ولی (ريښی) څخه جوړ شوي دي .

پښتو مصدر د يوه نوم په توگه تل ډيرگړي نه دي او يواځی د يير (حالت) له مخی اوړ ون مومی لکه ډيرو (لوستلو) ستومان گړم يا د عبد القادر خټک په شعر کی :

مه شه خوښ د پاد شاهی پر تخت (ختلو)

هميشه يی غم کوه د (پريوتلو)

د کړ اوړ ونی توکونه او اړخونه :

يو اوړ ون موندلی (گردان شوي) کړ تر ډيرو توکونو پوري په جوليز او ښکاره ډول يا نا ښکاره ډول په خپل ځان کی ځايولاي شی چې څه ناڅه د هماغو له مخی را زرا زينی اوا اوړ ون مومی او هغه توکونه دا دي :

۱ – مخکړ : چې د کړ يو ښپړ وونکی او پلو ټاکونکی ټوك (جزء) گڼل کيږي لکه کښی – په کښيناستل او کښی وتل او بري – په پريوتل او پريوتل يا پريښودل کی .

٢ـ ولې ـ یا ریښـــه : چې د کړ ریښتینی بنسټ دي لکه خور ـ یا خوړ ـ

په خورم ـ خورو ـ خوري ۰۰۰۰ او وخوړ ـ خوړای ـ خوړلی او داسې نورو کې ۰

ولې پردوو ډولو ده : یوه لومړۍ یا اوسمهال (حال) ولې لکه خور ـ اغوند ـ

بله دویمه یا تیرمهال (ماضی) ولې لکه خوړ ـ اغوست ـ دواړي ولې په ګډه دیوه راز کړ

اوړون (ګردان) بشپړوي او سترمهال کړ (مستقبل فعل) کومه جلا ولې نلري بلکه هماغــه

اوسمهال ولې یا لومړۍ ولې ورسره شریکه ده ۰ دویمه ولې پردي سربیره چې ګرد تیرمهال

کړونه تري جوړیږي د اوسمهال او اوسترمهال بیچار کړونه (مجهول افعال) هم تري جوړښت

موهي ۰ کړنومونه بیا له دواړو ولیو څخه لزوړیږمنځ ته را ځي د کړ نوموونکی یا مصدر جوړښت زیاتره

تیرمهال ولې څخه دود لري لکه خوړل ـ لیدل ـ تلل ۰ دلته لیدل له لید ـ ولې څخــه

جوړ شوي چې دویمه یا تیرمهال ولې ـ لل کیږي او لومړۍ یا اوسمهال ولې یې (وین ـ)

ده د دغو ولیــو پارسي اندولونه دید ـ او وین ـ دي ۰

٣ـ مونــــډه : چې د مخکړیا ولې اووګړیزي پایلې (شخصي خاتمې) ترمنځ

ښل کوم توک په یو ځای کولو منځ ته راځي په بله وینا که له یوه تیرمهال ګردان شوي کړ څخه

وګړیزه پایله کومه پایله وغورځول شي ۰ پاتې برخه یې مونډه بلل کیږي ۰ په دي توګه مونډه زیاتره

د تیرمهال کړ بنسټ جوړوي او په اوسمهال کې په ساده ډول له صفر یا ولې سره برابر دي لکــــه :

کښیناست ـ په کښیناستم یا کښیناستو او زبزید ـ په زبزیدم ـ زبزیدو وزبزیدم ـ وزبزدو

وزبزیدای یا اغوست ـ په اغوستم ـ اغـوسته ـ واغوست ـ ۰۰۰۰۰ کې ۰ د اوسمهال مونډه

لکه څملو په څملوم ـ څملوو ۰۰۰۰۰ کې ۰ که په ځینو ګردودو کې کښیناستلم ـ کښیناستلــو ـ

زبزیدلم ـ زبزیدلو ـ وزبزیدلو ـ او داسې نور ویل کیږي نو مونډه یې بیا کښیناستل ـ او

زبزیدل ـ راځي ۰ البته په ځینو ګرد ودونو کې د غه راز (ل) د مونډه ضروري توک ګڼل کیږي

او غورځول یې ما نیزه نیمګړتیا را ولی لکه ما ویاله وکینده ما سندره وویله ما وزمه ورتله ۰۰۰ مګر

که وکینده اوولوسته وویل شي مونډونه یې هماغه کیند او لوست راځي ۰

۴ــ کړتـــر : چې زیاتره دیوه خپلواك اواز په بڼه دمونږ اووګړیزي پایلــــې ترمنځ کله کله پیښیږي لکه زورکی په کتبینا ستم او پریوتم کی ۰ مونږ پرمخکړ اوولس سرییره دځیل (٦) لیزد . (۷) مهال (۸) اولیزند چار (۱۲) ترکونه او چارونه هم را اخلي ۰

۵ــ دود : چې دکړ دڅرګندولو ډول ښیـــې لکه خبري او ناخبري (غوښتنـــــــ ــ پوښتنی ــ هیښنی ــ امري ــ ارماني ــ ګوماني ــ ټینګاري یا تاکیدي ــ شرطی همیشني ــ وروز دني یا اعتیادي) لکه : ماډوډۍ وخوړه وخوړه ایـ وخوړه ۰ اوداسې نور ۰

٦ــ ځیـــــل : چې دکړ (مسند) اوکړندیاکړي (مسند الیه) ټاکه کوي ۰ په دې مانا چې کړ چاروال (معلوم) دي که بیچار (مجهول) اویا منځوال (انعکاس). چاروال لکه ببرك زمري وهی ــ زمرك وهل کیږي ــ زمرك ځان وهی ۰ په لومړي غونډ له (جمله) کـې کړپه کړند (ببرك) استناد کوي په دویمه کی په کړي (زمرك) اوپه دریمه کی هم په کړند اوهم په کړي چې دواړه هماغه یو وګړي (زمرك) دي ۰ ځیل په جولیز اوناجولیز ډول دمونږ وتوك دي ۰

۷ــ لیز د : په دې مانا چې کړ لیزند (متعدي) دي که نالیزند (لازمي) لکه ممند ر سند ري وایې او ممند ر راغی ۰ لیز د په جولیز یا ناجولیز (غیر شکلي) ډول دمونږ یوه برخه جوړ وي ۰

۸ــ مهـــــال : چې دکړمهالي یازماني اړیکي (ارتباط) څرګند وي په دې مانا چې کړ په کوم مهال کی پیښ شوي دې لکه څوکري ولاړ ــ څوکري ځي ــ څوکري به ولاړ شي ۰ دپښتو کړ مهالونه په ټولیز (عموم) ډول دري دي :

ا ــ تیرمهال : چې په بشپړ ــ نابشپړ ــ لنډ اولرویشل کیږي ۰

۲ــ اوسمهال : چې په بشپړ اونابشپړ وېشنه مومي ۰

۳ــ اوسترمهال : چې داهم دوه ډوله لري بشپړ اونابشپړ ۰

دمهال توك په مونږ کی راځي لکه په ودریدم یا ودریدلم کی (د) یا (دل) اوپه ودریږم یا ودریږوکی (ږ) ۰

۹ــ وگړي یاشخص : چی کړنـد یاکړي لومړي وګړي (متکلم) دي دویم وګړي (مخاطب) یادریم وګړي (غایب) ... لومړي وګړي (زه ــ موږ) ــ دویم وګړي (ته ــ تاسو) او دریم وګړي (دی ــ دوي) ، د وګړي نښــه چی وګړیزه پایله بلل کیږي دکړ و روستی برخــه جوړوي لکه (م) او (و) په راغلم او راغلو کی ،

۱۰ــ نوزي یا جنس : چی وګړي نرینه دي که ښځینه ، په پښتو کړ کی یواځی د دویمی ولی په اوړون کی دغه توپیر کیږي لکه شینګی راغله ــ ژبـــی راغی چی دلته (زور) او ي نوزیز توکونه دي په دې توګه نوزیز توک له وګړیزي پایلی او ګڼـی سره ګډ او یاي ته راځی ،

۱۱ــ ګڼـه یاعدد (افراد وجمع) : چی وګړي یوګړي (مفرد) دي او که ډیرګړي (جمع) ، یوګړي لکه هلك راغی ډیرګړي لکه هلکان راغلل ، ګڼـه یواځی په لومړي او دویم وګړي کی توپیریږي نه په دریم کی لکه هلك ځي ــ هلکان ځي ،

۱۲ــ لیږند چار یا صناعیت (کوزاتیف) دکړ هغه برخه یاتوك دي چی په مونږه کی راځی او یو لیږند کړ دویم ځلی لیږند (متعدي) کوي لکه دپارسی په خوراندن یاخواباندن کی (ان) پښتو سمدلاسه د ننګرهار ګړدود او خوشال ختــك په استاد یواځی د وه لیږند چار کړونه لري لکه خوړول (خوراندن) او ویـول (ګویاندن) ، په نورو کړونو کی دغه راز ځرګندونـــه یواځی د بیکو (اداتو) په وسیله تر سره کیږي لکه ماپرځلمی خپله خبره ومنله (من برځلمی سخن خود را قبولاندم) په دې توګه یو لیږند چار کړ دوه کړنده (فاعله) او دوه کړیه (مفعوله) لري ، لکه په پورتنی بیلګه کي ما او ځلمی کړندونه او خبره کړی ده او په یو مثال کی بیا ځلمی او خبره دواړه کړي دي ، ځینی حکمی لیږندکړونه بی له ویکو هم دلیږند چار د ند ه پرځای کوي لکه ماوژړوله ــ ماوخندوله او داسی نور ، یا داسی هم ویل کیږي : ځلمی دورخانی په خبرو راوسته مانا داچی خبري یی پری وکړي ،

۱۳ــ دنفی یانهی توك (نه) یا (مه) چی زیاتره دمځکړ یا ترښتی او ییلښتی توك ترمنځ راځی لکه : کښی نه ناست ، پابه ځید ، وانخیست ، رانغی ، مه خوره ......

کړاو (تمرین):

را	پا خ	یـــــد	ــ زورکی	م ؟
۱	۲	۶ــ۷ــ۸ــ۱۲	۴	۵ــ۹ــ۱۱
۲				

یادونه : نوزي (۱۰) په یوه بله بیاګه (راپاخیدله) کې مومو چې له ۹ــ۱۰ او ۱۱ سره ګډ ون لري ۰ همدا رنګه دنفی توك (۱۳) په (راپانه خیدله) کې راتلاي شي ۰

اوړ ونونـــــه (ګردانـــونــــه)

لومړي ــ تیرمهـــال : چې له دویمې یا تیرمهال ریښې څخه دنو موړو دیالـُس ګونو توکونو او اړخونو په پام کې نیولو سره جوړ یښت او اوړ ون مومي ۰

الف ــ له لیزند خوړ ــ دویمې ولې څخه ۰

۱ــ خبـــري ۰

۱ : بشپړ تیرمهال (مطلقه ماضي)

ګنـــه / وګړي	یوګـــړي	ډیرګـــړي
۱	ما وخوړ ــ وخوړ ې / وخوړل ــ وخـــوړي	موږ وخـــوړ ــ وخوړ ه / وخوړ ل ــ وخوړ ي
۲	تا وخوړ ــ وخـــوړ ه / وخوړ ل ــ وخوړ ي	تاسې وخوړ ــ وخوړ ه / وخوړل ــ وخوړ ي
۳	ده ــ دې وخوړ ــ وخوړه / وخوړل ــ وخــــــوړ ي	دوی وخوړ ــ وخــــــوړ ه / وخوړ ل ــ وخــــوړ ي

چاروال

بيچار

گڼه / وگړي	يوگـــړي	ډيرگـــــــړي
۱	زه وخوړل شـــو م	مو ږ وخوړل شـــو
۲	ته وخوړل شـــوې	تاسې وخوړل شوئ ـ سواسـت
۳	دي وخوړل شـــو دا وخوړل شـــوه	دوي وخوړل شـــــول دوي وخوړل شـــــو ې

منځوال

گڼه / وگړي	يوگـــړي	ډيرگـــــــړي
۱	ماځان وخـــوړ	موږ ځان وخوړ ـ ځانونه وخوړل
۲	تاځان وخـــوړ	تاسې ځان وخوړ ـ رر رر
۳	ده ـ دې ځان وخوړ	دوي ځان وخوړ ـ رر ر

يادښــت : لکه څنګه چې مو پا س وليدل په تيرمهال کې چاروال کړ د بيچارکړ غونډې دکړي (مفعول) تابع دي نه دکړند لکه ماخټکي وخوړ ـ ما خټکــی وخوړل ـ ماهندوانـــــــه وخوړه ـ ما هندوانې وخوړې ۰۰۰۰ داچې ځينې بهرنې پښتو پوهان دپښتو ليزندتيرمهال کړ (متعدي ماضي فعل) تل بيچار (پاسيف) بولی ۰ د دوکتور تزي په وينا يوه بې سروبوله خبره ده ځکه چاروال ليزنديې نه بيچار هغه سره توپيرلري او هغه داچې دکړند پخپله دکړ اينې (مسنداليه) دي ۰ او کړند پير هم ښيې نوبايد داسې وويل شي چې دپښتو د تيرمهال چاروال ليزندکړ (ماضي متعدي معلوم فعل) پايلی له کړي (مفعول) سره سمون لري ۰

۲ : نابشپړ تيرمهــال (هميشني ماضي) : نابشپړ تيرمهال دبشپړوالې (مطلقيت) له (و) پرته نورد بشپړ هغه غونډي جوړښت مومي بيچار ـ يې دبيچار کړ نوم په لنډه ون (خوړل) دمرستيالکړ (کيدل) په ملگرتيا جوړيزي اووگړيزي پايلی هم په دغه مرستيال کړپوري نښلي :

چاروال

گڼه / وګړي	يوګړي	ډيرګړي
١	ماخوړ - خوړه - خوړل - خوړي	موږ خوړ - خوړه - خوړل - خوړي
٢	تاخوړ - خوړه - خوړل - خوړي	تاسې رر رر رر
٣	ده - دې رر رر	دوي رر رر رر

بيچار

گڼه / وګړي	يوګړي	ډيرګړي
١	زه خوړل کيدم	موږ خوړل کيدو
٢	ته خوړل کيدې	تاسې خوړل کيدئ - کيداست
٣	دې خوړل کېده دا خوړل کيده	دوي خوړل کيده - کيدل دوي خوړل کيدې - کيدلې

منځوال ؛ ماځان خوړ - موږ ځان خوړ ....

٣ ؛ روږدنی (اعتيادي) تيرمهال ؛ داهغه رازکړ دې چې دهيشه والې ترڅنګه د روږدتيا (اعتيادي) جاج (مفهوم) هم را اخلي په دې توګه دا راز کړ نه روږدني هميشني کړ هم وبلاي شو . له هس عادي هميشني کړ سره يې توپير دا چې ترکړ دمخه پرې د (به) وييکې هم زياتيږي .

چاروال

يوګړي	ډيرګړي
ما به خوړ - خوړه - خوړل - خوړې	موږ به خوړ - خوړه - خوړل - خوړي
تا به رر رر رر رر	تاسو به رر رر رر رر
ده - دې به رر رر رر	دوي به رر رر رر رر

		یوګړي	ډیرګړي
بیچار	۱	زه به خوړل کیدم	موږ به خوړل کیدو
	۲	ته به خوړل کیدې	تاسې به خوړل کیدئ ـ کیداست
	۳	دی به خوړل کیده	دوی به خوړل کیده ـ کیدل
		دا به خوړل کیده	دوی به خوړل کیدې ـ کیدلې

منځوال لکه دا به ځان خوړ ......

٤ ؛ لنډ تیرمهال (قریبه ماضي) ؛ د دې مهال کړ دچار او پیښنګ له مخې کله داسې وي چې په تیرمهال کې یو مخیز بشپړ شوي وي او یادا چې تراوسمهال یې هم څه اوږدوالې موندلی وي • رغیدنګه یې داډول دی چې له بیچارکړ نوم (مفعولي صفت) ((خوړلې)) سره مرستیالکړ (ول) په اوسمهال کې اوړون مومي • په بیچارکې یې پردې سربیره دویم مرستیالکړ (کیدل) یا (شول) وزمره هم اوړون کوي او د دې لپاره چې وګړیزې پایلې په دواړو مرستیالکړونو پورې نښلي نو داسې نیالپاره د بیچار کړ نوم پایلې ته اړ تیا نه پاتیږي همداراز په لرتیرمهال بیچارکړ کې هم د بیچارکړ نوم (خوړلی) یا ي غوړځي او د (خوړل) په بڼه پاتیږي چې ځینې د ودیز پښتو پوهان (ګرامرپسنیان) یې له (مصدر) سره ګډوي او اشتباه کوي •

	یوګړي	ډیرګړي
۱	ما خوړلی دی ـ خوړلې ده ـ خوړلي دي ـ خوړلې دي •	موږ خوړلی دی ـ خوړلې ده ـ خوړلي دي ـ خوړلې دي •
۲	تا „ „ „ „	تاسې „ „ „ „
۳	ده ـ دې „ „ „ „	دوی „ „ „ „

بیچار

	یوګـــــــړي	ډیرګـــــــړي
١	زه خوړل شوي ــ شوې یم	موږ خوړل شوي ــ شوې یو
٢	ته خوړل شوي ــ شوې یې	تاسې خوړل شوي ــ شوې یئ ، یاست
٣	دی خوړل شوی دی دا خوړل شوې ده	دوی خوړل شوي دي دوی خوړل شوې دي

ـ: نحوال لکه ماځان خوړلی دی ......

ه : لرتیرمهال (بعیده ماضی) : د لرتیرمهال کړ ته هغه وخت اړتیا پریوځي چې وروسته تري بشپړ تیرمهال یا لنډ تیرمهال کړ پیښ شوی وي ، یا په بله وینا ، لرتیرمهال کړ یوله دغو نورو ډولو تر کارېدنې (استعمال) وروسته کارول کیږي لکه چې وایې :

ته پرلسو بجو راغلی (بشپړ) اوزه پرنهو بجو راغلی وم (لـــر)

یا : ته پرلسو بجو راغلې یې (لنډ)

د لر تیرمهال او ړون نورد لنډ هغه ټوندي دي چې د لته ورسره مرستیالکړ (ول) هم په لـــره زمانه کې اوړون موږ:

چاروال

	یوګـــــــړي	ډیرګـــــــړي
١	ماخوړلی و ــ خوړلې وه ــ خوړلي وو ــ خوړلې وې	موږ خوړلي و ــ خوړلې وه ــ خوړلي وو خوړلې وې ،
٢	تا رر رر رر رر	تاسې رر رر رر رر رر
٣	ده ــ دې رر رر رر رر	دوی رر رر رر رر رر

	یوګـــــــړي	ډیرګـــــــړي
١	زه خوړل شوی ــ شوې وم	موږ خوړل شوي ــ شوې وو
٢	ته رر رر رر	تاسې رر رر رر وي ــ واست
٣	دی خوړل شوی و دا خوړل شوې وه	دوی خوړل شوي وو دوی خوړل شوې وې

منځوال لکه ماځان خوړلی و ....

٦ : ګومانی تېرمهال (احتمالی یا شکیه ماضی) : هغه کړ ته وایي چې کېدنګ یې ګومانی او اړنګمن (مشکوک) وي . رغېدنه یې د داسې کیږي چې لمه بیچارکړ نوم (خوړلی) یا (خوړل) سره (به) ملتیا مومي او په چاروال کې یواځې د (ول) مرستیالکړ یواځېنی بڼه (وي) او په بیچارکې ورسره (شول) او د (ول) ټولې اوسمهال بڼې اوړون کوي . او د (وي) په بڼه یواځې په دریم وګړي کې (ګونډي) یا (ښایي) غونډي ګومانی وییکي هم ورسره ټولیز ډول مل کېدای شي .

		یوګړي	ډېرګړي
چاروال	۱	ما به خوړلی – خوړلې – خوړلي – خوړلې وي	موږ به خوړلی – خوړلې – خوړلي – خوړلې وي
	۲	تا به رر رر رر	تاسې به رر رر رر رر
	۳	ده – دې به رر رر رر	دوي به رر رر رر رر

		یوګړي	ډېرګړي
بیچار	۱	زه به خوړل شوی – شوې یم	موږ به خوړل شوي – شوې یو
	۲	ته به رر رر رر یې	تاسې به رر رر رر یئ – یاست
	۳	دی به خوړل شوی وي	دوي به خوړل شوي وي
		دا به خوړل شوې وي	دوي به خوړل شوې وي

منځوال لکه : ما به ځان خوړلی وي .....

۷ ؛ ارمانی تیرمهال (تمنایی ماضی) : چی دیوه ارمان ښرګندونه کوي او د دود له مخی په بشپړ تیرمهال ، نابشپړ تیرمهال ، نژدېمهال او ګومانی تیرمهال پوري اړه لري :

۱ــ ارمانی بشپړ تیرمهال (تمنایی مطلقه ماضی) چی درغیدنی له مخی په بشپړ تیرمهال اړه‌جاج او مرخی (مفهوم او مطلب) له مخی په اوسمهال پوري اړه لري جوړیدنه یی دبشپړ تیا (مطلقیت) وــ په دختاري کولو او دچاروال لپاره دبیچارکړ نوم (مفعولی صفت) په اوز دولو او دبیچار لپاره دپای په‌غوږ څولو او دمرستیالکړ (شول) دبیچارکړ نوم په اوز دولو ترسره کیږي ، دغه رازیی دزیاتی ښرګندتیا لپاره تر اینبــــ (مسندالیه) دمخه یا وروسته د (کاشکی) ویبکی دیوه‌څوي توک په توګه هم ملګري کیداي شي .

چاروال

	یوګړي	ډیرګــــړي
۱	کاشکی ما وخوړ اي	کاشکی موږ وخوړ اي
۲	کاشکی تا وخوړ اي	کاشکی تاسو وخوړ اي
۳	کاشکی ده ــ دې وخوړ اي	کاشکی دوي وخوړ اي

بیچار

	یوګــــړي	ډیرګــــړي
۱	کاشکی زه وخوړ ل شواي	کاشکی موږ وخوړ ل شواي
۲	کاشکی ته وخوړ له شواي	کاشکی تاسو وخوړ ل شواي
۳	کاشکی دي ــ دا وخوړ ل شواي	کاشکی دوي وخوړ ل شواي

منځوال لکه ؛ کاشکی ما ځان وخوړ لاي ....

۲ــ ارمانی نابشپړ تیرمهال؛ چاروال یی بی دبشپړ تیا (مطلقیت) له وــ څخه دبشپړ هغه‌غونډي‌جوړیږي او بیچاریی بی له دغه (و) او مرستیال کړ په بدلولو (شول پرکیدل) دبیچار بشپړ هغه‌غونډي راځي .

چاروال

	یوگـــړي	ډیرگـــړي
۱	کاشکی ما خوړ اي	کاشکی موږ خوړ ا ي
۲	کاشکی تا خوړ اي	کاشکی تاس خوړ اي
۳	کاشکی ده ـ دي خوړ اي	کاشکی دوي خوړ اي

بیچار

	یوگـــړي	ډیرگـــړي
۱	کاشکی زه خوړل کیدا ي	کاشکی موږ خوړل کیدا ي
۲	کاشکی ته خوړل کیداي	کاشکی تاس خوړ ل کیداي
۳	کاشکی دي ـ دا خوړل کیداي	کاشکی دوي خوړل کیدا ي

منځوال لکه: کاشکی ما ځان خوړلاي ....

۳ـ ارمانی لرتیرمهال (تمنایی بعیده ماضی) چاروال داسی جوړیږي چی په بیچارکړ نوم (مفعولی صفت) پسی د مرستیالکړ (ول) بیچارکړ نوم او زد (واي) راشی او بیچار یی د بیچارکی نوم په لنډه ولو او (شول) په زیاتو راشځ ته کیږي ۰

چاروال

	یوگـــړي	ډیرگـــړي
۱	کاشکی ما خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی واي	کاشکی موږ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی واي ۰
۲	کاشکی تا ،، ،، ،،	کاشکی تاس ،، ،، ،،
۳	کاشکی ده ـ دي ،، ،، ،،	کاشکی دوي ،، ،، ،،

		یوګړي	ډیرګړي
بیچار	۱	کاشکي زه خوړل شوی – شوې – شوي – شوې	کاشکي موږ خوړل شوي – شوي – شوې – شوې وای
	۲	کاشکي ته ،، ،، ،، ،،	کاشکي تاسې ،، ،، ،، ،،
	۳	کاشکي دی – دا ،، ،، ،، ،،	کاشکي دوی ،، ،، ،، ،،

منځوال لکه: کاشکي ما غان خوړلی وای.

۷ – ارماني ګوماني تېرمهال (تمنایی احتمالی ماضی) له عادي ګوماني تېرمهال سره یوازې په (به) په نه‌لرلو او کاشکي توپیرېږي.

		یوګړي	ډیرګړي
چاروال	۱	کاشکي ما خوړلی – خوړلې – خوړلي – خوړلې وي	کاشکي موږ خوړلي – خوړلي – خوړلې وي
	۲	کاشکي ته – دې ،، ،،	کاشکي تاسې ،، ،، ،،
	۳	کاشکي ده – دې ،، ،، ،،	کاشکي دوی ،، ،، ،،

۸: اړوتي تېرمهال (شرطیه ماضی) چې د یوه اړونې کړنې لپاره اړ (شرط) څرګندوي په دې توګه د اړازکړ د یوه بل کړ لپاره اړ (شرط) برابروي، دا مانا چې که دغه کړ ترسره نشي هغه بل کړ هم کېدونی نه‌دی. اړ هم داراز که هغه بل کړ موخن او مطلوب نه وي نو د اړوتي کړ څرګندونې ته کومه اړتیا نه پېښېږي لکه (که ورېځ نه وی باران نه‌کېږي) یا (که ورېځ وي (نو) باران کېږي یا به باران وشي). څنګه چې اړ (شرط) په هر کړ او کړن کې راتلای شي نو د اوسمهال مغونډې په تړلو تېرمهالو کې څرګندېږي او همغه زمره کولونه اړي. د اړ د څرګندونې نښه اوتوک (که) دی چې په مخ کې راځي:

الف – اړوتي بشپړ تېرمهال: چې له خبري بشپړ تېرمهال څخه د (که) په مختګولو سره جوړېږي او په ځانګ (مفهوم) کې په اوسمهال پورې اړه لري لکه: که ما وخوړ ... که موږ وخوړ یا که ما وخوړ ای – که موږ وخوړ ای ...

٢ـ اړوتی نابشپړ تیرمهال (شرطیه استمراري‌ماضی) لکه: که ما خوړ ـ که موږ خوړ یا که ما خوړلای ـ که موږ خوړلای ....

٣ـ اړوتی لنډ تیرمهال (شرطیه قریبه ماضی) لکه: که ما خوړلی دي ـ که موږ خوړلی دي یا ـ که ما خوړلی وي که موږ خوړلی وي ....

٤ـ اړوتی لرې تیرمهال (شرطیه بعیده ماضی) لکه که ما خوړلی و ـ که موږ خوړلی و یا ـ که ما خوړلی وي ـ که موږ خوړلی وي .....

په دې توګه هر اړوتی تیرمهال په څرمه (ضمنی) ډول ګومانی ـ ارمانی ـ هیښنی .... هم کیدای شی.

٩: توانی تیرمهال (امکانی یا اقتداري ماضی): چې دیوه کړ کیدون (امکان) یانه کیدون تري څرګندیږي. په پښتو کی په ساده جولسیز ډول یواځی بشپړ تیرمهال او نابشپړ تیرمهال توانی کیدای شی او همدغه دوه ډوله تیرمهالونه په څرمه توګه نور تیرمهالونه هم را اخلـــــی. رغیدنګ یې دبیچارکړ نوم دپای غبرګغږ په اوږدولو (خوړلای یا خوړ ای) او ورسره دمرستیالکړ (شول یا کیدل یادواړو) په ګردانولو تر سره کیږي.

١ـ توانی بشپړ تیرمهال. لکه: ما وخوړلای شو ـ وخوړ ای شو ـ تاوخوړلای شو ـ وخوړ ای شو .....

٢ـ توانی نابشپړ تیرمهال. لکه: ما خوړلای شو ـ خوړ ای شو ـ تا خوړلای شو ـ خوړ ای شو .....

اعتیادي: لکه: مابه خوړلای شو ـ خوړ ای شو ـ تابه خوړ لای شو ـ خوړ ای شو.

١٠: ټینګاري تیرمهال (تاکیدي ماضی): چې دکړ دترسره کولو یانه ترسره کولو ټینګار (تاکید) څرګندوي او یواځی په بشپړ اونا بشپړ تیرمهال کی راتلای شی:

١ـ ټینګاري بشپړ تیرمهال چې له بیچارکړ نوم سره د (به)، (و) یا (وای) په ملګري کولو جوړیږي لکه: ما به خوړلی وای او یا مابه خوړلی به می و. خوړلی‌به‌می‌وای.

٢ــ ټینګاري نابشپړ تیرمهال چې له اعتیادي سره په اهنګ کې تویبر لري لکه :

مابه خوړ یا مابه خوړ لای یاخوړ اي · کله کله بویه یا (بایدیې) هم په سرکې راتلاي شي او د پای

لیکنښه یې ندائیه راځي ·

ــ هیښنې تیرمهال (تعجبي ماضي) · چې په هیښتیا (تعجب یا تحیر) سره

څرګندیږي · دا رازکړ یواځې په اهنګ کې له خبريځغه سره توپیریږي لیکنښــه یې یوه بلنښنه

(ندائیه) ده ·

بیلګه لکه : ماوخوړ ! تاوخوړ ! ·······

(١ : پوښتنې تیرمهال (استفهامي ماضي) چې دیوه کړن پیښیدنه یا نه پیښیدنه پوښتــې

دا هم له خبريکړ سره یواځې په اهنګ کې توپیر موږ په دي توګه چې دخبري کړ اهنګ

لهعاديخج یا اهنګ سره اوأرپیل موږ او تیټ پای ته رسي اودپوښتنې دا له یوه زیات پیاوړي

خج یاپه بله وینا له یوه هوار اهنګ سره پیل موږ اوپه پای کې لوړیږي · پوښتنې کړ پــه

بشپړ تیرمهال · نابشپړ تیرمهال · لنډ تیرمهال لرنیرمهال اوتواني تیرمهال کــې راتلای شي

لیکنښه یې پای ته یوه پوښتنښه (؟) ده ·

١ــ پوښتــې بشپړ تیرمهال لکه : ما وخوړ ــ تاوخوړ ·······

٢ــ پوښتنې نابشپړ تیرمهال لکه : ما خوړ ــ تاخوړ ·······

٣ــ پوښتنې لنډ تیرمهال لکه : ماخوړلی دي ــ تاخوړلی دي ·····

٤ــ پوښتنې لرتیرمهال لکه : ما خوړلی و ــ تاخوړلی و ······

٥ــ پوښتنې توانی تیرمهال لکه : ما وخوړ لای شوــ تا وخوړ لای شو ·····

لکه : ماوخوړ لای شوــ تا وخوړ لای شو ·····

یا : ما خوړ لای شو ــ تاخوړ لای شو ·····

ب ـ نالیزندکړ (راتلل) له بشپړ اندو (سویلتیفو) دویمو ولیـــو راتل ـ (رات) ۰ راغل ـ (راغ) څخه راغل ـ دبشپړ (مطلق) او راتل ـ دنابشپړ (غیرمطلق) کړ ولی هم جوړیږي بدل کیـــــږي :

۱ : بشپړ تیرمهال (مطلقه ماضی) :

۱ ـ خبــري :چی له راغل ـ یا راغ ـ ریښی څخه جوړ ښت او اوړون مومی ۰

	یوګړي (مفرد)	ډیرګړي (جمع)
۱	زه راغلم	موږ راغلو
۲	ته راغلی	تاسی راغلئ ـ راغلاست
۳	دي راغی (راغلـئ)	دوي راغلـــل
	دا راغلـــه	راغلی (راغللـــی)

۲ ـ لنډ تیرمهال چــی دلیزندکړ غوندي دبیچارکړ نوم له انډول (راغلی) څخه دمرستیالکړ (ي ـ) او (د ـ) په ملګرتیا جوړیږي او ګردانیږي ۰

یوګـــړي	ډیرګـــړي
زه راغلی ـ راغلی یم	موږ راغلی ـ راغلی یـــو
ته راغلی راغلی یـی	تاسی راغلی راغلی یی ـ یاست
دي راغلی دي	دوي راغلی دي
دا راغلی ده	دوي راغلی دي

۳ــ لرتیرمهال (بعید ماضي) ، چې له لنډ تیرمهال سره په مرستیالکړ کې توپیر مومي هغه دا چې دلته د (ول) ولی (وــ) په کار لیږي ۰

یوګړی	ډیرګړي
زه راغلی ـــ راغلې وم ۰	موږ راغلي ـــ راغلې وو ۰
ته راغلی ـــ راغلې وې ۰	تاسې راغلي ـــ راغلې وئ ۰ ـــ واست ۰
دی راغلی ـــ وو ۰ دا راغلې ـــ راغلې وه ۰	دوی راغلي ـــ وو ۰ دوی راغلې ـــ راغلې وې ۰

٤ــ ناشپړ تیرمهال (همیشنی یا استمراري ماضي) چې د راغلی ـــ له بشپړاندې ملګري ولي (راتل ـــ) یا (رات) څخه جوړېښت او اوړون دوي په دې توګه چې وګړیزې پایلی په هغه دغې ولي پوري پیده ښلی ؛

یوګړی	ډیرګړي
زه راتلم ۰	موږ راتلـــو ۰
ته راتلې	تاسې راتلئ ۰ ـــ راتلاست ۰
دی راته ـــ راتلو ـــ راتل ۰ دا راتلـــه	دوی راتلـــل ۰ دوی راتلې ـــ راتللې

۵ــ روزنی تیرمهال (اعتیادي ماضي) چې له ناشپړ تیرمهال څخه د (به) وییکی زیات لوي لکه ، زه به راتلم ـــ ته به راتلې ۰۰۰۰۰۰۰

٦ــ ارماني تیرمهال (تمنایي ماضي) چې په بشپړ ـــ ناشپړ او لرتیرمهال پوري اړه لري او د مرخې او جاج (مفهوم) له مخې زیاتره په اوس مهال پوري اړه نیسي ۰ بشپړ یې له ناشپړ سره د بشپړتیا (مطاقیت) وــ توپیریږي بشپړ یې لکه (راغلی لای) یا (ولاړ لای)

اونابشپړ ین لکه (راتللاي) لیږي دارکړ نوم دغبرګغږ داوزدولو پرځاي دمرستیالکړ (ول) هغه پراوزده غبرګغږ اړي . دپوره څرګندتیا لپاره ددرووارو ډولو په سرکي د (کاشکی) وبیکو، دیوه نحوي توك په توګه هم راوړل کیداي شي .

(۱) بشپړ ارمانی :

	یوګړي	ډیرګړي
۱	کاشکی زه راغللاي ـ راغلاي	کاشکی موز راغللاي ـ راغلاي
۲	کاشکی ته رر رر	کاشکی تاسی رر رر
۳	کاشکی دي ـ دا رر رر	کاشکی دوي رر رر

(۲) نابشپړ ارمانی :

	یوګړي	ډیرګړي
۱	کاشکی زه راتللاي ـ راتلاي	کاشکی موز راتللاي ـ راتلاي
۲	کاشکی ته رر رر	کاشکی تاسی رر رر
۳	کاشکی دي ـ دا رر رر	کاشکی دوي رر رر

(۳) لرارمانی :

	یوګړي	ډیرګړي
۱	کاشکی زه راغلی ـ راغلی واي	کاشکی موز راغلی ـ راغلی واي
۲	کاشکی ته رر رر رر	کاشکی تاسی رر رر
۳	کاشکی دي ـ دا رر رر	دوي رر رر رر

۷ـ توانی تیرمهال (امکانی ماضی) چې په (تلل) غوندې نالیږند ٥ کړ کې په ساده ډول پراخی نابشپړ تیرمهال را اخلي او هغه هم په دې ډول جوړیږي چې د بیچاړ کړ نوم انډول (تللی) پای غبرګغږ او زیږي او مرستیالکړ (شول) ورسره اوړ ونږي ٠

	یوګـــړي	ډیرګـــړي
۱	زه راتللای ـ راتللای شوم	موږ راتللای ـ راتلای شو
۲	ته ،، ،، شوې	تاسو ،، ،، شوئ ـ شوا ـيت
۳	دی ،، ،، شو	دوی ،، ،، شول
	دا ،، ،، شوه	دوی ،، ،، شولې ـ شوې

۸ـ ګوماني تیرمهال (شکیه یا احتمالي ماضي) چې بشپړ ـ نابشپړ ـ انډول تیرمهال یې په دغو اندې ډولږ جوړیږي ٠

(۱) بشپړ ګوماني چې د (لکه چې) په ماتیا د خبري هغه غونډې جوړ ـبت ووس لکـــــه چې

یوګـــړي	ډیرګـــړي
لکه چې زه راغلم !	لکه چې موږ راغلو !
لکه چې ته راغلې !	لکه چې تاسو راغلئ ـ راغلاست !
لکه چې دی راغی !	لکه چې دوی راغلل !
لکه چې دا راغله !	لکه چې دوی راغلې ـ راغلې !

(۲) نابشپړ ګوماني چې له خبري نابشپړ تیرمهال څخه د (ګرند) نښه (بنایي) یا (لکه چې) په ماتیا جوړیږي او د روزدنې لپاره یې (به) هم ملګري کیږي ٠

یوگړي	ډیرگړي
گوندي ـ ښایي یالکه چې زه راتلم	گوندي ـ ښایي یالکه چې موږ راتلو
رر رر رر ته راتلې	رر رر رر تاسې راتلئ ـ راتلاست
رر رر رر دي راتلو ـ راته	رر رر رر دوي راتلل ـ راتله
رر رر رر دا راتلله ـ راتله	رر رر رر راتللې ـ راتلې

روزدنې لکه : زه گوندي ـ ښایي یالکه چې زه به راتلم ـ ته به راتلې ۰۰۰۰۰۰۰

(۳) لنډه گومانـــې د بشپړ گوماني غونډيې په (لکه چې) یا (به) له خبري هغه سره توییږــــزي ۰

یوگړي	ډیرگړي
لکه چې زه راغلی ـ راغلی یم	لکه چې موږ راغلي ـ راغلي یو
رر رر ته رر رر رر یې	رر رر تاسې رر رر یئ ـ یاست
رر رر دي ـ دا رر رر وي	رر رر دوي رر رر وي

یا ـ زه به راغلی یم ۰۰۰۰۰۰

(٤) لـــرگوماني چې له خبري هغه سره د (گوندي) ـ (ښایي) (لکه چې) یا (به) په سرباري کولو توییږیزي لکه گوندي زه راغلی وم ـ زه به راغلی وم ۰

۹ـ تېنگاري تیرمهال (تاکیدي ماضي) ۰ چې بشپړ ـ نابشپړ اولر راتلاي شي او د موخې او جاج له پلوه زیاتره په اوسمهال پوري اړه لري ۰ او د پوره څرگندتیا لپاره یې په سرکې (بویه) یا (باید) هم ملگري کیږي ۰

(۱) بشپړ تېنگاري د به یا باید په مختاړي کولو او د (اي) په روستاړي کولو له (راغلل ـ) یا (راغل ـ) څخه جوړیږي لکه زه به راغللاي ـ راغلاي یا زه باید راغللاي ـ راغـــــلاي ۰

(۲) نابشپړ تېنګاري چې د به یا باید په مختاري کولو او (اي) په روستاري کولوله (راتلل –) یا (راتل) څخه جوړیږي لکه:

زه به راتللاي – راتلاي یا زه باید راتللاي – راتلاي ۰۰۰۰۰۰ او یا راتلم به – راتلی په او داسې نور ۰

(۳) لر تېنګاري چې له خبري تیرمهال څخه د (به) په سرباري کولو توپیریږي لکه زه به راغلی وم – ته به راغلی وې ۰۰۰۰۰۰ که د (به) ځاي (باید یا (بویه) ونیسی نو بیا د (ول) کړ نوم پاي غبرګغږ لکه ارماني هغه غوندې ورسره اوز دیږي لکه زه باید راغلی واي– ته بویه راغلی واي چې البته په درو واړو وګړو کې یې بیا نرینه او ښځینه سره توپیر یداي شي ۰ دپاي لیکنښه یې پلننښه (!) راځي ۰

۱۰ – پوښتنې تیرمهال (استفهامي ماضي) په دي مانا چې که په هر ډول تیرمهال کې پوښتنه راشي ۰ نو پوښتنې تیرمهال بلل کیږي ۰ بشپړ لکه زه راغلم نابشپړ لکه زه راتلم لنډ لکه زه راغلی یم لر لکه زه راغلی وم او داسې پسې نور ۰

۱۱ – هېښنې تیرمهال (تعجبي ماضي) چې هېښتیا تري څرګندیږي او له پوښتنې سره یوازې په اهنګ کې توپیر مومي لکه زه راغلم! ته راغلی! او هم داسې په نورو تیرمهالونو کې ۰

۱۲ – اړوتې تیرمهال (شرطیه ماضي) چې په تیرمهال کې د کوم کړ پیښیدنه یا نه پیښیدنه په یوه اړ (شرط) پوري تړلې وي داکړ نور تر یایه پوري د خبري هغه غوندې رغیدنګ لري خو په سرکې یې یو نحوي توک اړوییکی (شرطیه ادات) – که – راوړل کیږي لکه که زه راغلم ۰ که زه راتللم ۰۰۰۰۰۰

دویم ــ داوسمهال کړ اوړون (گــردان) :

اوسمهال کړ داماناچې کړ هماغه مهال یا یوځه وروسته پیښیږي چې یادونه یې کیږي • چاروال یې له لومړي ولی (ریښی) څخه جوړیږي اوبیچار یې له تیرمهال یا په بله وینالهدویمی ولی څخه • چې په دواړو بڼوکی وریوري تاکلی اوړونی (تصریفی) تاړي (وندونه) نښلول کیږي • دغه تاړي داینښی (مسندالیه) اودهغه د ګڼې ځرګندونه کوي نه دنوزي اومهال • داماناچې په ناتیرمهال کی نوزي نه توپیریږي اومهال خوزیاتره پخپلی کړ ولی سره ځرګندیدنه مومی •

الف ــ لهلیږند څور ــ څخــــه :

۱ : بشپړ اوسمهال •

۱ــ خبري : چاړوال • چې له لومړۍ ریښی څخه زیاتره دبشپړتیا یې (مطلقیت) (و ــ) په مختاړي کولو او داړوندو نښلونو په زیاتو لو لاسته راځی :

یوګړي (مفرد)	ډیرګړي (جمع)
وخورم	وخورو
وخوري	وخوري•
وخوري	وخوري

بیچاره چې له دویمی ولی څخه دلاسته راغلی بیچار کړ نوم په لنډون اوله هغه سره دمرستیالکړ (شول) په اوړون جوړښت مومی :

یوګــړي	ډیرګړي
وخوړل شم	وخوړل شو
وخوړل شی	وخوړل شی•
وخوړل شی	وخوړل شی

منځوال لکه : ځان وخورم ۰۰۰۰۰۰۰

۲ـ آرزوئي بشپړ او سمهال (شرطي حال) چې له خبري بشپړ او سمهال سره توپير يې يوازې دا دی چې يا شرطيه ادات (که) په سرباري کولو څرګنديږي ۰

چاروال لکه : که وخورم ـــ که وخوري ۰۰۰۰

بيچارلکه : که وخوړل شم ـــ که وخوړل شي ۰۰۰۰

منځوال لکه : که ځان وخورم ـــ که ځان وخوري ۰۰۰۰۰

۳ـ ارماني بشپړ او سمهال چې د (کاشکې) په مخکې کولو سره د خبري هغه غونډي رغېدنـــګ ميږي :

چاروال لکه : کاشکې وخورم ـــ کاشکې وخوري ۰۰۰۰۰

بيچارلکه : کاشکې وخوړل شم ـــ کاشکې وخوړل شي ۰۰۰۰

منځوال لکه : کاشکې ځان وخورم ـــ کاشکې ځان وخوري

۴ـ پوښتني بشپړ او سمهال چې په رغېدنګ کې له خبري څخه يوازې د خج په پياوړتيا او د اهنګ په لوړتيا کې توپير لري ۰ ليکنښه يې پوښتنښه ده :

چاروال لکه : وخورم وخوري

بيچارلکه : وخوړل شم وخوړل شي ۰

منځوال لکه : ځان وخورم ځان وخوري

۵ـ حيښدنی بشپړ او سمهال له پوښتني هغه څخه يوازې په اهنګ او د غږيدو نکي په اکر(وضع) بيلتون مومندلای شي او ليکښنه يې د پوښتښن پرځاي بلښنه راځي :

چاروال لکه : وخورم ! وخوري !

بيچار لکه : وخوړل شم ! وخوړل شي !

٦ـ توانی بشپړ اوسهال ٠ چې له دویمې ولې شخصه دلاسته راغلی بیچارکړ نوم دپای غبرګغږ په اوږدولو او ورسره د (شول) په اوړونولو (ګردانولو) سره منځ ته راځي دچولی له مخې له بشپړ تیرمهال سره کوم توپیر نلري ٠ په زړه پوري داچې یې چاروال اوبیچار سره یوځای دغږیدونکی داکسر(وضعیت) ٠ چاپیریال او دریخ (موقعیت) اونومخرو له له مخې توپیرداي شي لکه : زه غم وخوړل شم ـ ماغم وخوړل شي باغم ماوخوړلای‌شي ٠٠٠

وګړي / ګڼه	یوګړي	ډیرګړي
۱	وخوړنای شـــم	وخوړلای شـــو
۲	وخوړلای شې	وخوړ لای شـــئ
۳	وخوړ لای شـــي	وخوړلای شـــي

٧ـ امري بشپړ اوسمهال چې یوازې د دویم وګړي لپاره راځي چاروال یې له لومړي ولې شخصه ساده ډول او بیچار یې له دویمې ولې شخصه دلاسته راغلی بیچارکړ نوم په لنډو ن او دمرستیالکړ (شول)په اوړون سره تر سره کیږي ٠

چاروال لکه : وخوره ! وخوري ٠ !

بیچار لکه : وخوړل شه ! وخوړل شئ !

٨ـ ټینګاري یا تاکیدي بشپړ اوسمهال چې له خبري‌هغه سره یې توپیر یوازې دټینګاروییــکی یا تاکیدیادات(دې) په ورزیاتولو ترسره کیږي ٠

چاروال :له‌نومخرو سره لکه : زه دې وخورم ! ته دې وخوري ٠٠٠٠

بې نومخرو لکه : ودې خورم ! ودې خوري ٠٠٠٠

بیچـــار : له نومخرو سره لکه : زه دې وخوړل شم ! ته دې‌وخوړل شې !

بې‌نومخرو لکه : ودې خوړل شم ! ودې‌خوړل شـــې !

۹ــ غوښتنى بشپړ اوسمهال چى دعايا ښيرا څرګندوي او يواځى په ناتيرمهال کى راتلاي شى . د ټينګاري هغه او کله کله د امري هغه غوندي جوړيږي خو پوره څرګند تيا يى په يوه غونډ له (جمله) کى له نورو توکونو سره کيداي شى لکه :

سردې وخورې يا سرمى دي وخورم ــ سردي وخوره يا په دغو متلو کى : نه اشه ښه ده نه ګله ــ دوي دي وخوري يو تربله (ميدان) .

نه يوه ښه ده نه بله ــ دوي دي وخوري يو تربله (د هلمند ناوه)

په پښتو کى زياتره ارکړ ونه په ساده او يو ستوي توګه دغوښتنى لپاره راتلاي نشى او مرستيالکړ ونه او توکونه ورسره ملګري کيږي .

ساده لکه : ومره ! ژوه ! (زنده باد) .

ترښتى (ترکيبى) لکه : ستړي مه شى ! خوار مه شى ! هرکله راشى ! خيريوسى !
يا له (خداي) سره : خداي دې خوار مکړه ! خداي دي ويښه ــ خداي دي ښه درسره وکړي ...

۱۰ــ ګومانى بشپړ او سمهال چى دا رنګ وييکو (شکيه اداتو) او غونډ له ييزو توکونو په مختاړ لي کولو له خبري هغه څخه جوړيږي .

چاروال لکه : ښايى چى وخورم ــ ګوندي وخورم ــ لکه چى وخورم ــ کيږي چى وخورم

بيچار لکه : ښايى چى وخوړ ل شم ــ ګوندي وخوړ ل شم ــ لکه چى وخوړ ل شم ــ کيږي چى وخوړ ل شم !.

۲ : نابشپړ اوسمهال (غيرمطلق يا استمراري چال)

۱ــ خبـــري :

چاروال . چى بى له کوم مختاړ ي له لومړ ى کړ ولى سره د وګړيزو پايلو (خاتمو) په ملتيا جوړيږي لکه :

گڼه / وگړي	یوگړي (مفرد)	ډیرگړي (جمع)
۱	خوړم	خوړو
۲	خوړې	خوړئ
۳	خوړي	خوړي

بیچار ، چې له لنډ کړ شوي بیچارکړ نوم (خوړل) سره مرستیالکړ (کېدل) په اوسمهال کې اوړون موي لکه :

گڼه / وگړي	یوگړي	ډیرگړي
۱	خوړل کېږم	خوړل کېږو
۲	خوړل کېږې	خوړل کېږئ
۳	خوړل کېږي	خوړل کېږي

منځوال لکه : ځان خورم .....

۲- اړوتی نابشپړ اوسمهال چې داړوییکی یاشرطیه ادات (که) په مختاړي کولو له خبري هغه څخه جوړیږي :

چاروال لکه : که خورم – که خورې .....

بیچار لکه : که خوړل کېږم – که خوړل کېږي .....

منځوال لکه : که ځان خورم – که ځان خورې .....

۳- ارمانی نابشپړ اوسمهال چې دجولی له مخی له ارمانی نابشپړ تیرمهال سره کوم توپیر ناري لکه کاشکی ما خوړلی شواي . په دي توگه یې له نورو ارمانی (تیرمهال یااوسمهال) ډولونو سره د چاروال او بیچار توپیر د دریخ او نومځرو له مخی کیداي شی .

٤- پوښتنی نابشپړ اوسمهال له بشپړ تیا یی یا مطلقه (و –) پرته نور د پوښتنی بشپړ اوسمهال غونډي رغیدنگ لري لکه خورم .

٥- هينني بياله پوښتني سره يوانحې په اهنګ اوچاپيريال سره توپيرېداي شي اوپه ليک کې په پلنښه لکه : خوږم !

٦- ګومانې نابشپړ اوسهال له بشپړ تيايي (و-) پرته نور د بشپړ هغه غوندي رغيزي لکه ګوندي خوږم يا ګوندي خپل سرخوږم .....

٧- توانې نابشپړ اوسهال دجولي له مخې له توانې نابشپړ تيرمهال سره کوم توپيرنلري اوپرانحې دجاج اوموخې (مفهوم او مقصد) له مخې تري توپيرېداي شي اوهماغسې يې دچاروال اوبيچار بيلتون دنومخرو په اوښتون سره رانحي لکه ما خوړلی شواي- زه خوړلی شواي ...

٨- امري نابشپړ اوسهال چې کټ مټ دبشپړ هغه غوندي يوانحې ددويم وګړي لپاره رانحي لکه خوره ! خوري ! ...

٩- ټينګاري يا تاکيدي نابشپړ اوسهال چې د (دې) په ملتيا په دي وروستـــه لوول جوړېدنګ موس، ...

چاروال . له نومخرو سره لکه زه دي خوږم- ته دي خوږي .

بې نومخرو لکه : خوړل کيږم دي - خوړل کيږي دي ! (١)

١٠ - غوښتنې نابشپړ اوسهال چې پېرلز دودلري او هغه هم په څينو کړ وار بيا په يوه غونډه له (جمله) کې له نورو توکونو سره لکه :

خداي دي لره- خداي دي له هري بلا ساتـــه !

خداي دي مه بښه - خداي دي مه خواروه !

خداي دي مه کړه ! اودا سې پسې نور .

(١) بيچار - له نومخرو سره لکه زه دي خوړل کيږم - ته دي خوړل کيږي

بې نومخرو لکـــه خوړل کيږم دي - خوړل کيږي دي .

ب ــ له ناليزند ځ ــ ــ ولاړ ــ او تلل یا تل ــ څخه :

۱ : بشپړ اوسمهال • چې له دویمې ولې (ولاړ ــ) سره مرستیالکړ (شول) اوړون مومي •

۱ــ خبري :

گڼه / وګړي	یوګړي (مفرد)	ډیرګړي (جمع)
۱	ولاړ شــــم	ولاړ شــــو
۲	ولاړ شــــې	ولاړ شــــئ
۳	ولاړ شــــي ولاړه شــــي	ولاړ شــــي ولاړې شــــي

۲ــ اړوتي بشپړ اوسمهال • چې داړوییکي یاشرطیه ادات (که) په مختاړي کولو دخبري هغه غوندي رغیدنه مومي لکه : که ولاړ شم ــ که ولاړ شي ......

۳ــ ارماني بشپړ اوسمهال چې د ټولو وګړو لپاره له (ولاړ ــ) څخه دجوړ شوي کړ نوم (ولاړ لی) په اوږدو لو جوړیږي اودپوره څرګند تیا لپاره یې د (کاشکي) وییکي هم په سرکې راځي اودجولې له مخې له ارماني بشپړ تیرمهال سره کوم توپیر نلري لکه : کاشکي زه ولاړ لاي یا ولاړ اي ــ کاشکي ته ولاړ لاي ــ ولاړ اي .....

٤ــ پوښتنې بشپړ اوسمهال چې له خبري هغه سره یواځې په اهنګ کې توپیرلري لکه : ولاړ شم ولاړ شي •

٥ــ هینښې • چې له خبري یا په بله وینا له پوښتنې هغه سره دغږیدونکي په یوه ځانګړي اکر (وضعیت) او اهنګ کې توپیرمومي لکه :

ولاړ شم ! ولاړ شي !

٦ــ تواني بشپړ اوسمهال چې له (ولاړ) سره د مرستیالکړ (شول) اوږ دغبرګغږي کړ نوم (شولاي یا شواي) اوړون مومي اوپه دې توګه دجولې له مخې له تواني بشپړ تیرمهال سره سمون خوري •

وګړی / ګڼه	یوګـــړي	ډېرګـــړي
۱	ولاړ شولاي ــ شواي	ولاړ شولاي ــ شواي
۲	,, ,, ,,	,, ,, ,,
۳ــ	,, ,, ,, ولاړه ,, ,,	,, ,, ,, ولاړي ,, ,,

۷ــ امري بشپړ او مهال چې یواځې په دویم وګړي پورې اړه لري لکه:

ولاړ شه! ولاړ شئ!

۸ــ ټینګاري بشپړ او مهال چې له خبري هغه سره یې توپیر یواځې د ټینګار ویی (دې) په ورزیاتولو کیږي.

له نومځرو سره لکه: زه دې ولاړ شم ــ ته دې ولاړ شې ....

بې نومځرو لـــکه: ولاړ دې شم ــ ولاړ دې شې ......

۹ــ غوښتنې بشپړ او مهال چې له ولاړ ــ څخه په سیده ډول هیله لرز دود لري

لکـــه: سړي ولاړ شه! ګورته ولاړ شې!

۱۰ــ ګوماني یا احتمالي بشپړ او مهال چې له ولاړ سره مرستیال کړ (شول) د اړنګ ویکو (شکیه اداتو) یا په بله وینا د اړنګ توکونو په ملتیا اوړون مومي لکه:

ښایي چې ولاړ شم ــ ګوندې ولاړ شم ــ لکه چې ولاړ شم ــ کیږي چې ولاړ شم ....

۲: نابشپړ او مهال چې یواځې د ارماني او توانې لپاره تل ــ یا تلل ــ راځي ځکه چې د جولې له مخې له تیرمهال سره سمون لري او نور پاتې ډولونه یې د فعل له ولې څخه جوړیږي چې

د تلل ــ یا تلل ــ او ولاړ ــ سوپلاتیف (بشپړ اند) بلل کیږي.

١ـ خبري :

گڼه / وګړي	یوګړي	ډیرګړي
١	ځم	ځو
٢	ځې	ځئ
٣	ځي	ځي

٢ ـ اړوتی لکه : که ځم ـ که ځی ......

٣ـ پوښتنی لکه : ځم ځی

٤ـ هیښنی لکه : ځم ! ځی !

٥ـ امري لکه : ځه ! ځی !

٦ـ تېنګاري لکه : ځم دي ځي دي (له دویم وګړي پرته) .

٧ـ ګومانی چی د (ګوندي) او (لکه چی) په ملګرتیا دخبري‌هغه غوندي جوړیږي

لکه : ګوندي ځم ـ لکه چی ځم

٨ـ غوښتنی یی دودنلري .

٩ـ ارمانی چی د تل یا په بله وینا تلل ـ د چارنوم (تللی) په اوز د ولو سره جوړیږي

لکه : زه تللای ـ ته تللای ......

١٠ـ توانی چی د تل یا تلل ـ له چارنوم تلی یا تللی سره د مرستیالکړ (شول)

د اوز ده چارنوم (شولای یا شوای) په ملتیا جوړ ښت مومی او د ټولو وګړو لپاره په همدي یوه بڼه

راځی لکه : زه تللی شوای ـ ته تللی شوای ......

دریم ـ داوسترمهال کړ اوړون (گردان):

اوسترمهال یا مستقبل کړ چی په گانده (ابنده) کی دیوه چارپیښیدل څرگندوي ۰ دجولی اومانا له مخی له اوسمهال سره کوم ستر توپیر نلري دا دواړه مهالونه په یوه نامه ناتیرمهال هم نومول کیداي شی لکه څنگه چی دوکتور تـزي دغه نومونه کاروي ۰ خو بیایی هم د (به) ویکی په زیاتولولـــه اوسمهال سره بیلتون راتلاي شی اوپه دې توگه په پرتلیزه ول د غزیدونکی دغږیدا له مهال نه یوخه وروسته مهال ښیی ۰

الف ـ له لیزند خور ـ اوخوړ ـ څخه:

بشپړلکه: وبه خورم ـ وبه خوري

یا ـ وبه خوړل شم ـ وبه خوړل شی

نابشپړلکه: خورم به ـ خوري به

یا: خوړل کیږم به ـ خوړل کیږي به ۰۰۰۰۰

ب ـ له نالیزند ځ ـ اوولاړ ـ څخه:

بشپړلکه: ولاړ به شم ـ ولاړ به شی ۰

نابشپړلکه: ځم به ـ ځی به ۰۰۰۰۰

دکړ رغاونې (ساختمانـــــــس) ډولونـــــه

دکړ تر بیلا بیلو گرامري ډولونو او اوړونو (گردانو) وروسته غواړو د وین رغاونې (لغوي ساختمان) له مخې د هغه رغاونه او جوړښت ترکتنې لاندې ونیسو ۰ په دې توگـــــه له ځلورو ډولو کړونو سره مخامخیږو : ساده – بیلښتی (اشتقاقی) – شاپشاړ یا خوا پرخوا – تړښتی (ترکیبی) ۰

۱ـ ساده یا یو ستوي کړ چې ستـه یا بنسټ یې له یو گړیزي (یومورفیمیزي) ولې ځخه جوړوي ۰ او اوړونې (تصریفې) مختاړي او روستاړي ورپورې سیده نښلول کیږي لکه خور – چې خورم – خورو – خورې – خوري ۰ – خوري ۰۰۰۰ اوداسې نورې جوړونې تري کیږي ۰

۲ـ بیلښتی یا اشتقاقی کړ ۰ چې سته یا بنسټ یې له یو گړیزي ولې او کوم تاړي (افیکس) ځخه جوړوي ۰ په دې مانا چې دکړ ولې جاج (مفهوم) دیوه تاړي په ملتیا بشپړیږي او ځرگندیږي ۰ یا په بله وینا دغس یو تاړي دجاج او مانا له مخې دکړ ولې نه بیلیدونکې توک گڼل کیږي ۰ په دې توگه که له ولې ځخه لرې کړو تاکلی جاج یې اوري او یایې کوړ ټ له لاسه ورکوي لکه : راغلل – د رغلل – ورغلل – راتلل – د رتلل – ورتلل – راکول – د رکول – ورکول – کښیوتل – کښیناستل ۰ کښې ایستل ۰ کښینول – پوري وتل – پوري وهل – پوري ایستـل – پوري کول ۰۰۰ دغه راز ډیر ستاینومونه او ځیز نومونه هم د روستاړو په نښلونه داوسمهال کړ ولې گرځي لکه : لویيدل – غځيدل – تیریدل – کاریدل – اوبیدل – دودیدل – لاسیدل ۰۰۰ یا لویرل – غځول – تیرول – کارول – اوبول – دودول – لاسول ۰۰۰۰

د بیلښتی یا اشتقاقی او یا مشتق کړ رغاونه داسې لنډه ون مومی :

۱ـ کړ ولې + مختاړي = راتلل ۰ د رتلل ۰ ورتلل ۰۰۰۰

۲ـ ستاینوم ولې + روستاړي = لویيدل – لویول یا غځیدل – غځول ۰۰۰

۳ـ ځیز نوم ولې + روستاړي = اوبیدل – اوبول – یا دودیدل – دودول ۰۰۰

زموږ د ودیزو پوهانو دغې ډلې کړونوته ((یدل والا مصدرونه)) وایې چې یوه ناپوهنیزه نومونه ده ۰

۳ــ خواپرخوا یاسست ترښتی (ترکیبی) کړنه هغه راز کړته وایي چې د کړ ستېس یانبست له د وویاړیرو خپلواکو کړونو (مورفیمونو) څخه هسی سرسري او ښابزیو ځایوالی موندلی وي . په بله وینا یو پوخ ترنګ (ترکیب) یې بللای نشو . د اسې چې سره یوځای شوي توکونه ئه خج له لاسه ورکوي او نه پایلی اوړه دي توګه یې پایلې سره جلا جلا خپله اوړنې (تصریفي) لوښه (خاصه) ترسره کوي حال د اچې په یوه پوخ یارښتینې ترنګ کې د رغنده توکونو (اجزاوو) څخه یوازې او (تصریفي) پایلې پرورستنی توک باندې پنډیدنه اویوکیدنه (تجمع اوتوحید) مومې . د خواپرخوا کړ رغاونه په دې لاندې کړنو (اصطلاحاتو) کې ښوول کېږي :

۱) ځیزنوم + مرستیالکړ = زمری کیدل ــ کول ، زمری کیدل ــ کول ــ زمري کیدل ــ کول . زمری یازمریانی کیدل ــ کول ....

۲) ستاینوم + مرستیالکړ = مړ کیدل ــ کول ، مړه کیدل ــ کول ، مړه کیدل ــ کول . مړې کیدل ــ کول ...

۳) چاروال کړ نوم + مرستیالکړ = سرخوږ ونکی کیدل ــ کول ، سرخوږ ونکې کیدل ــ کول . سرخوږ ونکي کیدل ــ کول ، سرخوږ ونکې کیدل ــ کول ....

٤) بیچارکړ نوم + مرستیالکړ = سرخوږلی کیدل ــ کول ، سرخوږلې کیدل ــ کول ، سرخوږلي کیدل ــ کول ــ سرخوږلې کیدل ــ کول ...

٥) شمیر نوم + مرستیالکړ = دوه کیدل ــ کول ، دوې کیدل ــ کول ...

٦) بیاځلی ستاینوم + مرستیالکړ = تود تود کیدل ــ کول ، توده توده کیدل ــ کول ، تاوده تاوده کېدل ــ کول ، تودې تودې کیدل ــ کول ...

۷) سرېل + ځیز نوم مرستیالکړ = ترلاسه کیدل ــ کول ...

۸) سرېل + ځیز نوم + اوستربل + اړکړ = له سرنه نیول ــ له پښو څخه غورځیدل ــ غورځول ، ترپایه پوري رسیدل ــ رسول ....

٩) ځیزنوم + اوستربل + مرستیالکړ = مخ ته کیدل – کول ، شاته کیدل – کول ...

١٠) ځیزنوم + اوستربل + ارکړ = پای‌ته رسیدل – رسول ، سرته ختل – خیژول ....

١١) ځیزنوم + اوستربل + بیلبنتی کړ = لاس‌ته راوړل – لاس‌ته راوستل ....

٤– ترېنتی (ترکیبی) کړ ، چی له خواپرخوا کړ سرېی په رغاونه کی توپیر دادي چی دلته مله یا یو ځای شوي‌توکونه سره یو نه جلا کیدونکی یووالی منځ ته راوړي په دي مانا چی‌مخنی توکسونه‌یی خپل خج او اوړونی‌تاړي اوله دي سره مانیزه او گرامري‌خپلواکی له لاسه ورکوي او یواځی وروستنی هغه‌یی دگرد ترنگ په ښکارندوی یو غبستلی خج او اوړونی‌نښانی‌ځان ته اخلی . البته مخنی توکونه‌یی یا له آره ناوړیدونی وي (لکه کړولونه) اویایی په همدغه ترنگ کی خپله اوړونی او گرامري جوله اوچاروماناله لاسه ورکړي وي . ترېنتی کړ هم لکه د (خواپرخوا) کړ غوندي په گړنو (ایدیمونو) اړه لري لکه‌په دي بیلگو کی:

ځیزنوم + مرستیالکړ = زړه کیدل (میل درلودل) یا ښکاره کیدل – کول . غلاکیدل – کول (خج پرمرستیالکړ) ککه‌خواپرخوا کړ بدلیږي .

ځیزنوم + مرستیالکړ = زړه کول (جرئت کول)

ځیزنوم + مرستیالکړ = توره کول (غیرت یا میړانه کول) .

ترېنتی ځیزنوم + مرستیالکړ = زړه نازړه کیدل (ټکنی یا مترددکیدل).

بیاځلی ځیزنوم + مرستیالکړ = سترگی سترگی کیدل (انتظار ایستل) برخه برخه – ټوټه ټوټه – ونډي ونډي – لوټی لوټی کیدل یا کول ....

ستاینوم + مرستیالکړ = لوده – شوده – بدمرغه ... کیدل یا کول .

بیاځلی ستاینوم + مرستیالکړ = لوده لوده – شوده شوده .... کیدل یا کول .

بیاځلی کړول + مرستیالکړ = پورته پورته – کښته کښته – وروسته‌وروسته ... کیدل یا کول .

ځیزنوم + ارکړ = پښه نیول – لاس‌اخیستل – سرخوزیدل – ځان پرسول – ځان وهل – ځان وژل – ځان‌ژوبل‌ول او داسی نور منځوال کړونه له اره ترېنتی کړونه بریښی .

دویمه برخــــه :

ناوړیدونې ګړونه(INDECLINABLE MORPHEMES)

دګړپوهې (مور فولوژي) په تیره برخه کې موله نومونو او کړونو څخه خبري وکړي او په هغه ترڅ کې مو د هغو ړولونه او اوړونونه (ګردانونه) وښوول په دې برخه کې غواړو دګړونو (مورفیمونو) یوه بله (دویمه) ډله ترکتنې لاندې ونیسو . د دې ډلې ځانګړتیا (خاصه) دا ده چې د تیري ډلې (نومونو او کړونو) په توپیر ځانته کوم ازاده وییزه (لغوي) مانا نلري بلکې له خپلواکو ګړونو (نومونو او کړونو) سره یې چار او مانا جوتیږي او له کړولونو (قیدونو) پرته دغونه ډلې (جملې) له مرستیالو توکونو څخه ګڼل کیږي . کړولونه بیا له نومونو او کړونو سره داروپا ازاد ګړونـــو (مور فیمونو) ډله جوړوي .

ناوړیدونې ګړونه په دې وروسته توګه بیلابیلې تولې (کټګوري) او ډولونه جوړوي :

لومړي ـ کړولونه یا قیدونه (ADVERBS) :

کړولونه هغه ژبنی توکونه دي چې د یوه کړ پیښیدنې څرنګوالی ښیي د اخرنګوالی دکړ د پیښیدلوځاي یا مهال ټاکي . او یایې څرګند تیا تینګار او داسې نوري ځانګړ تیاوي (خصوصیات) ښکاره کوي . په پښتو کې ا رکړولونه ناوړیدونې دي . نا ارلکه ځینو نومونه او ستاینومونه چې په څرمه ډول دکړولونو په توګه کارول کیږي البته ناوړیدونې نه بلل کیږي . په ټولیز ډول کړولونه دا وروسته ویشنه لري :

١ ـ مهالې کړول : چې د مهال له مخې د یوه کړ پیښیدنه اغیز منوي لکه :

اوس ـ وروسته ـ څکې ـ د مخه ـ پخوا ـ وړاندې ـ سدلاسه ـ سملاسي په سرکې ـ په پیل کې ـ په پاي کې ـ پاي ته ـ بیرته ـ سرته ـ ژر ـ ورو ـ ګړندي ـ ځنډ یا په ځنډ ـ بې ځنډه ـ په بیړه ـ په تلوار ـ په چټکۍ ـ په چابکۍ ـ ووړمه ورځ ـ ووړمه شپه ـ پرون ـ پرون ورځ ـ پرون شپه ـ نن ـ نن ورځ ـ نن شپه ـ نن ګهیځ ـ نن غرمه ـ نن ماښام ... ـ سبا ـ سباته ـ بل سبا ـ بل سباته ـ ګهیځ ـ سهار ـ غرمه ـ ماسپښین ـ مازیګر .

(مازیګر چیري وي لوي مه شــــــې مایه ننګې کې شنه باد رنګ راوړي ووته) .

دوخته ــ ناوخته ــ لمرخاته ــ لمرپرېواته ــ سبز کال ــ پروسبز کار ــ وورم کال ــ لاوورم کال (ته) ــ کال ته ــ بل کال ته ــ لابل کال ته ــ ترخو یاخرــ په تخاسته ــ په منډه ــ دمنډې له مخې ــ دولاي له مخې .

او داسې نور او اونا ار کړ ولونه . بیا ځلې (تکراري) لکه : ژر ژر ــ اوس اوس ...

لنډ پرلنډ یا لنډه پرلنډه ــ لاس پرلاس ...

۲ــ ځون (مکانی) کړ ول : چې دیوه کړ پیښیدنه د ځاي او چاپیریال له مخې اغیزمنه کوي لکـــــه :

دلته ــ هلته ــ دلې ــ هلې ــ دوري ــ هوري ــ مخکې ــ وروسته ــ شاته ــ مخ ته ــ بیرته وړاندې ــ لرې ــ نژدې ... (دغه راز کړ ولونه زیاتره مهالی اوځونی دواړه کاره ورکوي په بله وینا هم مهالی او هم ځونی دي) ــ کښته ــ ورته ــ ناندې ــ باندې ــ دننه ــ دباندې ــ اخوا ــ دیخوا ــ له لرې ــ له نژدې ــ له ورایا له ورایه ــ مخامخ ــ پشی شا ــ مخپورته ــ مخکښته ــ مخ پر وړاندې ــ پرمخ ــ پرشا ــ ستونی ستغ یا ستونی ستاخ ــ سرپرځېنې ... ځاي پرځاي ــ لور دلوره ــ لورا لور ــ کوراکور ...... او داسې نور ار اونا اریا ساده او ترښتی ځونی کړ ولونه .

۳ــ څرګندنی او ځنګاري کړ ولونه : چې دیوه کړ دپیښیدنی څرګند تیا . حالت څرنګتیا یا ځنګار ښیی لکه : په ځغرده ــ په ډاګ یاپه ډاګه ــ ډانګ پیــلی (ویل) ــ پټمنکاره ــ په پټه ــ په څرګنده ــ په غلا ــ په زیارــ په خواري ــ په بیړانه ــ په ویره خوله ــ په زور یاپه زوره ــ په خونبه ــ ورویاپه ورو (اواز) ــ په نره ــ په مړ وسترګو ــ په ټیټو سترګو ــ په ځګوسترګو ــ په هسکه غاړه ــ په کلکه ــ په ټینګه ــ زړه نازړه (کول ــ ویل ...) ــ په ناسته ــ په ولاړه ــ په منډه ــ په ملاسته ــ هرومرو ــ زازو ــ په هر ډول ــ په هره توګه ــ هیڅ په هیڅ یا هیڅ په هیڅه ــ خوشی په خوشی ــ په اوږدو ــ په لنډو یاپه ساره ــ څه ناڅه ــ زړه نازړه ــ لږ و ډیر ...

یاد اوږ دو ګړ نو په بڼه لکه : وانبه پرخوله رسی پرغاړه (ورتلل) ....

دویم ـ وییکی (ادوات PARTICLES) :

د اهم دناوړیدونیو یا ازاد و گړونو (مورفیمونو) یوه غوره برخه د ه او بیلگیی یه دي
وروسته بول دي :

۱ـ اړیکوییکی (ارتباطی ادات CONJUNCTIONS) : چی ښوموه والی او
ځرنگوالی یاورته والی له مخی سره اري او ځرمه غونډلی (جملی)نښلوي اویه دي توگه دوه دوه
سره غاړه کیږي چی له لومړي سره یی زیاتره(چی) هم ملگري کیږي که څه هم(چی) پخپله ځانته
یو اړیکوییکی هم دي . او په گډه د دوو توټو یا غونډلو اړیکی ټینگوي لکه ښومره او هومره دي
غبرگه غونډه له کی . ښومره دیگ هومره تیپر . نوري داسی جوړي لکه : ځنگه چی ـ هسی .
که څه هم ـ بیا هم . ښومره چی ـ هومره یا هماغومره . چیري ـ هلته (چیري دي بنه هلته دي شپه)
هسی ـ داسی ـ همداسی ـ همدا رنگه ـ همدا راز ـ هغسی ـ هماغسی یاهمغسی ـ خو ـ مگر
همدونمره ـ په همدي بول ـ په همدي راز . چی ـ نو . . . . په کدهاري گړدود کس
ځکه هم دځنگه پاره پرځاي کوي لکه چی وایی ځکه چی ناروغ وم نو درمل می وخوړل . (که)
بیاپه اړ ییکو کی یو اړوییکی دي چی د دوو غونډو لو ترمنځ یواړ (شرط) ټینگوي لکه که ته راشی
نوزه به هم راشم .

۲ـ ورتـــی یاتشبیهی وییکی چی په دودیز گرامر او ادبی فنونو کی یی (حروف تشبیه)
بولی هغه وییکی دي چی د دوو یازیاتو شیزونو یا پدیدو ورته والی او مشابهت ښیی لکه :
لکه ـ غوندي ـ په شیر ـ په رنگ ـ په شان ـ په دود ـ په توگه ـ په بول ـ په راز . . . .

۳ـ تړوییکی (عطف توري) چی دوه توکونه (وییی) یاغونډلی سره ملگري کوي لکه
او ـ و ـ که ـ یا ـ سره پدي بیلگو کی : باغ وا ید گلونو یکی ناست وایږه اوته ـ(و) او
(او) سره همغانیږدي اوواځی غږیز (فونو لوژیکی) توپیر سره لري همدغه (او) دي چی په
زیاته کاریدنه پر(و)اوړي لکه موروپلار ـ خور و ورور مگر که له خپلواکپاي ویی سره بل ویی تړل
کیږي نوپه اره بنهـه راځی لکه کاکا او ماما . . .

بل داچې زياتره (او) يو نحوي تړون ښيي او(و) يو لغوي تړون ۰۰۰۰۰ همدارنګه (که) او(يا) هم همغسې توپيري تړوونکي بلل کيږي لکه ښه که بد ښه يا بد – (سره) له نورو تړوونکو سره داتوپير لري چې د ملګرو توکونو(ويپو يا غونډو لو) ترمنځ نه بلکي تړووروسته راځي او هغه سره تړي يا ملګري کوي ۰

٤– تولوونکي (اضافت توري) چې ځيزونه يا پديدې سره يو له بله اړوندوي يا يو د بل تول او ملکيت کوي په جوليز ډول پښتو يواځې يو تولوونکي (د) لري لکه : د هلک خولۍ – د پښتو ټانګه د اسمان ستوري ۰۰۰۰۰ داچې پښتو ټانګه يا دري ټانګه – ادب پوهنځی يا کابل پوهنتون بې (د) ويل کيږي دليل دادي چې په لومړيو دوو ساريو (مثالو) کې پښتو اودري د نورو ژبنۍ نومونو غونډي د ستاينومو بڼې غوره کوي او ستاينوم په پښتو کې په خپل ځيز نوم پوري سيده نښلي نور ساري يې لکه ؛ افغان اولس – باختر اژانس – پښتون ځلمی اوداسې نور ۰ او ادب پوهنځی يا کابل پوهنتون د نومونو او توکونو(ترکيبونو) په توګه د (د) غونډي يونحوي توک ته نوره اړه نلري : نور ساري يې لکه : طب پوهنځی – پلان وزارت – دفاع وزارت اوداسې نور۰(د) د تولوالی ترڅنګه لږ و ډيره مهالی پاره هم ترسره کوي لکه د شپې – د ورځې ۰۰۰ مګر د سربل په توګه د (د) کارونه د ليکنی معياري پښتو له بنسټو څخه چپه بريښي لکه د ځلمی سره د کد هار څخه راغلم ۰ همداراز له تشبيهی ويپکو (غونډي – په ځير – په رنګ ۰۰۰) د يوه (سربل)په توګه هم غاړه کيږي لکه د زمري غونډي ۰۰۰۰ له (– پاره) سره نن سبا د ومره نه مل کيږي بلکي پر(له) اوښتې دي۰

٥– سربلونه(PREPOSITIONEN) او اوستربلونه(POSTPOSITIONEN) :

سربل يا پيشينه هغه ويپکی دي چې تريوه نوم د مخه راځي او په يوه غونډه (فقره) يا غونډه له کې د هغه نوم پير اود ريخ ښيي ۰ لکه (په) په (په کورکې)– (له) په (له ښوونځی څخه) يا (له ځلمی سره) (ترا) په (ترکوره پورې) – (په) په (په تاپورې) اوداسې نورو بيلګوکې ۰ په د يتوګه موږ ګورو چې يو سربل د يوه بل ويپکی په ملګرتيا چې تر نوم څخه وروسته راځي ۰ نوم په تون – وتون اوداسې

نورو پیرزو کی اچوي دغه ترنامه وروسته ملګري ویيکی یی (اوستربل) یا پسینه بلل کیږي ۰ سره له دي چی سربلونه او اوستربلونه دغونډل (جملی) یا په بله وینا په ناخپلواکو او مرستیالو توکونو کی راځی او مانا اوپازه یی د مضنو نومونو یا کړنو او کړولونو په ګاونډ یتوب کی څرګندیدا ي شی ۰ خود اچی پردغو اړو یا خپلواکو توکونو یو ډول اغیز لري او دهغو د ریخونو او پیرونـــه (حالتونه) څرګندوي نو اد اړه کوونکی ـ چلوونکی یا واکمن توکونه هم بلل کیږي (په نحوي تجزیه کی به پري پوره خبري وشی) ۰ د دغه پورتنیو پازو اوندو له پلوه سربلونه او اوستربلونه په دي وروستیو ډولو ویشنه مومی :

۱ ـ په ـ چی اه (کی) اوستربل سره د اړوند (مربوط)نوم تون پیر یا ظرفی حالت څرګندوي لکه (په نړلګی کی) ـ اه (پوري)اوستربل سره بو بل ډول تون پیر یا په بله وینا یوپیو ستون ښیي لکه په ځان پوري ـ په تا پوري ـ ستاپه خبري پوري (بارتباط ګپ شما) ـ له (سره) اوستربل سره یو لوښتییر (الی حالت)را ښیي لکه په بیاتی سره ـ په چړي سره ـ په وینا سره ـ په زور سره ـ په خوښی سره ـ له (پسی)اوستربل سره یو بل راز تونپیر یا پرله پسی والـی څرګندوي لکه : په تاپسی ـ په سختی پسی اسانی راځی ـ په ژمی پسی پسرلی دي لکه په پورتنیو بیلګو کی چی لیدل کیږي کله کله تري ملګري اوستربل لویداي هم شی لکـــه : په خوښه که په زوروي له مظلوم به د ظالم لاس لنډیږي په تا اړه نلري (په تاپوري اړه نلري) ـ په لیکانی لیک کیږي (په لیکانی سره لیک کیږي) ۰ مګر (په کور) له (په کورکی) سره یوراز نه دي ځکـــــــــــــــه (پـــه کـــــــــــــور) له اره (پرکور) دي چی ظرفی نه بلکی استعلایی مانا ښندي ۰ همدا راز په وخت ـ په کال ـ په مازیګر ـ په بجو ۰۰۰۰۰ د پروخت ـ پرکال ـ پرمازیګر ـ پربجو ۰۰۰۰۰ ناسم یا ناکره ښیي دي ۰ همدا خبره د ه چی موږ (په ښتولیکل) او (پرپښتو لیکل)سره توپیروو ۰

۲ ـ پر ـ یو باندینی (استعلایی) وییکی دي چی یو اړوند اوستربل (باندي)یی زیاتره غوږ ځیږي لکه پرمیز باندي یا پرمیز ـ پرځمکه باندي یا پرځمکه ـ پرزړه باندي یا پرزړه ـ

پر سرباندي یا پر سر ـ پرزړه یو څه پرخوله بل څه ـ پروخت ـ پرکور ـ پرکابل ـ پرلمسو بچو ـ پر ۱۳۵٦ کال او داسې نور. پرهم د (په) غوندې زور پای نومونه پراونتس پېړنه اړ زي. له کندهاري او تاریخي ادبي پښتو پرته نور زیاتره ګړدودونه (په) او (پر) سره ګډ وي پیوه وخت یادواړه په الي ـ ارتباطي او تسلسلي مانا کاروي په بله وینا دواړه د (په) پاره پرځای کوي او یادواړه په استعلایي مانا پاپه بله ژبه دواړه د (پر) دنده تر سره کوي. لکه د (په پښتو لیکل) او (پرپښتو لیکل) بیالګې چې د (په) په برخه کې راوړل شوې. په یوه کره لیکنې پښتو کې د دغه دواړو سربلونو توپیر ضروري دي. یوژبنی ارهم دادي چې د وه توکونه یا دودونه په تاریخي او اتمولوژیک ډول هیڅکله هما نیزاو همپازیزنه وي د همدغه ار په ترڅ کې سیمایي ارهم سمبالیزي که په ګړنیو ژبه کې دغه ارونه د ومره پرځاي هم نشي مګرپه لیکنی ژبه کې څو اړخیز ګټور نقش لري. توپیریانه ګډول ـ کاروېش او سپما دنرېح دهري زبې بنست جوړ وي. په دې توګه په کارد ي (په پښتو لیکل) داسې مانا کړ و چې یو څه په پښتو ژبه لیکل کیږ ي نه په بله ژبه او (پرپښتو لیکل) دامانا چې د پښتو په باره کې څه لیکل کیږي نه د بلې ژبې یابلې موضوع په باب. همدارازپرکابل اوسیږم دامانا چې د کابل د ښار په شاوخواکې اوسیږم او په کابل کې اوسیږم داچې دننه په کابل یا کابل ښارکې. په پارسي کې هم د (به) او (بر) توپیر په زړه ادب او اوسني ایراني ادب او لیکنه کې پوره څرګند دي. د (پر) بل اوستربل (سربیره) دې چې ناکره ډول یې (برسیره) هم لزو لیږ دود لري. دغه اوستربل هیڅکله نه غورځول کیږي که نه مانایې له (باندې) سره ګډ یږي او یوکیږي. پرد و ییکو مخري (اداتي ضمیر) ـ پري ـ پرځای کارول چې کندهاري ګړدودواړه لري هم د یاد شوو ژبنیو ارونو له مخې په تولیزه لیکنی پښتو کې د منني وړ نه برېښي. همدا سې تراوېه هم د رواخله چې له ترې او پې یاپري سره ګډول ګډ وړه ي پېښوي.

۳ ـ تر ـ چې د (پر) بله (مقابل) سربل دي هغه داچې ترهرڅه د مخه د پرغوندې د (باندې) نه چې د (لاندې) اند بسندي له دي کبله یې لومړي اوستربل (لاندې) دي چې هیڅکله غورځیدنه نه مني لکه (ترمیز لاندې) چې (ترمیز) بیا ګرد سره باله مانا بسندي

اوهغه تونی او هغالی پیوستون دي لکه ترننګرهاره ـ ترمازیګره چې اوستربل (پوري) یې هرو مرو ملتیا نکوي . دریم اوستربل یې (وروسته) یا را وروسته کړول دي لکه ترغرمې وروسته یا ترغرمې را وروسته ـ ترخلمې وروسته زما واردي .... له څلورم اوستربل څخه (ځنې ـ نه) سره پرتلیز جاج نسندي لکه تر تا څخه زه ښه یم چې دغه اوستربل په غورځیدو (ترتا) هم سم راځي . ددې پرځای چې د نورو ژبو په پیښې ـ سزنې کال د پروسز کال په نسبت پروروندي (بارنده) دي ـ وواېو (سزنې کال ترپروسز کال پروروندي دي) لنډه او کره راځي . (تر) په دغه پرتلیزه (نسبتي یا تدرجي) مانا له (له) سربل سره هممانیز کیږي خو داچې (له ـ څخه) تر هر څه دمخه وتون پیر (منشایي) حالت څرګندوي . نو بیا هم له (تر ـ څخه) سره یې ګډ ول په کارنه دي ـ یالز ترلزه (ترتا ځنې) وکارول شي . له تولوېیکي (اضافت توري) ـ د ـ سره یې ونجول هم پې ځایه دي لکه ننګرهاریان چې وایې : د کوره په ساراخوښ یم ـ دویشه په تالا . خو داچې په ګډه کره لیکې پښتو کې دلته د پرتلې مانا موخه (مطلوب) ده نو (ترکوره پرسارا خوښ یم ـ ترویشه پرتالا) تري سم بریښي اوله کوره پرسارا خوښیم ـ له ویشه پرتالا) دومره تیک اوغوره نه راځي .

دغه راز په ختیز وګردودوکې د (په) ـ (تر) ـ (له) پرځای هم زیاتره (د) کارول کیږي چې دا هم له ژبنیو او معیاري ارونو څخه چپ بلل کیږي لکه د خلمې پسې ـ دننګرهار پورې ـ دمیزلاندې ـ دننګرهارنه ـ د خلمې سره دکندهاره راغلم ـ د پښتو ټولنې دلغاتو دخانګې دخوا ـ د تانه یا ستانه زه ښه یم ..... کره ول یې : په خلمې پسې ـ ترننګرهار پوري ـ ترمیز لاندې ـ له ننګرهاره له خلمې سره له کندهاره راغلم ـ د پښتوټولنې د لغاتو دخانګې له خوا ـ ترتا (څخه) زه ښه یم .....

٤ـ له ـ چې له (څخه ـ نه یا ځنې) اوستربل سره له اره دیوه نوم (وتون پیر) منشایي حالت څرګندوي لکه له سیستانه یا له سیستان څخه یا له سیستان نه او یا له سیستان ځنې . په دویمه (نسبتي) مانایې کارول یې دومره کره نه بریښي لکه پاس چې ورته ګوته ونیول شوه .

(له) له دویم اوستربل (سره سره د ملګرتیا (معیت) جاج ښندي لکه له ځلمي سره تر هرات پورې ملګري وم او داسې نور. په دغه مانا یې اوستربل (سره) پر (څخه یا څه) اړول له ګټې کړه لیکن پښتو څخه چپ بریښي په بله وینا باید (له ځلمي سره) او (له ځلمي څخه) په یوه مانا ونه کارول شي. دریم اوستربل یې (وروسته) دی چې مهالي او ټونې کړول (قید) ورسره جوړ وي او له (تر) سره یې پازه یو کیږي لکه لرغوني وروسته کورنه ځم چې البته (ترغرمې وروسته ترې) زیات غوره بریښي په بله وینا (وروسته) د (له) نه بلکې د (تر) معیاري وسرتربل دی. څلورم اوستربل یې (راهیسې) دی چې یو مهالي کړول ورسره جوړ وي لکه له پرونږ کال راهسې – له پېرو کلو راهیسې – له پخوا راهیسې .... ناکره یې: د پرونږ کال راهیسې – د پېرو کلو راهیسې – د پخوا راهیسې ...... په دې توګه (راهیسې) د یوه اوستربل په توګه باید په (نوم) سیده ونښلول شي او بل کوم زیاتي اوستربل یا بل ژبنۍ توکتري د مخه نشي په بله وینا (له پېرو کلو څخه راهیسې) نه بلکې (له پېرو کلو راهیسې) وویل شي (د پېرو کلو را په دېخوا) هم مانیز اندول دي خود پارسي (ازسالهاباینطرف) ټکي پرټکي اړونه ده او د ومره رواني اولنډون هم نلري. د (له) پنځم اوستربل (پرته) دی چې د (سره) په او مقابل جاج ښندي دا مانا چې د اړوند نوم ملګرتیا نه چې بیلتیا اونشتوالي څرګندوي لکه له بللیو پرته نابللي هم راغلي وو.

٥– بې – چې زیاتره د (نا) غوندې یوستاینومیز (صفتي) مختاړي دي لکه بې کوره. خولز وبېره سربلي ځانګړتیا هم لري او هغه هم زیاتره د (له) په ملګرتیا او د یوائینې اوستربل (څخه – نه یا ځنې) په درلودلو، لکه بې له تا څخه – بې له هغه څخه چې بې له تا او بې له هغه هم ویل کیږي مګر (بې تا) ویل کیږي او (بې هغه) نه.

(بې) تل یو خپلواک سربل نه دی.

٦– و – یو پخوانی سربل دی چې له (ته) او ستربل سره ورتلون پیر (مفعول له حالت) څرګندوي چې پخوانی څرک یې په لویدیزو (کندهاري) ګړ دود وکې پاتې دي او نورو ټولو ګړ دودو وله لاسه ورکړي او د هغه اوستربل (ته) یوستوی کاروي لکه: وتاته وایم– وښوونځي ته ځم...

دمنځنی دوري شاعرانو هم ډیر کارولی اولاکله یې د دیمځلی ترنوم وروسته هم راوړي او اوستریل (ته) سره بیا هم پتلیز (جرخت) نښلولی لکه رحمان بابا چې وایي : خدای وماوته ښکاره کړ هغه لمریږئ [illegible] (ه) [illegible] راوړلی دي لکه : پیرمحمد کاکړ چې ویلی دي : سوزگداز د محبت هسی ومارا ۰ په هره ترگه د دیو نکو د ډیر ښت په لا سوند تر (و ـ ته)، (ـ ته) زیات معیاري ارزښت لري ۰

۲ـ د ـ که څه هم په ترلیز توگه یو تولوبیکی دی خوله (غوندي) اردا سی نوروتشبیهی اوتونی وییکو سره د سرېل په توگه هم راځی خوبیا هم د تولواکی ځانگرتیا نښي لکه د ځلمی غوندي پـه رنگ ـ پرخیر ـ په ډول ـ په راز ـ په توگه ـ لپاره د کوردننه ـ د کورد باندي ۰۰۰۰ چې ترکوردننه ـ ترکور د باندي باید دانا ورکړي ۰ چاپیر ـ چارچاپیرپاگرد چاپیر ـ تاوراتاو ـ کښته ـ پورته ـ پاس ۰۰۰ هم د تراوستریلونه دي ۰ پرپورتیو وییکو سربیره ۰ ځینی نور راز راز وییکی هم شته چې په غونډه لږ کی بیلا بیلی پازي لري په دوي کی د ځینو پازي صرفی بلل کیږي او ځینی نحوي او ځینی د واړه ډوله ۰ صرفی لکه (به) چې د نا بشپړ اونا خبري (لکه گوماني) اراو ستر مهال کړ یږتوك جوړوي یا (نه) ار (مه) چې کړ نفی یانهی کوي ۰ یا (که) چې اړوییکی دي ۰ غونډه له پوښتیز یا نحوي لکه (نه) د منفی ځواب په توگه ـ (هو) د مثبت ځواب په توگه. چك (ولی نه) هم ځواب په توگه ـ (سره) په صرفی ډول لکه سره تلل ـ په نحوي ډول یا په بله وینا د اوستریل په توگه لکه له ځلمی سره ولاړ ـ (بیا) د کړ ول او هم اړیکوییکی په توگه ـ (مگر) یا (خو) د اړیکوییکی په توگه ـ کورت ـ بیخی ـ چورت ـ هډو ـ سوچ ـ چورلټ ـ ورټ ـ بیخپوره ـ لا ـ ان ـ هن ـ اېله ـ په متهي یا متهي ۰۰۰ د مرستیالو کړولونو په ترگه ـ و ـ یه ـ یا ـ آ ـ او ـ ای د بلن وییکو په توگه ـ (ایا) د پوښتوییکی په توگه ۰ پاروییکی لکه اخ ـ ارخ ـ اوش ـ اوه ـ آه ۰۰۰ چې د نا ځانی خوښی یاوېري اوداسی نورو هیجانونو (پاریدنو) ځرگندونه کوي چې ترا رو او مرستیالو توکونو وروسته دغونډه لی د توکونو د یمه ډله جوړوي او پرځپل ځای ځیر ل کیږي ۰

وبنا وابنتی یا تکیه کلاموته لکه ماسکه – غوله یا غولی – مړه – یامړي – غوچی – چی دي ... کاکا گوري – ماما گوري ... هم لـبزو پهیرپه یوستوو او ترپنتي ویکو کی راځی . چی د یا ریلن ویکو یا پاروییکوغوندي نوموني پازه نه پرځای کوي بلکـی راز راز ننگیرنی (احساسات) څرگندوي .

۳ـ کـــــړاونـــــه

۱ـ کړڅه رازگړ دي؟ څه او څنگه څرگند ونه کوي؟

۲ـ مصدرله کړ سره څه اړیکی لري اودغه نوموته (اصطلاح) دڅه لپاره کارول کیده او کارول کیږي؟

۳ـ دیوه کړ بنسټ او اساس څه څیز دي اوبه څه نامه یادیږي؟

۴ـ بواوړون موندلی کړ څومره توکونه ارچارونه دړلودای شی؟

۵ـ مهال پرڅو بوله دي؟

۶ـ کړنوزي څه ته وایی اوپرڅو بوله دي؟

۷ـ وگړي اوگڼه سره څه توپیر لري؟

۸ـ چاروال – بیچار او منځوال کړ پهیویو ساري (مثال) راوبیژنی!

۹ـ کړ نوم یا حاصل مصدر څه ته وایی او څو بوله جوړیدای شی؟

۱۰ـ توانی کړ څنگه جوړیزي؟

۱۱ـ بشپړ (مطلق) او نابشپړ (غیرمطلق) کړ سره څه توپیرلري؟

۱۲ـ لراولنډ کړ پهیویو ساري ونښیاست!

۱۳ـ کوزاتیف یا لیزند چارکړ څه ته وایی؟ لهیوه ساري سره یی ونښیاست!

۱۴ـ کړول څه ته وایی؟

١٥ــ د لاندې وروسته غونډو ونه یا عبارتونه کوم کوم ډول کړولونه دي او په غونډو لو کښې څه پازي پرځاي کوي؟

په بېړانه ــ په ځغرده ــ په ډاګه ــ ډانګ پېلی ــ هرو مرو ــ هیڅکله ــ ژر ــ ژرژر ــ ورو ــ په ورو ــ په زور ــ په خوښه ــ په ناخوښه ــ ورورورو ــ دلته یا دلی ــ هلته یا هلی یاهله ــ دننه ــ دباندې ــ دلاندې ــ شاوخوا ــ ګرد چاپېر ــ دپاسه ــ کښته ــ له کښته ــ پورته ــ له پورته ــ په لوي لاس ــ په غلا ــ په پټه ــ په ښکاره ــ په ښرګنده ــ په غوږ اوی یاپه غوږ مالی ــ په ټیټو سترګو ۰۰۰۰ نن ــ پرون ــ وړمه ورځ ــ سږ کال ــ پروسږ کال ــ کال ته ــ بل کال ته ــ پسرلی ته ــ د شپې ــ د ورځې ــ غرمه ــ مازیګر ۰۰۰۰

٤ــ کړاوونه (تمرینونـــــــــه)

١ــ سربل څه ته وایی او ستربل څه مانا؟

٢ــ پښتو ټول څو ستربلونه او اوستربلونه لري او هغه کوم دي؟

د دې لاندې غونډولو تشځایونه په سمو سربلونو او اوستربلونو ډک کړئ!

٣ــ ۰۰۰ کابل کې د ژمې سا ړه وي ــ ۰۰۰ زړه به دي یوه وي ــ دریښه به شی بله ــ زه ۰۰۰ لیکانی سره لیکل کوم ــ زه ۰۰۰ انګلیس ۰۰۰ روس ښه غزیدای شم ــ کوچیان داوړي ۰۰۰ کابل وي او د ژمې ۰۰۰ ننګرهار ۰۰۰ اوس ــ زما په کالیو ۰۰۰۰ مه خاندئ! ببین ۰۰۰ تور اوښتل یا بدلیدل ــ اوبه ۰۰۰ ډانګ بیلول ــ ۰۰۰ زده کړې پس ملا وتړه ! په تا ۰۰۰ اړه نلري ــ زه کور ۰۰۰ پنځو بجو ځم ــ ۰۰۰ غره باندې واوره اوري ــ ۰۰۰ ډیوې لاندې تیاره ده ــ ځلمی سربیره زمري هم راغی ــ ۰۰۰ ځلمی پرته نور ټول ولاړل ــ ۰۰۰ ټولګی دننه ــ ۰۰۰ ټولګی دباندې ــ سپوږمۍ ۰۰۰۰ منځ د اسمان راغله ــ یاخوخوب نشته یا خوما ۰۰۰ نه راځینه ــ که غم ۰۰۰ غمه شرمیدلای ــ ۰۰۰ مابه نه راتلای ځولی ځولی غمونه ــ ۰۰۰ تور ټوپک ویشتلی راشی ــ

دبې ننګې اوازدې مه را ځه مينـــه ! ديار ۰۰۰ پاره د رمســـال جاروکمـــــه ۰۰۰
ګود ر سور سالو بنـــــکاره شـــو ـــ اشنامې سر۰۰۰۰ وطن کينبود ـــ ۰۰۰۰۰
تار د زلفو به کېن ورته ګډېږ مه ـــ که زما عمر ۰۰۰۰ ضرور وي تير به شينه ۰۰۰۰ لويو غرود خداي
نظر دي ۰۰۰ لمن ۰۰۰۰ يې زيږ ګلونه ـــ که ولاړ شې ۰۰۰ بلخه د رسره د ه خپله
برخه ـــ ګلاب ۰۰۰ اصله شاهزاده دي ـــ راميبل چاميبل يې اردليا ن ورسره ځينه ـــ ۰۰۰۰
ګود ر څه ګانه راوشوه ـــ چې کشره خور يې ورسره ګود ر ۰۰۰ ځينه ـــ ما ۰۰۰۰ په سرو زرومنظور
دی ـــ که دجانان ۰۰۰ لاسه توري خاورې وينه ـــ خپه پرې نه يم ۰۰۰ جانان سره به يمـــه ـــ
۰۰۰۰ خدارو سترګودي جارشم ـــ چې ۰۰۰ ژړ اشې مرغلري توينه ـــ ۰۰۰ وچه ږ اګـــه
دلونګو بوي راځينه ـــ زما ۰۰۰ تشه خند استه ـــ مابه جانان ۰۰۰ لاس نيولی ګرځوونـــه
که شينکی خال مې د چړ ږ ۰۰۰ څوکو ينه ـــ چې ۰۰۰ سنګره پورې زه د رسره ځمــــه
سپوږ مې ۰۰۰ دي څه احسان دي ـــ زما جانان ۰۰۰ ديواله سيوري ته ځينه ۰

د پښتو ګړونو (مور فيمونو) د ډلبندۍ انځور ليـــــــك



د ریمــــه برخــــه

غونډ له پوهه (نحـــو SYNTAX)

لکه څنګه چې دغږ پوهې د وییني یوون (د بحث واحد) غږ دي او دګړ پوهې هغه ګړ دي، نو دغونډ له پوهې د وییني یوون غونډ له (جمله) ده . په بله وینا غونډ له پوهه د غونډ لو ـ دغه راز دغونډ ونو (فقرو) او ګڼیو (ایډیمونو) جوړ ښت او پېژلونه ترکتي اووییني لاندې نیسي .

غونډ له (جمله) :

غونډ له دګړ ونو اوډیزونو یوډاسې اوږ لړ غونډ (کل) دي چې یو بشپړ جاج (مفهوم) او نرخه (مطلب) اوري پوهول کیږي . له بله پلوه داچې خبري یا وینا په غونډ لو کیږي او پر غونډ لو خبري اووینا نه تر سره کیږي . نو داسې یې هم پیژند لای شو :

غونډ له دخبرو ـ وینا یا ګړ هغه بشپړ خپلواکه ناشنوني رغاونه ده چې تېري بلـه ستره رغاونه نشته . په بله وینا : غونډ له دخبرو اووینا تر ټولو لوي یوون (واحد) دي .

دغونډ لې جوړ ښـــت :

غونډ له لوړي پړاوو برخو یا غونډ ونو (فقرو یا ګروپونو) ویشل کیږي چې یـې یوه ته نوموال (اسمي) او بل ته کړ وال (فعلي) غونډ وایي . دپاژي له مخې نوموال غونډ ته ایښي (مسند الیه) او مبتدا ـ او کړ وال غونډ ته ایښوني (مسند) یاخبر هم ویل کیږي .

په ایښي کې یاکړ ندی له خپلوار وند وسره راځي (که په څاروال کړ اړه ولري) او یا کړ ي له خپلو اړوند وسره (که په بیچار کړ اړه ولري) . په ایښوني کې کړ او کړ ي د واړه له خپلو اړوند و سره راځي په دې اړ چې کړ څاروال لیږندوي که نه یوازې کړ له خپلو اړوند وسره راځي . دکړ ند او کړ ي اړوند ونه ستاینوم ـ شمیرنوم ـ ټولنوم (مضاف الیه) ـ ټولوییکـ

پیژندوییکي او داسې نور ضروري وییکي کیداي شي اوډکړ هغه کړولونه (قیدونه) . په دې

توگه‌ټول لوي اووار ه یا خپلواك (ازاد) اوناخپلواك یا ناور یدونی گروننه اوتوکونه په یوه غونډله کی راغونډیدای شی او دهمدغو توکونو په کتوالی اوزیاتوالی سره زري یا لوي غونډلی منځ راځی •

د یوې غونډلی د شتوالی لزه کی ار یا بنیادي توك گردان شويکړ دي • که هرڅومره ژبنی توکونه سره لزي ځ شی اوکرونه لري • غونډله جوړ والای نشی اوپه سرچپه ډول پخپله گردان شويکړ دیويغونډلی لزه کی اندازه ده لکه خورم – ښنم – ځم اود اس نور • ځینی ناد وده یا غیرعادي غونډلی چی کړ ین غورځی اوبیا هم غونډلی بلل کیږي هغه بلن غونډلی یا ندائیه غونډلی دي لکه : په پښتیانا ! په ځلمیه ! دغه راز – هو – نه – بنه ښنگه – ولی اوداسی نور په نښتو ځري هم نیمگړي یا اندي ي کړ شويغونډلی دي هغه هم دخبرو اترو اوډیالوگ په ډول لکه چی یوووایی : ته ناروغ یی – بل داس ځواب وایی : هو – نه – ولی – ښنگه اوداسی نور •

اوس د یوي پوره ساده غونډلی څو بیلگی وړاندي کوو :

۱– ځلمی راغــی

اینبــی اینبونی

۲– د ځلمی ورور راغــی

اینبی اینبونی

۳– د ځلمی مشرورور نن کابل ته راغی

اینبی اینبونــی

٤– د ځلمی یوورور نـن له کندهار څخه کابل ته راغی

اینبــی اینبونـــی

٥– ځلمــــی لیك کازي

اینبی اینبونــــی

٦– یوهلك یو لیك کازي

۷– یولیك کتبل کیږي

اینبــی اینبونــــی

په لومړۍ غونډه کې هم اینښ (مسندالیه) له یوه ساده کړنډ څخه جوړ وي او هم اېښوونی له یوه ساده کړ څخه . په دویمه غونډه کې اینښ له داسې کړنډ (وروړ) څخه جوړ دي چې (نخلمی) ورسره د تولنوم (مضاف الیه) او (د) ورسره د تولوییکی په توګه اړوند (متعلق) بلل کیږي خو اېښوونی لا هماغسې یو یو ستوی کړ (راغی) دی . د دریمې غونډې دا اینښ کړنډ (وروړ) یو ستاینوم (مشر) ـ یو تولنوم (نخلمی) او یو تولوییکی (د) دخپلو اړوندونو په توګه له ځان سره ملګري کړي او په اېښوونی کې کړ (راغی) له ځان سره یو مهالی کړ ول (نن) او یو تونی کړ ول یا په بله ژبه مفعول له (کابل ته) دخپلو اړوندونو په توګه ملګري کړي دي .

د څلورمې غونډې په اینښ کې کړنډ (وروړ) له ځان سره یو پیژند (یو) د (حرف تعریف) ـ نخلمی د تولنوم او (د) د تولوییکی په توګه ملګري کړي او په اېښوونی کې یې کړ (راغی) یو مهالی کړ ول (نن) او دوه تونی کړ ولونه (له کندهار څخه) او (کابل ته) په خپلې اړوندې کې لري . دلومړي تونی کړ ول په دروتوکونو کې (کندهار) د سربل او اوستربل (له ــ څخه) په ملتیا وتونپیر (مفعول منه حالت) موندلی دی او په دویم تونی کړ ول کې (کابل) د اوستربل (ته) په ملتیا ورتلونپیر (مفعول له حالت) .

سرله پنځمې څخه د پورتنیو څلورو غونډو پرخلاف د ناليزند (لازمی) کړ ځای لیزند (متعدي) کړ نیسي او په دې توګه یې کړي (مفعول) ته هم اړتیا پیداشویده . د پنځمې په اینښ کې کړنډ (نخلمی) بیوبستوي راغلی او په اېښوونی کې یې کړ (کاږي) له کړي (مفعول) سره ملګري شوی او په شپږمه کې اینښ د تولنوم (عام اسم) په توګه له هلک سره د پیژندنې او تیاکسې لپاره ورسره پیژند (یو) هم ملګري کړي دي او همدا راز د اېښوونی له کړي (لیک) سره هم یو پیژند . دلومړي پیژند پرځای بل نوی پیژند (څوک یا کوم) او د دویم پیژند پرځای بل پیژند (کوم) هم راتلای شي په بله وینا (یو هلک یو لیک کاږي) (څوک یا کوم هلک کوم لیک کاږي) سره څومره پیژ او څرنګیز (کمي او کیفي) توپیر نلري .

اوومه غونډله بيا دپنځمې او شپږمې غونډلې غونډې چاروال ليږندکړنه بلکې بيچار ليږندکړ لري په دې توګه يې کړي (ليک) له خپل پيژند (يو) سره ايښی جوړوي او (کښل کيږي) ديوه تړښتی کړ په توګه ايښوونی ٠ دغه رازکړي (ليک) چې دکړندځای نيسې او کړ وړيوري اړه (اسناد) پيداکوي ٠ نوړه دوديزه نومونه يې (نائب فاعل) بولی ٠ دادي دپوره څرګند تياپاره دځو بيلګو غونډلو انځورليک (ګراف) وړاندي کوو :

۱ــ ناليږنده غونډلــه :



۲ــ چاروا له ليږنده غونډله :



۳ـ بیچاره لیزند ؛ غونډ لـــه :



دغونډ لی رغنده توکونـــــه :

پاس‌مو پردوو برخو (اینبی او اینبونی) دغونډ لی ویشنه وکړه دلته غواړو په تولیز ډول پې ټول رغنده توکونه (ګړوته) ترکتنی لاندي ونیسو او ډهغو دخومره والی لمخی دغونډ لي جولیز (شکلی) ډولونه ونومو و ۰ دغه توکونه ټول ازاد یا خپلواك ګړونه اولــه ناخپلواکو یا تړلیو ګړونو څخه یواځی وییکی را اخلی ۰ البته تاړي د ازادو ګړونو دنه جلا کیدونکو توکونو (اجزاوو) په توګه دغونډ لی سیده توکونه (عناصر) نه بلل کیزي په دي توګــه یې که ازاد توکونه او ړ ون موندلی ــ بیلیښــتی (اشتقاقی) او تړښتی (ترکیبی) هم وي دغونډ له پوهی (نحوي) له پلوه بیاهم د شننی وړ نه دي بلکی هر یو دغونډ لی یو یواځینی ټـــــوك (جز ۰) یا توك (عنصر) او یا یوون (واحد) ګڼــل کیزي لکه : خورم ــ خورو ــ خوړلــی ــ خوړونکی ــ خوړل ــ ورکوم ــ ورکوو ــ ورکړي ــ ورکوونکی ــ ورکول ۰۰۰ زمري‌کیدل ــ کـــول ــ لاسته راوړل او داسی نور ۰ د ساري په ډول (زه خپلو شاګردانو ته په درنه سترګه ګورم) ۰

غونډله په نحوي ډول اته ټوکیزه بلل کیږي چې څلورېې (زه — ته — په — سترګه) ساده ټوکونه (ګړونه یا ویپونه) دي او څلورېې (خپلو — شاګردانو — درنه — ګورم) داوړونې (تصریفي) تاړو په د رلودلو سره اوړونې ټوکونه (ګړونه یا ویپونه) دي . یا (ځلمي یو کتاب ترلاسه کړي دي) په غونډله پوهیز ډول یوه پنځه ټوکیزه غونډله ده چې یې (ځلمي — یو — کتاب — دي) ساده ټوکونه (ګړونه یا ویپونه) دي او (ترلاسه کړي) یو تړښتي ټوک یا ګړ اویا ویې . ځکه له شننې سره یې اوسنی یواځینی مانا له منځه ځي او تړښتي چاج له لاسه ورکوي .

دغونډلې ټوکونه په لاندې ډول ډلبندي کیږي :

۱— ازباخپلواك ټوکونه چې ټول ازاد ګړونه را اخلي . نومونه (څیزنومونه — ستاینومونه — شمیرنومونه — نومځري) — ګړونه (ار — مرستیال یا ساده — بیلښتي — خواپرخوا— تړښتي) او کړ ولونه (ار او ناار) دي .

۲— مرستیال ټوکونه . چې په دوي کې ناوړیدونې ګړونه (ویپکي) راځي لکه اریکو بیکي — تړوییکي — سرېلونه — او ستربلونه او داسې نور .

۳— په دریمه ډله کې انګیو بیکي — پارویکي — بلن ویکي او داسې نور راځي

لومړی ډله (ارټوکونه یا خپلواك ټوکونه) دموضوع څرنګوالي — څومره والي — چاړوالي (فعالیت) او داسې نور جاجونه (مفهومونه) نوموي اویا ورته نغوته کوي یا په بله وینا هم ویپزه (لغوي) مانا ښندي هم پښوییزه دغه ډله ار او کړولونه پرته ټول او ړیدونې ګړونه را اخلي .

دویمه ډله (مرستیال ټوکونه دنومونې او نغوتې پازه نه بلکې یواځې پښوییزه مانا اوچارلري . مرستیال ورته په دې وایي چې دغونډلې دارو ټوکونو — غونډونو او غونډلو ترمنځ اړیکې ټینګوي .

په دریمه ډله (پارویکي — بلن ویکي ...) دنومونې پازه نلري او دبیلا بیلو ځانګړو ننګیرنو څرګندونه کوي پارویکي لکه دخوښې (واخ — وخ — اوخ ...) یا

دخپگان انديښنې اوداري (واي ــ ري ــ اه ــ اوه ــ ېښنن ــ وش ــ الا ياهله ــ آه ۰۰۰)
اودا سې نورې هيجاني چغې سورې او آوازونه ۰ بلن وييکې لکه دځناورو او مرغانو
ښيلانې او هغوی يا رتې اوشرنې لپاره لکه اوښه ! اخه ! کښې ! ټښه ! ۰۰۰ ځ !
کج کج ! ګوري ! وركيش ! پيش پيش ــ خخ خخه ۰۰۰ ځي ! ځکځکه ! کورکور ! (خروته)
ښخښه ۰۰۰ مګر انګيسې پيښې يا دنوموني پاره تر سره کړي لکه بغ ــ بم ــ بوسغوټ ګړ
او دا سې نور بې مانا اوازونه چې د طبيعي پيښو په بڼه له خولې راوځي ۰ په دوی کې ځينو
داروغتيو ترکونو (څيز نومونو) ارزښت هم پيدا کړي وي لکه درز ــ غرز ۰۰۰ (دغو ځينو اوازونه) ــ
ګرزيا ــ ترزيا ــ ټپ ــ ټرپ ۰۰۰ (دوهمې اوازونه) او دا سې نور (د څيز نوم ولوــــه
دی هم وکړل شي) ۰

اوډون (ترتيب)

اوډون دا مانا چې په يوه غونډ له کې بېلا بېل يا دشوي وغندې توکونه سره ځنګه
اوډل (ترتيب) شوي ۰ ځنګه دو ويل چې په لومړي دوه برخېز رښتګې ديزې غونډ لې ترموال
غونډ (اينېي يا پېل او نامېيد) د شخه ارکړ وال غونډ (اينونې يا پای او يا خبر) وروستــــه
راځي ــ کوي په نوبه هر يوه غونډ له کې دبېلا بېلو توکونو ځای اوازه نه د هرې ژبې يوه بېلوونکـــي
نښانګر تيا بلل کيږي ۰ لکه څنګه چې ژبې په څو تيرو بيلګه غونډ له ترتې شه ناخه وليدل چې په لومړ ی
برخه (اينېي) کې که يونا ليږ ند يا چاروال ليږند کړ والا غونډ له ړي ۰ کړ ند (فاعل) ځانته يا
له خپلوا ږ ونو توکونو سره راځي او که يو بيچار کړ والا غونډ له وي ۰ کړي ځانته يا له خپلو
اړ ونو توکونو سره راځي او په اينونې کې کړ که نا ليږند او يا بيچار ليږند وي او نور اړ ونده وته
لکه کړ ولنه ــ پيوند ونه ــ تړ انو مونه ــ شميرنومونه اوراز راز وييکي . په اينونې کې کړ نده تر ټولو
اړ ونده توکونو وروسته راځي. په کړ نده تر مخه د کړ ند نوې ي سناکونکي لکه پيښونه ــ ستاينوم يا شميرنوم
او يا ټرلنوم او يا د هغه تر مخه تولمييکي راځي لکه په دې بيلګو کې

۱ــ یو سړي ــ راغی یا : یوه سړي ــ ډوډۍ وخوړه .

۲ــ یو غټ سړی ــ راغی یا : یوه غټ سړي ــ ډوډۍ وخوړه .

۳ــ د ځلمی مشرورور ــ ولاړ یا : د ځلمی مشرورور ــ وینا وکړه .

۴ــ د ځلمی دوه ورونه ــ ولاړل یا : د ځلمی دوو ورونو ــ وینا وي وکړي

۵ــ د ځلمی دوه مشران ورونه ــ ولاړل یا : د ځلمی دوومشرانو ورونو ــ وینا وي وکړي .

۶ــ زما یو کشرورور ــ کورته ولاړ یا : زما یوه کشرورور ــ واده وکړ .

په اینبونی کی کړ (آریا مرستیال) ترنورو توکونو وروسته راځی که دغه کړ له دوو غبرګو (آر او نا آر) کړ څخه جوړ وي نو آر تر مخه او نا آر (مرستیال) وریسی بیخی پاي ته راځی . ترکړ (اریا مرستیال) دمخه کړي (که کړ چاروال لیزندوي) او کړي بیا له خپلو اړوندونو وروسته ځاي نیسی . کړول (که چیری وي) زیاتره ترکړي دمخه راځی خو که دوه کړولونه په یوه اینبونی کی راغلی وي او یو مهالی اوبل تونی یا بل ډول وي نو زیاتره مهالی له تونی یا بل کړول اوکړي څخه مخکی کیږي . تونی یا بل کړول بیا کیداي شی ترکړي وروسته ځاي ونیسی لکه په دي لاندي غونډه لو کی :

۱ــ زمري ــ نن ازمونه ورکړه .

۲ــ زمري ــ (نن) (په بریالیتوب سره) ازمونه ورکړه .

۳ــ زمري ــ (نن) (له خپل ورور سره) (له کندهاره) (کابل ته) راغی .

په پاسنیو غونډه لو کی (نن) مهالی کړول دي (په بریالیتوب سره) او (له خپل ورورسره) څرګندنی او (له کندهاره) او (کابل ته) تونی کړولونه دي . همداراز (ازمونه) او (خپله ازمونه) کړي (مفعولــــونه) بلل کیږي .

دغونډه لی بشپړ اند توکونه :

سرپیره

یوه غونډه له پریورتیو نومول شویو توکونو څخه بشپړ اند (متمم) توکونه هم لري لکه اخج ــ اهنګ ــ بیلتون اوپیوستون او دغونډه لو دپاي غاړه (لحن) . دغزپوهی له مخــــ

دغه ځانګړ تیاوي (خصوصیات) دویمنی اوازونه (فونیمونه) بلل کیږي چې د لومړیو یا اروا وازونو (لکه ا ــ ب ــ پ ــ ت ــ ټ ... ي) غوندې دګرهار په بهیر کې د پرله پسیوالی یاتسلسل (لینیال) لونده نلري او دغونډ له پوهی له مخې هماغسې مانیز او چاریز (تعاملی یافنکشنال) نقش او اغیز لري لکه ارتوکونه (ګړونه) ځکه دغونډ لو مانیز اوینسوییز ولونه سره توپیروي . نوله دي کبله خج ــ اهنګ ــ بیلتون او پیوستون اودغونډ لو دپای غاړه (لحن) د غونډ لی بشپړ اند توکونه بلل کیږي .

۱ــ اهنـــــګ :

دغونډ لو اهنګ څلور ډوله دي : خبري اهنګ ــ پوښتنی اهنګ ــ هیښنی اویلنی (تعجبی اوندایی) اهنګ او امري اهنګ . په بله وینا خبري ــ پوښتنی ــ هیښنی اویلنی اوامري غونډ لی سره دځپلو ځانګړ و اهنګنو په مرسته توپیریږي .(۱)

۱ــ دخبري غونډ لی اهنګ اوار پیل کیږي اوبیا غورځیدلی پروت پای ته رسی

لکه : زمري ــ راغی .



۲ــ دپوښتنی غونډ لی اهنګ ټیټ پیل موي او بیا نیغ شوي پروت پای ته رسی

لکه : زمري ــ راغی ؟



که په سرکی یې پوښتنو مخري یا پوښتوییکی راشی بیانو اهنګ په سرکی لوړیږي .

۳ــ دهیښنی ــ بلنی ــ ګومانی اود اسی نورو غونډ لو اهنګ کابو یوراز راځی اوهغه داچی ټیټ پیلیږي بیا پورته ځی اوپه پای کی ریب پای ته رسیږي لکه :

زمري ــ راغــی !



۲ــ خــج :

لکه څنګه چې په غږ پوهه کی ورته نغوته وشوه . غونډ له یې خج هماغه پیاوړي خج دي چې د نورو توکونو په ترڅ کی یې پریوه راشی اوهماغه خجن توک تر نورو توکونو زیات موخن

۱ــ دلته له پوهاند الهام څخه الهام اخیستی شوي (روش جدید در تحقیق دستور زبان دري ۱۴۲ ــ ۱۴۴ مخونه ــ همدا راز د زبار د ژبپوهنی بنسټونه هم د پاملرنی وړ دي .

(مطلوب) ښيي • نور ټوکونه یا هیڅ خج نلري او یا د هماغه یوه پیاوړي خج تر اغیز لاندي کمزوري ویل کیږي • په دي ډول د ري رازه غونډ له ییز خجونه سره توپیروو • پیاوړي — لږ پیاوړي او کمزوري لکه داولمیر په دي سندره کی (ستاد سترګو بلا واخلم بیا دي سترګی وړی سري دي) پر (ولی) پیاوړي — پر (واخلم) لږ پیاوړي او پر (سترګو) کمزوري خج اوریدل کیږي •

۳ـ بیلتون او پیوستـــــــون :

بیلتون او پیوستون د امانا چی دغونډ و یا غونډ لو د پاي وییونه سره پیوست اوبی لارغه (بی‌مکثه) وویل شی او یا سره ناپیوست په لارغه (مکث) • په دي توګه که د هماغو یوراز غونډ و یا غونډ لو ترمنځ بیلتون پر پیوستون بدل شی او یا سرچپه • نو هغه جاج او مانا یی سره نه توپیریږي چی د وینکی موخه او مطلب وي • داچی دغه بیلتو ن او پیوستون یواځی د نحوي یوونو (واحدونو) ترمنځ نه بلکی دغږ پوهیزو هغو ترمنځ هم نقش او اغیز لري نو د خج آهنګ او غاړي (لحن) غونډ ي بیلتون او پیوستون له اره دویمی اوازونه (فونیمونه) دي • بیلتون او پیوستون د لیکونکی په دي کړ ي (بیت) کی ښه تراجوتیږي :

کړي که بخشش د وصل رازیاره — زړه سوزول پرما ملنګ ښـــــــــه د ي •

دلته که (ز) له مخنی وییی یا په بله وینا له مخنی اواز (الف) سره پیوست وویل شـــی مانا یی دا شی راځی چی (یه یاره !) که ماته (د وصل راز) را بخشش کړي او که نه (ز) له (یاره) سره پټلیزه وویل شی یا په بله ژبه د (الف) او (ز) ترمنځ بیلتون او — لارغه راوړل شی بیا د امانا ښندي چی (یه زیاره) که ماته (د وصل بخشش) راکړي په د ي توګه که د مخنی مانا موخه وي • په کار دي د (راز) او (یاره) وییونو یا په بله وینا د (ز) او (ي) ترمنځ په وینګ (تلفظ) کی لارغه او بیلتون او له بله پلوه د (الف) او (ز) ترمنځ پیوستون راشـــی • او که وروستی مانا موخه وینو په کار دي د (را) او (زیاره) یا په بله وینا د (الف) او (ز) ترمنځ لارغه اوبیلتون او له بله پلوه د (ز) او (ي) ترمنځ پیوستون راشی •

او که وروستی مانا موخه وي‌نو په کار دي د (را) او (زیاره) یا په بله وینا د (الف) او (ز) ترمنځ لاړغه او بیلتوا او له بله پلوه د (ز) او (ي) ترمنځ پیوستون راشي . په دي ډول ترمومري نیم بیتي یا غونډه له دوه رازه کاږو :

دلومړي مانا له مخې : کړي که بخشش دوصل راز — یاره !

د دویمې مانا له مخې : کړي که بخشش دوصل را — زیاره !

همدا رنګه د راډیو افغانستان د خبرلو ځانګړي ځـایه بیلتون او پیوستون په دي وروسته غونډو لو کي خوږه مانیز بدلون پیښوي : دجنوبي افریقا صدر اعظم جان — فورسترووبل — دنیپال پاچا دیواډن — خپل هیواد ته ستون شو . په دي توګه (جان) دصدر اعظم توک ګرځي نه د فورستر او (ډن) د (دیوا) توک ګرځي نه یو جلاوي (کړول) . لیکنبی د نورو غونډي د همدا راز د ویښیو توکونو (خپج — اهنګ — لحن بیلتون او پیوستون ....) سمبولونه بلل کیږي .

دایښي او ایښوني سمون :

دایښي او ایښودنې ترمنځ همغه سمون مطلب دي چې دګنې — نوزي او وګړي له مخې دکړند یاکړي او کړ ترمنځ راځي . دګڼې له پلوه سمون دا چې که کړند یو ګړي وي نو کړ ورسره یو ګړي راځي او که کړند ډېر ګړي یا ډېر ګړي ډله ول (لکه جنس) وي . کړ ورسره ډېر ګړي راځي دنوزي له پلوه دا چې که کړند ښځینه وي کړ ورسره ښځینه کارول کیږي او که کړند نرینه وي کړ ورسره نرینه کارول کیږي او د وګړي له مخې سمون دا چې کړ باید له هر یوه وګړي (لومړي — دویم — دریم) سره سم وکارول شي نه دا سې چې دلومړي وګړي کړ د دویم وګړي لپاره په کار واچول شي او دا سې نور . لکه په ګړ پوهه کې موچې ولیدل دغه دود (قاعده) بیدودي (استثناء) لري لکه په چاروال لیږند . تیرمهال کې چې کړ د کړند نه بلکې د ګړي (مفعول) اړوند (تابع) دي په بله ژبه دګنې — نوزي او وګړي له مخې کړ له ګړي سره سمون خوري نه له کړند سره . همدا راز دغه سمون په اوس مهال کې یوازې دګنې او وګړي له پلوه څه ناڅه رښتینوالی موي مګر دنوزي له پلوه هیڅ نه . په دي وروسته غونډو لو کي دایښي او ایښودنې ترمنځ سمون له ټولو استثناګانو سره لیدای شو :

۱ـ نالیزند تیرمهال :

۱) زه —— راغلم

۲) ته —— راغلی

۳) دي —— راغی

۳)دا —— راغله

٤) موز —— راغلو

٥) تاس—— راغلاست

٦) دوي —— راغلل

٦) دوي —— راغلس

۲ـ لیزند تیرمهال (چاروال) :

۱) ما —— خټکی وخوړ

ما —— خټکي وخوړل

ما —— هندوانه وخوړه

ما —— هندوانی وخوړي

۲) تا —— خټکی وخوړ

تا —— خټکي وخوړل

تا —— هندوانه وخوړه

تا —— هندوانی وخوړي

او همداسی د دریم وګړي لپاره ۰

۳ـ لیزنـــد تیرمهال(بیچار) :

۱) زه —— وخوړل شوم

۲) ته —— وخوړل شوې

۰۰۰۰۰ همداسی ترپایه ۰

۴ـ ناليزند اوسهـال :

۱) زه —— ځم

۲) ته —— ځې

۳) دي ــ —— راځي

. . . . . . همداسې ترپايه .

۵ـ ليزنداوسهال (چاروال) :

۱) زه —— ډوډۍ خورم

۲) ته —— ډوډۍ خورې

۳) دي ــ دا —— ډوډۍ خوري

. . . . . . همداسې ترپايه .

۶ـ ليزنداوسهال (بيچار) :

۱) زه —— خوړل كيـــزم

۲) ته —— خوړل كيزې

۳) دي ــ دا —— خوړل كيزي

. . . . . . همداسې ترپايه .

نوموالـه اوكړ واله غونډ لـــــه :

كه ديويځونډ لى په اينونى كى دآريا مرستيالكړ (لكه خوړل ــ كيدل ــ شول) پرځاي يواځى (دي) اريا ددغه مرستيالكړ نوري بڼې اوډولونه راشي . هغه غونډ لــــه (نوموالـه)غونډ له پالل كيزي كه نه كړ واله غونډ له.لكه زرين ــ روغ دي يا و ــ يا : هلكا ن ــ ناروغه دي ياو . زرينـــــه ــ ناروغه ده ياوه يا : نجونى ــ ناروغى دي ياوې .

دغوندې لی ماڼیز ډولونـــه :

غونډ لـــی دکړ دودله مخی په خبري یا بیانیی اوناخبري‌یا انشایی اویاالتزامی غونډ لو ویشل کیږي ۰

١ـ خبـــــري :

١ـ ببرك ——— ولاړ

٢ـ ببرك ——— تللی دی

٣ـ ببرك ——— تللی و

٤ـ ببرك ——— تـــه

٥ـ ببرك ——— ځـــی

٦ـ ببرك ——— به ولاړ شـــی

۰۰۰۰ او دا ســـی نور ۰

٢ـ ناخبـــــــري :

١ـ ببرك ——— ولاړ ؟ (پوښتنی)

٢ـ ببرك ——— ولاړ ! (هیښنـــی)

٣ـ ببرك ——— به تللی وي ! (گومانی)

٤ـ (کاشکی)ببرك ——— به تللی وای ! (ارمانی)

٥ـ ببرك ——— د ي تللی وای ! (ټینگاري)

٦ـ (که) ببرك ——— تللی وي (اړوتی)

٧ـ ببرکـه ——— ځـه ! (امري)

٨ـ ببرك ——— به ولاړ شی (گمانی او ټینگاري)

۰۰۰۰۰ او دا سی نور ۰

دغونډ لي جوليز ډولونه :

دجولي او شومره والي له مخې غونډ له يو ستوي وي يا غبرګه ـ يا ګډه او يا ګډ لي .

۱ـ يوستوي غونډ له هغه راز غونډ له ده چې له دوو غونډ ونو (اينس او اينسونس) څخه جوړه وي لکه :

خلمې ـــــ ييوه کوي

يوغښتلي سړي ـــــ په خفاسته راغې

دکندهار انار ـــــ خوازه دي

بوره ـــــ نشتـــــه

. . . اوداسې نور . يوستوي غونډ له دنورو دروډولو بنسټ بلل کيږي .

۱) اړه يو ستوي غونډ له چې يې اينس له يوه (کړ ند) يا کړي او اينسونې له يوه (کړ) ـ او ډليزند په ترڅ کې ـ له يوه (کړ) څخه جوړ وي او ددوه له مخې ددغو دروواړو توکو (کړ ـ کړند ـ کړ) اړوندونه له دوو توکسو څخه تيري ونکړي لکه :
زمرك ـــــ خــــس

زرك ـــــ اوبه څښــــي .

يوه نجلي ـــــ يو ليکې لولي .

يوه ښکلې نجلي ـــــ يـــو پند ليکې لولي

زما يو ملګري ـــــ هيڅکله خپل کورنې کار نه هيروي

۲) ارته يو ستوي غونډ له چې په اينس يا اينسونې يا دواړو کې دکړ ـ کړند يا کړي يا دروواړو اړوندونه له دوودوو توکونو څخه تيري وکړي او به دي توګه يکـــــس

زيات ارتوالي راشي لکه : دعراق دعربي جمهوريت رئيس حسن البکر ــــ په بله مياشت د افغانستان دجمهوري دولت پايتخت مرکز کابل ته راشي .

يا : دافغانستان دجمهوري دولت يوه کلتوري ډله ـ دشوروي اتحاد دپوهنو داکادمۍ په بلنه هغه هيواد ته سفر کوي . . . او داسې نور .

۲ـ غبرگغونډ لــــه :

غبرگغونډ له هغه ده چې دیوه اینې او یوه اینوټې پرځای دوه دوه اینې او اینوټې ولري یاپه بله وینا که دیوې پوهونې او مطلب دبشپړتیا یادوو اړوندو مطلبو دڅرگندونې لپاره سره دوې غونډ لې په کوم اړیکویکې یا لارغه(مکث)غبرگې اوملگري شي. یوه غبرگغونډه له منځ ته راوړي. داړیکوییکو دډولونو له مخې سره ډول ډول غبرگغونډه لې توپیرولای شو دغبرگغونډ لې په دواړو بیلا بیلو غونډ لوکې یوه اره یا خپلواکه اویله څرمه (فرعې)یا بیواکه غونډ له بلل کیږي .اره یا خپلواکه په دې مانا چې ار مطلب او موخه یې څرگندیږي اوځانته په خپلوښود ریداي شي . څرمه یابیواکه په دې مانا چې ار مطلب اوموخه یې نه څرگندیږي اوځانته پخپلو ښو دریداي نشي په دې توگه په یوه غبرگغونډ له کې بیواکه یا څرمه له خپلواکې یااري سره دیوه مطلب په څرگندونه کې مرستیاله او بشپړوونکې اوسي. داړیکویکو له مخې د غبرگغونډ لې ډولونه په لاندې توگه ښوول کیږي :

۱ـ تړ غبرگغونډ له : چې دواړه یوستوې غونډ لې یې په یوه تړوییکې (او) یا لارغې سره یوځای شوې وي لکه :

زما زوي اووه کلن (دې) او لورمې شپږ کلنه ده.

یا : زما زوي لس کلن دې اوستا لور دولس کلنه(ده).

۲ـ اړوتې غبرگغونډ له : چې یې یوه (زیاتره لومړۍ) یوستوې غونډ له بیواکه او بله (زیاتره دویمه) خپلواکه وي . په دې توگه دلته بیواکه غونډ له آړ (شرط) بلل کیږي او خپلواکه اړوتې ، لکه :

که ته راشې ـ زه به راشم.

که وریځ سپینه شي ـ باران کیږي .

که شمال نه وي ـ ونه نه ښوري .

دکه په وړاندې داړوتی غونډه لی په سرکی د (نو) اړیکوییکی هم راتلای شی لکه: که شمال نه وي ــ نو ونه نه ښوري.

۳ــ توسنی (علتی) غبرگغونډه له: چی یی دواړه یوستوي غونډه لی سره په یوه یاغبرگو توسنو ییکو (ځکه ــ ځکه چی ــ چی ــ داچی ــ په دي چی ــ نو ...) غبرگی شوي وي. په دي ډول خپلواکه توسنی (معلوله) اوبیواکه توسن (علت) غونډه له نومیداي شی لکـــه:

زه راغلم ــ ځکه تابللی وم یا: زه راغلم ــ پــه دې چی تابللی وم.

تابللی وم ــ ځکه راغلم یا: تابللی وم ــ نو ځکه راغلم.

ځکه راغلم ــ چی تابللی وم یا: ځکه راغلم ــ په دي چی تابللی وم.

داچی تاوبلی وو ــ نوراغلم یا: څنگه چی تاوبلی وو ــ نو ځکه راغلم...

٤ــ څرگندنی (بیانـــی) غبرگغونډه له: چی دویمه مله غونډه له دلومړۍ هغــی دزیاتی څرگندتیا لپاره وي اوځیوي پوښتنی ځواب وایی: ددغسی څرگندتیا دڅرنګوالی له مخی دالاندې کوچنی ډولونه دیادولو دي:

۱) موخنه یامراسی څرگندنی غبرگغونډه له: چی په خپلواکه غونډه له کی د راغلی مطلب یا پیښــی موخه په بله څرمه غونډه له کي څرگنده شی لکه:

سنک ایران ته ولاړ ــ چی ځانته کار مزدوري پیداکړي.

زه راغلم چی تاووینم.....

۲) مهالی څرگندنی غبرگغونډه له: چی لومړۍ (بیواکه) غونډه له ددویمی (خپلواکی) غونډه لی څرگندکړي چار اوپیښی مهال اووخت تاکی لکه:

چی ته راغلی ــ زه به ولاړ شم یا: چی ته راغلی ــ نو زه به ولاړ شم

کله چی ته راغلی ــ زه به ولاړ شم یا: کله چی ته راغلی ــ نو زه به ولاړ شم

سم چی ماووریرانیست ــ پرهغی می سترگی ولگیدي.

زه به هله درشم ــ چی ته می وغواړي.

یا : زه به هله د رشم — هرکله چې ستا وغوښتم

هومره به دې مې نکړم — څو دې زنګ دمړي نکړم

هله به خبرشې — چې تاروجبې له ورشي !

هله به دې په یادشي — چې دې یودبوال ته مخ بل ته دې شاشي !

۳) تونې څرګندنې غبرګغونډوله : چې څرمه غونډه له یې داري لپاره تون(ځاي) وټاکې لکه : چیري دې نه — هلته دې شپه !

چې‌نه کار — هلته څه کار ـا: چې دې نه کار — هلته څه کار !

چې له کومې راغلې یې — پرهماغه ځه !

چیري چې اوسې — په خوي به د هغوي شې یا : چیري چې اوسې — په خوي به د هغـوي اوسې !

یا د پردیو ژبو په یې ځایه پېښو لکه :

د هند جمهوررئیس شوروي ته ولاړ — (چیري) چې له شوروي مشرانو سره خبري کوي

دلته (چیري) یو زیاتي توک دي . البته له (چې) سره (کوي) نه بلکې (وکړي) راځي .

(تون) د زیاتې څرګندنیا لپاره له (چې) سره (هلته) هم ملګري کیداي شي لکـــه :

د هند جمهور رئیس شوروي ته ولاړ چې هلته له شوروي مشـرانو سره خبري کوي .

۴) وګړیزه څرګندنې غبرګغونډه له : چې په د واړو ملوغونډو لوکې راغلې کړندیاکړي یو (وګړي) وي لکه :

څوک چې خوبکړي — نرګس به زیږوي .

یا : د نورو ژبو په پېښو په نا سم ډول :

ځې : هغو خوارو ته جنت وګټو — (څوک) چې له موره دوزخیان پیدا دي

دلته د اپایله اخیستلاف شو چې (څوک) د (چیري) — (کوم) — (څه) — (کله) او داسې نورو څرګندنو اړیکو ییکو غونډې یو اځې دهماغې څرمه غونډه لې په سرکې له (چې) سره راتلاي شي چې تر اري دمخه وې دغه توپیر په تیرو دواړو ساربو (مثالو) کې نه ترا لیداي شو .

۵) څیزواله ځرګندنی غبرګغونډه له : چی په دزاړ و ملوغونډ لو کی راغلی کړندونه
یا کړي یو (څیز) وي لکه :

څه چی کړي — هغه به ریبـــی

څه چی وي —— هغه به وي

٦) کړولی (قیدي) ځرګندنی غبرګغونډه له :چی ددواړ وغونډ لواړیکو ییکـــس
کړ و لونه وي لکه :

اـــري ځـه — ژرژاځــــــــــه

یاد دي لنډی دویمه برخه : پراویږ غرو دخدا ینظر دي — پرسرین واوري— پرلمن ین زیرګلونه

۷) پرتلیزه ځرګندنی غبرګغونډه له : چی ددواړ و ملوغونډ لو اینس سره داړیکو ییکو
په وسیله اندیږل — پرتله یا همځیر شوي وي لکه :

ښنګه دیګ — هسی تیپـــریا : هسی ین تیپـــر (کړ پرینبوول شوي)

ښنګه غر — هسی ین کړیوړي (کړ پرینبوول شوي)

یو ین ګنهی — سل ین ښتی

سل دي ومره — یونډي مه مره

یا : سل دي ومره — د سلو سردي مه مره

سل پننګان سرځی — دیوي شمی ژړ ا سره

۸) اړپیچنـــه (متضاده) ځرګندنی غبرګغونډه له : چی داري اوځرمی ځرګندونی
یا اینس سره اړ پیچ یا بیه والی (تضاد یا تقابل) ولري لکه :

که څه هم بازیاړ ایستلی نه و — (خو) بیاهم بریالی شوم

سره له دي چی ناروغ وم — پوهنځی ته راغلم

یا : سره له دي چی ناروغ وم — خو بیاهم پوهنځی ته راغلـــم

یا د یوي یارتي یوستوي غونډ لی په بنه :

له ناروغی سره سره پوهنځی ته راغلم .

له ولسه وو ځـــه — له نرخه مه ووځـــه

که غر لوي دي — پرسر یې لار ده

خپل خپل دي — پردي په پیرو نارو خپل دي

دښمن به دي وخندوي — دوست به دي وژړوي

شمه که سوزیږي رڼـا هم لري (گوره په خندا کی ژړا هم لري)

۹) سرغاړي (منصرفه) څرگندنی غبرگغونډله : چی دویمه (څرمه) غونډ له یی دلومړ ی (اري) له څرگندونی څخه سرړنړوي او نور زیات څه څرگند کړي لکه :

ځلمی گرم نه دي — بلکی زمري گرم دي

یا :ځلمی گرم نه دي — چی زمري گرم دي

۱۰) بشپړ انده څرگندنی غبرگغونډله : چی دویمه (څرمه) یی د دویمی (اري) دجاج (مفهوم) په بشپړو لو یا پراخولو کی مرستیاله اوس لکه :

خوشال خټـک نه یواځی شاعرو — چی تورزن هم و یا :بلکی تورزن هم و .

یا :خوشال خټک یواځی شاعر نه و — چی تورزن هم و یا :بلکی تورزن هم و .

یا : خوشال خټک لوي شاعرو — چی لا اتل هم و .

دلته گورو چی (نه یواځی) د (چی هم) یا (چی لا هم) او یا (بلکی هم) په ملگرتیا د دواړو غونډ لو اړیکی ټینگوي یا په بله وینا (نه یواځی) او (چی هم) یا (نه یواځی) او (چی لا هم) یا (نه یواځی) او (بلکی هم) د دواړو ملو غونډ لو ترمنځ دبشپړ تیا اړیکی څرگندوي .

همدومره خبره ده چی که د پورویی (بلکه یا بلکی) له کارونی څخه پ ه وشی نودپټـــنی (جبران) لپاره یی په همامغه څرمه غونډ له کی د اینبی پرار توک باندي یو پیاوړي خج راوړل په کار دي چی له همدغه خج سره اهنگ هم پټلیز (جوخت) لوړ ولاړ شی .

۲ـ ګډه غږونه لـــــه :

ګډه غږونه له هغو ته وایي چې په هغه کې له دوو نه زیاتې غږونه لی پرله پسې راغلي وي او څرګندونې یې سره یو له بله کوم ډول اړیکې او اړوندې ولري . او د اځـــــې هماغه یوه یوازینی مطلب د بیلا بیلو ملو غږونو له مخې په بیلا بیل ډول څرګندیدنه موندلی وي . نو زیاتره یې یوه غږونه له خپلواکه یا اره وي او نورې ټولې ملې ورسره بیواکه یا څرمه وي . په ګړتي (محاوروي) پښتو کې ګډي غږونه لی زیاتره له دوو غبرګغږونو څـــخه جوړ وي چې په دې ډول په دواړو یو ځای شوو غبرګغږونو کې دارو او څرمو غږونو شمیر یو برابر وي لکه په دې لنډۍ کې :

ښه دي چې سترګې دې ورېدي ـــ که چیرې غنـس واي خوړلای به دې ومه

یارې د کوټ زه د تیرا یــــــم ـــ خدایه کوټ وران کړي چې جوړه تیزاله ځونه

په لومړۍ لنډۍ کې لومړي برخه (مسره) یوه غبرګغږونه له ده چې اره غږونه له پکې ښځــــه او څرمه وریـس ده . دویمه برخه (مسره) یوه بله غبرګغږونه له ده چې څرمه غږونه له له اري غږونه لی ترمخه راغلي ده . داچې په لومړۍ مسره کې دویمه (څرمه) غږونه له په څرګندنې ویکـــس (چې) پیل شوي نو ټوله لومړي مسره یوه څرګندنی غبرګغږونه له بلل کیږي او داچې په دویمه مسره کې لومړي (څرمه) غږونه له په اړویکو (که چیري) پیل شوي نو ټوله دویمه مسره یوه اړوتی غبرګغږونه له ده . دواړې مسرې (غبرګغږونه لی) سره بیا په یوه توښنی اړیکي ـــ چې په لاړغه څرګندیږي ـــ یوه ګډه غږونه له جوړوي . نو له دې پلوه زموږ یامنی لومړي لنډۍ یوه توښنی ګډه غږونه له ده چې یې د غړیو غږونو لو شمیر څلوروته رسیږي او لومړۍ یې (ښه دي) اره غږونه له بلل کیږي او که دغې لنډۍ ته د دوو غبرګغږونو له په سترګه وګورو نو لومړۍ غبرګغږونه له (لومړۍ مسره) اره او دویمه غبرګغږونه له (دویمه مسره) څرمه ده . د دویمې غبرګغږونې لی بیا دویمه ملغږونه له (خوړلای به دې ومه) اره یا اړوتی او لومړۍ هغه یې (که چیري غنـس واي) څرمه (اړ) بلل کیږي .

اوداهم د لومړۍ لنډۍ (ګډې غونډلې) لښتیلیک (جدول):

۰۰۰ | اینونی اړیکوییکی اینی | اینونی لارغـه ۰۰۰ | اینونی اړیکوییکی اینی | اینونی

له پټ اینی سره اره   خرمـه   لهپټ اینی سره خرمـه   اره

ــــــــــــــــ لارغه ــــــــــــــــ

لومړۍ څرګندنې غبرګغونډله   دویمه اړوتې غبرګغونډلـــه

توسنې ګډه غونډلـــه

همدارازدویمه لنډۍ دیوې ګډې غونډلې په توګه جوتولای شو او هغه داچې داهم یوه توسنې ګډه غونډله ده مګر په همدومره توپیرچې دلته توسنې غبرګ غونډه له ترېلې (ترغبرګغونډلې) دمخه شوې ده. اویل داچې ترټولو وروستې غونډه لهیې اره ده او په دې توګه ټوله دویمه غبرګغونډله (مسره) د لومړۍ غبرګغونډلې (مسرې) په وړاندې اره بلل کېږي په دې ګډه غونډه له (لنډۍ) کې د لومړي ملې غونډه لې (یارمې ـ دکوټ) اینونی د (د) په غورځونه چې یوه شعري اړتیاده نیمګړې دي. دغه راز دڅلورمې (اري) ـ اینی خپلواکه جوله نلري اوداچې د لومړۍ غبرګغونډلې دواړې ملې سره په یوې لارغې ترل شوې یا عطف شوې دي نو یوه تړ غبرګغونډله بلل کېږي.

داهم د دغې دویمې ګډې غونډلې (لنډۍ) لښتیلیک:

اینی | اینونی (بې کړه) لارغه اینی | اینونی لارغـه اینی | اینونی اړیکوییکی ۰۰۰ | اینونی

خرمـه   خرمه   خرمـه   بې اینی اره

ــــــــــــــــ لارغه ــــــــــــــــ

لومړۍ خرمه تړ (عطف) غبرګغونډله   دویمه اره توسنې غبرګغونډلـــه

توسنې ګډه غونډلـــه

یادښت: پرتوسنې ګډې غونډه لې سربېره نورې راز راز ګډې غونډه لې هم پیداکېدای شي تشبیهي لکه دښکارندوي په دې کړۍ کې:

هرېلود ګلووزم دي لونلـــی ـــ ته واراغله له ختـــه کاروانـــونـــه

یا د حمید دغه لنډۍ :

سینه مې دیګ زړګی مې غوښې ــ اوښکې اوبه دي بیلتون اور بې کوینــــه

٤ــ ګډلې (مختلطه) غونډه له :

ګډلې غونډه له هغه ده چې دیوې یوستوې غونډه لې په منځ کې یوه یا زیاتې څرمه غونډه لې ورننوتې وي ٠ دغه راز څرمه غونډه لو ته منځپینې (معترضه) غونډه لې ویل کیږي ٠ جوړښت یې داچې داريغونډه لې تر اینې (مسندالیه) یا دهغه ترکومې برخې وروستــه دهماغه اینې یا برخې په اړیکې (ارتباط) یوه یا زیاتې غونډه لې په څرمه ډول راشي او بیا د اري غونډه لې پاتې برخه ترټولو پاي ته راووځي ٠ په ګړنې پښتو کې ګډ لې غونډه لــې ډیري لږي کارول کیږي اوهغه هم په دومره پیچلې بڼــه نه ٠ د امانا چې نه اره غونډه له یکې دومره ارته وي اونه یکې منځپینې تریوې زیاتې وي او هغه یوه هم دومره ارته نه وي که نه په غبرګو او ګــډ وغونډه لو اړ ول کیږي ٠ دلته لومړي ګړنې اوبیا لـه لیکنې پښتو څخه دګډ لو غونډه لو بیلګې را اخلو :

۱) زه چې کورته ځم ــ رخصت اخلم ٠

۲) ځلمی چې پرون راغلی و ــ ما ونه لید ٠

۳) ما پروفیسور مورګن سیترنې ــ چې د اوروستی ځل کابل ته راغلی وــ ونه لید

یا دغبرګې غونډه لې په ډول : ما د اوروستی ځل پروفیسور مورګن سیتــرنې ونه لید ــ چې کابل ته راغلـــــی و ٠

٤) خوشال خټك ــ پخوا تر دې چې په ګوالیارکې بندي شي ــ له اورنګ زیب سره په داسې میړانه ــ چې ساري یې نه درلود ــ جنګ وکړ ٠

دا یوه دوه اړخیزه ګډ لې غونډه له ده په دې توګه چې دلومړۍ اري غونډه لې (خوشا ل خټك له اورنګ زیب سره په میړانه جنګ وکړ) دوه منځپینې غونډه لې راغلې دي چې لومړۍ یې (په ګوالیارکې بندي شي) د اینې (خوشال خټك) په ګوالیارکې بندیکید ل څرګندوي اودویمه یې

(ساریږي نه درلود) د اینبوني (جنګ وکړ) دیوه کړول (په میړانه) څرګندوي اوبیا وړیکوي ٠ (پخواتړې — چې) او (داس — چې) د دروازړو ملوغوندولو ترمنځ داړیکو ییکو دند ه پرځاي کوي لومړي زماني اړیکې او دویم څرنګیز اړیکې ٠

دلته وینو چې داړې غونډ ه لې اینبې (خوشال خټك) له خپل اینبوني (جنګ وکړ) یوناد و ده لرېوالی لري نو په دې لاندې ډول دغه لرېوالی له منځه وړلای شو :

خوشال خټك — پخواتردې چې په ګوالیارکې بندي شي — له اورنګ زیب سره په داسې میړانه جنګ وکړ — چې ساري یې نه درلود ٠

دننۍ کاسرې نړۍ په غونډو او اغیزو سره دغه راز غونډې لې په ((لیکنې)) پښتو کې مخ پرزیاتید و اوپیچلې کېدودي لکه :

۵) دیونان نومیالی فیلسوف اپلاتون — چې په اسلامي نړۍ کې دلوي نامه خاوند شو — دلویدیزې نړۍ لومړي پوهاند دې — چې دږې دبنسټ او څرنګوالي په باب یې فلسفي څیړنه کړېده — اوله دې لامله دلویدیزې نړۍ دپوهنې پرانیستونې اود پرله غښتې ګرامر برسیرونې ګڼل شویدي ٠

٦) دیونان ستري جنګي بوللې یا حماسې ((ایلیاد او اودیسې)) چې سپېڅلي ګڼل کېدې په خورا لرغونو زمانو کې په داسې یوه ژبه او سبك کښل شوي وې چې کابو نابومه (نامانوسه) شوې (الهام : وږمه — ٦ ګڼه ۱۳۵۱) ٠

په پنځمه ګډلې غونډ ه کې یوازې (دیونان نومیالی فیلسوف اپلاتـــــــــون ـــــــــــــــــ په اسلامي نړۍ کې دلوي نامه خاوند شو — دلویدیزې نړۍ لومړي پوهاند دې) رښتینې ګډلې غونډ ه جوړه کړې — ځکه دیوي اړې ترمنځ یوې منځپیښې غونډ ې ځاي نیولې دې — او وروستۍ نورې دوې ورسره په څرګندنې اړتوښنــــــــــه دزیاتې څرګندونې لپاره ملګرې شوې دې ٠

ګرنـــــــس یا اصطلاحــــــات (IDEOMS)

په غونډه له پوهه کی موتر او سه دونبا بشپړ یوونونه (واحدونه) یاپه بله ژبــه غونډه لی وخیرلی اوبه ترڅ کی مو واړه واړه وبی غونډونه یا لغوي ګروپونه (فقري) چی دګرنو (ایدیمونو) په نامه بلل کیږي •

پیژندون (تعریـــــف) :

یوه ګرنه یوداسی وبی غونډه دي‌چی دراز راز مانا لرونکو (دوویاډیرو) وییـــو او وییکو څخه منځ ته راغلی وي اوپه ژبه کی یونا اټکل کیدونکی لرغونتوب لري • یوه ګرنه تل په جولیز ډول یوناشنونی او ټینګ یووالی نه وي خوپه مانیز ډول بوناشنونی غونډه (مجموع) ګڼل کیږي • په بله وینا یوه ګرنه د داسی وییو غونډه دي چی په یوه غونډه له ییز یاپه بله وینا غونډه لمپوهیز (نحوي) چاپیریال کی ځانته بیلا بیله جولیزه څپلواکی ساتلاي شی • د ساري په ډول له هر راز اوښتی راوښتی سره مخامخیداي شی خوپه ګډه چی کومه یوه بواځینـــی مانا منځ ته راوړي نه شنل کیدونکی مانا بلل کیږي دغسی یوه منځ ته راغلی ګډه مانا کله داسی وي چی دټوکونو (اجزاوو) له بیلا بیلو مانا وو سره څه ناڅه ورته والی اواړیکی لري او دشنلو (تجزیه کیدلو) پروخـتـین ګډه مانا کورټــه له منځه نه ځی — د چاخبره یو ځرک هومره یی لالګیږي لکه برخه اخیستل — سرپرځنی کیدل مقصد ته رسیدل — وروسته پاتیدل خوله پرخوله کیدل — پرمخ تلل — لاسته راوړل یاراوستل — له منځه وړل ••• او نور •

په دویم ډول ګرنوکی ګډه مانا داسی وي‌چی دبیلا بیلو ټوکونو ماناوې یی ښکارندوي نه شی‌کولاي او له ټوټــه ټوټه کیدو سره هر ټوک‌څپلی ګونی اري مانا ته ورګرځی کټ مټ لکه دیوه کیمیاپی ترنګ ټوکونه (د ســاري په ډول هایدروجن او اکسیجن چی یوبی هم ځانته دخپل ترنګ ((اوبو)) ښکارندوي نه شی کولاي) بیلګی یی لکه : غوږ ږول — زړه مړیدل — زړه خوږل زړه ماتیدل — زړه پخیدل — سپینی ښوییدل — ښتیدل یا غوټه کیدل — پـزي ته رسیدل سترګی رییدل — لاس ترزنی کیناستل — لاس پرسرکیدل — لاس اخیستل او داسی‌نوري کنایی او مجازي مانا ښندونکی ګرنی •

دریم — هغه ګړنې دي چې دمتلو او بولنو (مقولو) په ډول وي یا په بله وینا یوه غوره وینا وجیزه ډوله یامقوله ډوله ویناوي او یا متلونه وي د امانا چې کومې کیسې ته ګوته نیسي او هره یوه دګړډا ر په بهر کې دیوه ناشنونکې وین غونډ (لغوي ګروپ) په توګه لکه یوه ګړنه کارول کیږي کټ مټ دشاعرانه ارسال المثل غوندي لکه : دګبرجام نسکور دي — پلانۍ او بیستانۍ سره نوک اواوري دي — پلانۍ او بیستانۍ دیوې سورې ماران دي یا دیوې باغچې ګلان دي — په یوه ګل نه پسرلی کیږي — داهم په انارو — خوند یې باران وري دي — دکوهي خټـــه پرکوهي لګي — وروري خوري به کړو حساب ترمنځه — یوه بلابلې ته وایي چې بو — بنه بنه د ي بدبد دي — خپل عمل دلاري مل — دجولا منډه ترموزي پوري وي — لري څه — ژړراخــــــــه — مه کوه پرچا چې رابه شي پرتا — لاس چې مات شي دغاړې بارشي یا غاړې ته ورځي — دچا پرتوګا بن تنستیدل (خجالت کیدل) — پرپچه سپړدل او کشمیر لیدل — لورپه لوټه تیره کول — اوبه له ورخه تیریدل — اوبه په ډانګ بیلول — چې په نازلوییږي په زیار زړیږي . (لکه پدي کړي کـــس : چې په ناز لوی شي په زیار زړیږي — زه په زیار لوي شوم په ناز ژړیــږم اوداسې نور . له هسې عادي بولنو اومتلونو سره ددغه رازګړنوتوپیر همدومره دي چـــې دلته بولنې او متلونه په جلا او خپلواک ډول دوینا له بهیره بهر — دیوې کړې یاشوې وینا دټینګار پخلي او جوتتیا لپاره په خرمه او سرباري (اضافي) ډول نه بلکې پخپله داري وینا یا یوه ویناییز یووالي (غونډ لې) دیوه نه جلا کیدونکې توک اوبرخې په توګه کارول کیږي له دې کبله د داسې تضمین شوي یا استخدام شوي متل یا بولنې ارښه تل خوندي نه پاتېږي . (لکه په پاسنې شعر کې) خو په هر ډول دیوې ګړنې غوندې دوینا یا غونډلې دننه دمانـــــا او جولې له مخې یونه شنل کیدونکې وین غونډ اوبرخه جوړ وي لکه بخرزي — لاس ترزنې کیناست په دې غونډ له کې (لاس ترزنې کیناست) ګړنیز غونډ (کل) دي چې دیوې غونډ لې اپسونې یې جوړ کړي دي . نورساري (مثالونه) یې لکه :

درخو – گوته پرغابس ونیولــــــه

ځلمی – اویه په ړانګ بیلــــوي

ځلمی – له زانهـونه کټوري غواړي

یادیوه غونډ (اینس یا اینونی) یوه برخه جوړوي لکه :

تور – (اویه په ړانګ بیلول) غواړي .

اویا دواړه غونډه یاپه بله وینا یو متل تولهغونډ له جوړوي لکه :

نوك او اوري – سره نه بیلیږي .

دپښو ییز چارله مخی دوه رازه ګړنی سره تویږیږي نوموالهګړنه لکه دبوډۍ ټال (قوس قزح) یا دګیدړ واده (افتاب بارانك) دویمه کړواله غونډ له لکه غوز رښول – په ډډ کی خوله کیدل . په دي توګه یوه نوموالهګړنه کیداي شی دکړ په ملګرتیا کړواله شی لکه لاس ترزنی کیدل اوداسی نور .

غونډ له پوهیزه (نحوي) شننه یا تجزیه :

ددي لپاره چی دغونډ له پوهیزو یوونونو (غونډ لو او غونډونو) پرمانیزو اوجولیزو جوړښتونو، او ډون اوخپلمنځی اړیکومو ښه ترا رنا اچولی وي، دلته غواړ و ځینی بیلګیی ترشننی (تجزیی) اوسپړنی (تشریح) لاندي ونیسو . په دي ترځ کی به راته داهم په ښه توګه څرګنده شی چی دغه راز شننه لهغزپوهیزي اوګړ پوهیزي له شننو سره څه توپیرلري .

۱ – زما ورور نن له کندهار څخه کابل ته راغـــی

داغونډ له وینو چی له نهو کوچنیو ټوکونو (زما – ورور – نن – له – کندهار – څخه – کابل – ته – راغی) څخه جوړه ده او دغونډ له پوهی له پلوه تر دغی زیاته نه شنل کیږي . که څه هم ځینی ټوکونه لکه (زما) ساده ویی نه بلل کیږي او پردوو توکونو یاټوکونو ټوټـی کیږي مګر دغه راز ټوټه کیدنه یاشننه په ګړ پوهی پوري اړه لري نه په غونډ له پوهی پوري اوداسی نور . دلتــه یوازی په نهو توکونو شننه – دهغوي اوډون اوخپل منځی اړیکی ښو ول د غونډ له پوهی وینه ده . ددي توکونو په ډله کی ځینی بیاداسی دي چی دځینواړیکو له مخی سره غونډ غونډ یاجوړه جوړه کیداي شی لکـــه :

زماورور – نن – له کندهار څخه – کابل ته – راغی ۰

دلته بیا گورو چې په دغو پنځو غونډونو (کړند – کړول – کړول – کړول – کړ) کې ځینی سره دبل ډول اړیکوله مخې پردوو ستروغونډونو یا برخو ډله ډله کیږي چې یوي برخی ته کړوال غونډ یا اینښی (مسندالیه) اوبلی ته نوموال غونډ یا اینښونی (مسند) وایی لکه:

زماورور – نن له کندهار څخه کابل ته راغـــــی

داوډون له پلوه گورو چې لومړي نوموال غونډ راغلی اوبیا کړوال غونډ ۰ په نوموال کې د دپښتوغونډ له پوهی له دود اودوي (قاعده اوقانون) سره سم لومړي ټولنومځري (زما) اوبیایی اړوندځیزنوم (ورور) اوبه کړوال غونډ کې لومړي دکړ اړوندتوکونه اوبیا پخپله کړ راغلی دي ۰

داچې غونډ له خبري په نوا هنگ یی اوارپیل کیږي او ورووروکښته لویدلی پای ته رسیږي ۰ نوله غونډ له یو پیاوړي خج لري چې ویونکی یی له خپلی موخی سره سم پریوه ویی باندې راوړي داماناییرهروی اوځپـه چې ویونکي ورته زیات ارزښت ورکوي که نه په عادي او منطقی ډول یی پولوستونکی پرکابل اوبیا د (بل) پرځپه راوړي له دې کبله موږ یو غونډ له پیزخج دوه ډوله پیژنو یو عادي یا منطقی خج لکه پر (کابل) اوبل ځانگړي یا فوق العاده خج چې ویونکی یی دیوې ځانی خوښی یا فوق العاده موخی له مخې پریوه بل کوم ویی یاځپه راځی ۰ دساري په ډول که دویونکی موخه (زما) ارزښت او اوچتوالی وی نو پر (زما) باندې زوراچوي بیانو دویونکی موخه داسې پوهیدل کیږي چې دبل چاورورنه بلکې خپل یی مطلب دی اوکه پر (ورور) خج راوړي داماناتري اخلو چې ویونکی له نورو اړوند و کسانو (خپلوانو یاملگرو) څخه خپل (ورور) جلاکول اونومیرل (مشخصول) غواړي اوداسې پرنورو پاتی ویونو باندې دخج راوړل درواخله ۰

کوم اړیکی چې په دغه غونډ له کې داینښی او اینښونی ترمنځ لیدل کیږي هغه یی سره دوگړي نوزي اوگڼی له مخې برابرښت او سمښت دي ۰ په بله وینا (زما ورور) چې یو اینښی دي داینښونی له ارتوك (راغی) سره دپورتنیو د رواړخوله مخې سمون لري داسې نه لکـــــه

دوګړي له پلوه (راغلم یا راغلی) ویل شي یا دنوزي له پلوه (راغله) او یا دګڼي له پلوه (راغلل) نامیږل شي او داسې چې د تیرمهال نالیږند کړ په دریم وګړي کې دغه دریاړ خیزه سمون پیدا کوي. د داچې نن سبا د پرمختللي کولتوري ژبې په پېښو د نمانځنې له کبله د یوګړي لپاره د یرګړي کړ او نومځري کارول کېږي (لکه زرک زمرک ته وایي ((تاسې له کندهاره کله راغلاستی)) چې پوښتنپیز دود نه بلکې ټولنیز دوبلل کېږي. الماني دغه راز نمانځنه په یو بل ډول څرګندوي او هغه داچې د مخاطب یوګړي وګړي لپاره د دریم د یرګړي وګړي (جمع غایب) نومځري کاروي او نور لویدیځیان د مخاطب یرګړي وګړي لپاره د هماغه مخاطب وګړي د یرګړي نومځري کاروي. ختیځیان بیا زیاتره د درناوي یوګړو د نمانځنې له کبله د یرګړي ... کاروي لکه ستاسې پلار چیرې ولاړل. په کندهاري ګړدودکې د دریم وګړي د نښځینه یوګړي تیرمهال نالیږندکړ د یرګړي کارول کېږي (وزمه راغلل) چې ټولنیزه یا درناوزه پېښه ورته وېلای نشو بلکې یوه سیمه ییزه ګړدودي ځانګړتیا او له ټولنیزي (معیاري) پښتو څخه یو سرغړاوی بلل کېږي.

زموږ تر څېړنې لاندې غونډه لې په اېښودنې (نن له کندهار څخه کابل ته راغی) کې (نن) د (راغی) مهال ټاکي په بله وینا یو مهالي کړول دی. (له کندهار څخه) یو ټوني کړول او (کابل ته) یو بل ټوني کړول بلل کېږي. له بله پلوه (نن) یو ساده کړول دی او دا نور دواړه تړښتي کړولونه یا په بله وینا کړولي غونډونه. په لومړي کړولي غونډه (له کندهار څخه) کې (له) سرېل او (څخه) اوستړېل (کندهار) وټون پېر (ABLATIVE) کې اچوي د همدغه وټون پېر له کبله (کندهار) پر (کندهار) اوړي خو په معیاري پښتو کې یو پایله (څخه) غوره ګڼل کېږي. په دې توګه (کندهار) د سرېل او اوستړېل تر واکنې لاندې دی او دا ټول کړولي غونډه (له کندهار څخه) سرېلیزي باندې واکمني لري د دې راز کړولونه (نن — له کندهار څخه — کابل ته) د کړ اړونده او په یوه مهال کې پر کړ (راغی) واکمنان.

د اړونو له پلوه د غونډه لې ګرد توکونه پر خپل ځای راغلي دي. یوازې (نن) کولای شي تر (له کندهار څخه) وروسته ځای ونیسي لکه دې چې پکې پښتونیز او مانیزو نجون پېښ نه شي.

٢ــ خدایه ته په زړه کی اچوې دا مینی ـــ چی په ښکاردې مبتلا کړم ته می وینی (دخوشال خټك دبازنامی دسربیـــت) دغه بیت یوه ګډه غونډله ده چی که (خدایه !) جلا بانی (ندائیه) غونډله ونه ګڼـو نو لومړي نیم بیتی یــی یوه یوستوي غونډله ده او دویم نیم بیتی یی دوه یوستوي یا په بله وینا یوه غبرګغونډله ده خود مطلب له مخی لومړی نیم بیتی غونډله د دویم نیم بیتی له لومړی غونډلی سره یو پرله غښتی (منسجم)یـووالــی یاغبرګغونډله جوړوي او دریمه (ته می وینی) وړوړې هس یوه سرباريغوندي غونډله ملګري شوي او دمخنیود ووغونډلو دخرګندونی یو بشپړوونکی اوپخوونکی غوندې پایځوړ بلل کیږي .

دادي لومړی یوستوي غونډله په خپلو رغنده ټوکونو ویشو :

خدایه ـ ته ـ په ـ زړه ـ کی ـ اچوي ـ دا ـ مینی

دغه اته ټوکونه سره دخپلو ګرامري اړیکو له مخی دوروستیو څلورو غونډونو په بڼــه ډله ډله کوو :

خدایه ته ـ په زړه کی ـ اچوي ـ دامینـــی

لومړي کړند غونډ (فاعلی ګروپ) دي دویم کړولی ـ دریم کړدي او څلورم کړي غونــډ (مفعولی ګروپ) . دغو غونډونو شمیر بیا د دوسترو غونډونو (اینسی او اینسونی) ته راټیټـوو :

خدایه ته ـــــــــ په زړه کی اچوي دامینی

داوړون له پلوه په اینسونی کړي غونډ (دامینی) دشعري اړتیا له کبله خپل ځاي پري اینسی دي که نه رښتینی ځاي یی هم د اینسونی په سرکی له کړول غونډ (په زړه کی) دمخه اوهم تري وروستــه ټاکل کیږي . داغونډله که څه هم یوه خبري غونډله ده اوپه کاروو چی اهنګ یی ډیرتیـــټ پایته رسیدلی واي خود اچی شعري اړتیا اوړون ویجاړ کړي او کړیغونډ (دامینی) ترکړ (اچوي) وروستــــه راغلی نو اهنګ تر څوړید ووروسته یوځل بیالوړ شوي پایته رسی . خج پر (ته) ـ (اچوي) او (مینی) دروواړو ویو باندې راځی مګر وروستی دزیات پیاوړتوب له کبله دغونډلی یواځینی بیاوړې خج بلل کیږي .

د اګرده غونډله (یامسره) د مانا او موخې له مخې یو بېخي بشپړ یووالی نه بریښي بلکې (دا) د یوه اړیکوییکي په توګه دیوې بلې څرګندنې څرمه غونډه لې غوښتنه کوي له هم دي کبله دا بله څرګندنې غونډه له ورسره په بل مقابل اړیکوییکي یا څرګندنې ویکې (چې) پیل کیږي اردا ريغونډه لې د اړیکوییکي (دا) ځواب وایي چې څه ډول او کومه مینه . په دي توګه د دواړو غونډه لو له ملګرتیا منځ ته راغلې غونډه له یوه غبرګغونډله بولو او همغه بیا یو څرګندنې غبرګغونډله . او د اهم د لومړۍ څرمه غونډه لې شننه:

چې – په – ښکار – دي – مبتلا – کـــړم

ټوله څرمه غونډه له شپږ ټوکه لري . لومړي ټوک (چې) یو څرګندنې اړیکوییکي دي . دویـــم (په) یوتـابل دي چې بې اوستریله (سره) لوښنـه (الی) پازه تر سره کوي او (ښکار) ترخپل واك لاندې راولي او په لوښن پیر (الی حالت) کې یې اچوي . (دې) د دویم یوګړي وګړي (مفرد مخاطب شخص) کمزوري نوم ځري دي او بیا یو کړند چې د ګردې غونډه لې اینس جوړوي . (مبتلا) له (کړم) سره یو کړوال غونډه یا په بله وینا یو تړښتن کړ رامنځ ته کوي . د پورتنیو پښو ییزو اړیکو له پلوه ګرد ټوکونه د اس غونډه غونډه کوو: چې – په ښکار – دي – مبتلا کړم .

(چې) خولګه چې وویل شو له تیري غونډه لې سره دیوه څرګندنې اړیکې چارپرغاړه لري . (په ښکار) یوتوسنې غونډه دي په بله وینا توسنې سربل (په) د (ښکار) څیز نوم ته توسنپیر ورکړي او په دي توګه پرې واکمنې لري او بیا د اټول غونډه (په ښکار) په (مبتلا کړم) باندې خپله واکمنې چلوي کټ مټ لکه دیوه کړ ول غونډې . (دې) دیوه یوګړي وګړي کمزوري وګړ نوم ځـــري (د مفرد مخاطب شخص متصل ضمیر) په بڼه د غونډه لې کړند ، یا په بله ژبـــــه (اینس) جوړوي . (مبتلا کړم) یو کړ غونډه یا تړښتن کړ دي چې له (په ښکار) سره د غونډه لې اینسونې جوړوي په دي ډول ګرده غونډه له پړدوو بنیادي برخو (اینس او اینسونې) ویشلای شو:

دې ———— په ښکار مبتلا کړم

داولېږون له مخې کومه نيمگړتيا نلري ، دابېنس (دي) له پښتو بېز دود سره سم د اېښنونس په منځ کې ورننوتی ځکه ديره کمزوري نومځري په توگه يې په سرکې راتلل دود نه دي ، که اېښنونس منځنی برخه (په بڼکار) نه دړلود اي نو هرومرو بيا د کړ غوندې په منځ کې ورننوتو (لکه مبتلا دي کړم) ، او که د دغه ترېښنې کړ (مبتلا کړم) پرځاي کوم بړستوي کړ (لکه وخوړم) واي ، نو بيا (دي) بېخي پاي ته وته (لکه وخوړم دي) بل ځينې چېرې په دې غوندې له کې ديانولو د ېهغه دکړي (زه) نه راوړل دي او بوځاي يې پواځې په وگړيزي پايان (م) بسنراوړل دي چې له همدي کبله يې دود يز پښتو پيوهان (متصل ضمير) يا (کمزوري متصل ضمير) او (فعلی ضمير) بولي ،

دويمه ځرمه غوټه له (ته ـ ي ـ وينې) د منځنې غبرگغونډه لې په بشپړتيا کې نيده برخه ته اخلی او پواځې يو تکراري بنسټه لري نو که بيا يې هم ماه ويواو ، زموږ غبرگغونډه له پړگاوي غونډه لوي اوړي چې دغونډه او شمېرې د روته ريس ، ور و يې اړه ـ د ويمه ځرگندنې ځرمه او وروستی تړ (عطف) او بيا اړه غونډه ته بلل کيږي دغه وروستی تړ اړغونډه له لومړي په اړنده ي د رو توکونو شنل کيږي ؛

ته ـ ي ـ وينې

(ته) يو کړنده او بيا د تړلی غونډه لې (اېښنې) دي ، (مو) يو کړي دي او (وينې) د دريم يوگړي وگړي يومتري او معهال کړدي ، د اچې کړي (ي) د کړ (وينې) له اړوند وځخه گڼل کيږي نو اېښنې (ته) په وړاندې په گډه يو اېښنونې جوړوي يا په بله ژبه تړله غونډه له پردوو بنيادي برخو ويشو ؛

ته ـــــــــــ مي وينې

۳ ـ د پښتو د فعلي اصطلاح کانو واحد ونه چې د جوړښت له مخې به په دغې مقالې کې په صنف بندېږو ويشل شي ، مسې از نبيان ولو ير نبس يې د اد ي (د دولت لوندين له ليکمې ځخه) ، د اغونډه له اه د رو ملوغونډه لو جوړه شوي گډالی غونډه له ن ، په د ي ډول چې د اړيې غونډه لې د اېښنې او اېښنونې ترمنځ بره ځرگندنې ځرمه غونډه له اېړل شوي ده ، څه چې د لته نابرېـــه

(نامانوسه) اوناد ونډه بريښي هغه داري غونډه لي بيا ييښي (تکرار) دي او دا بيا پيښي اوناد ودي هله را څرګنديداي شي، چي منځپيښي تري وايستل شي لکه: د پښتو د فعلي اصطلاح ګانو واحدونه مهمي اوياد ولو ور نښې ين دادي؛ نباغلي لردين کولاي شول چي دا توله ګډه لي غونډه له داسي وکاږي:

د پښتو د فعلي اصطلاح ګانو د واحدونو مهمي اوديادولو ور نښي چي د جوړښت له مخي به په دغه مقاله کي ډلبندي (صنف بندي) شي دادي. خو دا ډول ده ځکه نه غوښتل چي منځني څرګندني څرمي بيا داري غونډه لي موځني توك يا مطلوب عنصر (واحدونه) پوري نه بلکي په دنا غوښتلي توك (نښي) ار ه پيدا کوله. که توله ګډه لي غونډه له ين په غبرګ غونډه لي اړولي راي لکه: د پښتو د فعلي اصطلاحا ګانو د واحدونو مهمي اوديادولو ور نښي دادي چي د جوړښت له مخي به په دغه مقاله کي ډلبندي (صنف بندي) شي. په دي ډول کي بيا هم د مخني ډول ګانه کيده او د ارغونډه لي اينبونې خبر (دادي) هم بي ځايه ښکاريده. خو پواځيني کره سمونه ين داسي کيده چي داري غونډه لي د اينبونې برخه ين له (نوموالي) يا په بله وينا له ترلوالي يا ملکيت څخه ژغورلي واي لکه په دي ډول: (د پښتو د فعلي اصطلاح ګانو واحدونه ــ چي د جوړښت له مخي به په دغه مقاله کي ډلبندي (صنف بندي) شي ــ د اهمي اوياد ولو ور نښې لري:) په دي ګه پښتو لکه: (د پښتو کړ الوګ نو يوونونه ــ چي د جوړښت له مخي به په دغه ليکنه کي ډلبندي شي ــ د اغوري نښې لري:) ــ په صنف بنديو وويشل شي يوه د خنداوړ تيروتنه ده (صنف بندي) پخپله د (ويشني) مانا لري ويشنه بيا څنګه ويشل کيږي.

که څه هم ځيني ليکوال چي په پښتو کي له ګډلو غونډه لو سره کورت نابانډي (مخالف) دي. پاسني ګډه لي غونډه لي په دوو د رو بيلا بيلو پرله پسي يوستوو غونډه لو تړني کوي خو دا کار د ژبي له ــ ين ار (اقتصادي اصل) څخه تيري دي. په دي مانا چي په هره ژبه کي دا هڅه کيږي چي تروسي وسي پوري چي په لږو او پرله غبنتو (منجمو) جوليزوتوکونو سره ډيره مانا او جاج (مفهوم) څرګند کړ شي نه دا چي په سرچپه ډول په ډيرو نا پرله غبنتو جوليزو توکونو سره

لږ ه مانا اوجاج ۰ نوکه یو بشپړ اوناشنونی مانیزیوون(واحد)په څو جولیزو یوونو (لفظی واحدونو) کی څرګندشی له ژبنی دوي او سول (منطق) څخه ښکاره سرغړاوي دي ۰
اوس بیرته را ځو خپلی ګډوډ لی غونډ لی ته چی بیلا بیل رغنده توکونه یی څه راز خپل منځی اړیکی او اوډ ون لري :

د ارغونډ لی ایښی له پښتو دود سره سم اوډ ل شوي ۰ دکړ ند (واحدونه) اړ وند توکونه دمخه اوپه خپله کړ ند وروسته راغلی دي ۰ دویم تولوییکی ((د)) کیدای شو چی وسپمـیزي ځکه پښتو د ستاینوم په توګه هم کارول کیږ ي ۰ د دي ارغونډ لی بله برخه(ایښونی) د اوډ ون له مخی هم کومه نیمګړ تیا نلري ۰ یواځی د (یی) زیاتوالی پکی دګوتیونی (انتقاد) ټکی د ي چی دمخه موږ ري ر ما واچوله ۰ نغه ټوله ارغونډ له دواړ و خواووته دخو اړ وندو توکونو یه د زلود لو سره یوه ارته یو ستوي ـ د ایښونی د ارتوك په ډول د (دي)په لرلو سره یوه نوموالمه اوپه مانیز ډول یوه خبري غونډ له بللاي شو ۰ دابله منځییښی څرمه غونډ له د اوډ ون له پلوه سمه ده خود تونپیر په غونډ (په دغی مقالی کی) (دغه) او (مقاله) هسی بیځایه په اوښتی بڼه کښل شوي دي ځکه په (لیکنی معیاري)پښتو کی دونکو د ډیرښت په لاسوند (پهـ کی) دخپل اړ وند ځیزنوم ټپایلی ونجون دود نه دي لکه (په اسره کی) ـ (په کوټـه کی) لکه دحمید مومند په یوه درست شعر کی (خط پرمخ دصنم راغی که سپوږ می شوه په هاله کی ـــــــ
دایی غابښ په خوله کی زیب کا که ژاله شوه په لاله کی ۰۰۰)۰

کړاونه

۱ـ غونډ له پوهې څه ته وایي او له څه نه غزېږي ؟

۲ـ دغونډ لي پېژندنه (تعریف) څنګه کېږي ؟

۳ـ یوه غونډ له په کومو دوو سترو برخو وېشل کېږي ؟

۴ـ دغونډ لي لوېر بنسټیز توك کوم دي ؟

۵ـ نیمګړي غونډ له څه ته وایي ؟

۶ـ غونډ څه ته وایي ؟

۷ـ دغونډ لي رغنده توکونه (متشکله اجزاء) کوم دي ؟

۸ـ په پښتو غونډ لي او ډون څه ډول دي ؟

۹ـ دګرامري چاراومانا له مخې دغونډ لي ډولونه وښیاست !

۱۰ـ غونډ له دجوړې له مخې پرڅو ډوله ده ؟

۱۱ـ یوستري غونډ له پرڅو ډوله ده بېلګې یې وښیاست !

۱۲ـ یو اړه یوستوي غونډ له په انځور لیک کې وښیاست !

لاندې بېلګې دجوړې له مخې دهري لندۍ غونډ له بېل ډول راوبېژنئ :

۱۳ـ که په میوند کې شهید نه شوې ـــ ګرانه لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

۱۴ـ په تور توپك وېشتلی راشه ـــ دبې ننګۍ اواز د مه را څخه مینه

۱۵ـ اشنامې تلپر وطن کېښېږد ـــ په تار د زلفو به کفن ورته ګنډمه

۱۶ـ مخ دې څراغ خوله دې غنچه ده ـــ درته حیران یم چې پتنګ که بورا شمه

۱۷ـ ولې به زه ورپسې نه منښترم ـــ چې مورته شاکړي ماته شنه له خنداشینه

۱۸ـ توري کوه بزي به موږ ـــ که بریڼه ويځوانان تل پروطن مرینه

۱۹ـ اخر به وران شي پېښوره ـــ د ننګرهار پیغلې بنیراد رته کوینه

۲۰ـ له خدا رو سترګو دې جارشم ـــ چه په زړا شې مرغلري توینه

په دې لاندې لنډه يو کې اري (خپلواکی) او څرمه (بيواکی) غونډه لی سره توپيرکړي:

٢١ــ که زه خبر واي چې بيلتون دي ـــ ما به مې يار ترلاس نيولی ګرځونـــه

٢٢ــ که راته ګوري د زړه ګــــورم ـــ که راته نه ګوري پروا دي نلرمـــه

٢٣ــ بيلتون پرتنګه کوڅه راغـــــی ـــ ماويل سلا دي ده ويل کور دي ورانومه

٢٤ــ ماته وعده د خولګی راکـــړه ـــ چه که د تورو پرسرلاروي د زړه شمـه

٢٥ــ مينه يم منکـــره نه يـــــم ـــ که شينکی خال مې د چړو په خوکو ځينه

٢٦ــ له لرې مرم له نژدې ســـوزم ـــ زه ليونی طاقت د دواړو نلرمـــــه

٢٧ــ دخوشالی ياران مې لاړيـــــرو ـــ چې ښادي ولاړه ټولو پورته کړل لاسونه

٢٨ــ ياري خوتاکړه ماخو نکـــړه ـــ چې تومت راغی او سرپرماکړي ...نــه

٢٩ــ سپوږمی پرماد ي څه احســان دي ـــ زما اشنا د ديواله سيوري ته ځينـــه

٣٠ــ سپوږميه سروهه راخيـــژه ـــ زما اشنا د تورو شپو مــــزل کوينـه

د اوروسته شعرونه له سم اوډون سره په نثر وليکی:

٣١ــ د مسلمان زړګی ازار چې اخلـــی ـــ څه شول پردي چې کليساته د رومـــی

٣٢ــ مړي د زيارخوډ ايو سوال کړ محراب ـــ چې له ماد رومی وايه چاته د رومـــی

٣٣ــ د سپيڅلو ګروهو ګچه مې له پاکو ګاهو ـــ اود هيلو پيمانه مې نهيلـــونه وبوښتـه

٣٤ــ پرژوند پينبو که د زيار په رښتيا خبريدل ـ پرهرژلی نارام ژوند يې له شعرونه غواړي وبوښته

٣٥ــ که ستی شبوي زياره مينه کی ديـــار ـــ ديا د خلی به د ي جوړ شی له ايـــرو!!

٣٦ــ ګړنه څه ته وايی او په د ريا ولاتينې يې څه بولـــی؟

٣٧ــ ګړنی د مانا اورغاونی له مخې څو ډوله دي؟

٣٨ــ د ګرامري چار له مخې د ګړنی ډولونه ونيباست!

٣٩ــ (له سره تيريدل) د پورتنيو ډولونو له مخی څه راز ګړنه ده؟

٤٠ــ يو کايی او مجازي مانا لرونکی وی اوګړنه سره څه توپيرلري؟

نوي نومونــــــــــــس

اټکل	گومان ــ حدس ــ تخميــــن
ــ شمير	تخمينی ياغير معيين عدد
اخځ	ماٴخذ
اخځليـــــک	د ماٴخذونو فهرست
ار	اصل ــ اصيل ــ اصلی ــ پرنسيپ
اړپير	اصلی حالت
ارته يوستويغونډه له	منکشفه ساده جمله
ار شمير	اصلی عدد
ارغونډه له يا اره غونډه له	اصلی جمله
ارمانی	تمنايی
اره	اصل ــ منشاٴ ــ نسب
اره يوستويغونډه له	اصلی ساده جمله
اړ	شرط ــ مانع
اړوتی	شرطی ــ مشروط
اړوند	تابع ــ متعلق ــ مربوط
اړوندي	تابعيت ــ تعلق ــ ارتباط ــ مربوطيت
اړيکپير	ارتباطی حالت
اړيکومخري	ارتباطی ضمير
اړيکوييکی	ارتباطی کلمه (حرف ربط)
اړين	ضروري ــ حتمی
انځورليک	گراف ــ دياگرام

اند	فکر ــ مفکوره
ــ پوهه	ایدیولوژي
ــ دود	طرز فکر
انگازه	انعکاس ــ عکس العمل
انگینوم	صوتی نوم ــ نام آوا
انگینومیز	نام آوایی
اواز	فونیم ــ واج
اواز پوهه	فونیمیکس ــ فونیمشناسی ــ واجشناسی
اوډل	ترتیبول ــ تنظیمول
اوډون	ترتیب ــ تنظیم
اوریز	سمعی ــ سماعی ــ شنوایی
اوړون	گردان ــ تصریف
اوړونی	گردانی ــ تصریفی
اوړیدونی	گردانیدونکی ــ متصرفه
ــ ژبه	متصرفه ژبه
ــ گړی	گردانیدونکی مورفیم
اوستربل	پسبینه ــ پرستپوزیشن
اوسترمهال	استقبال ــ مستقبل
اوښتون	تغییر ــ تحول ــ انقلاب
اوښتی پیر	مغیره حالت
اینبونی	مسند ــ خبر ــ گذاره

اینښ	مسند الیه ــ مبتداء ــ نهاد
بشپړ	مطلق ــ مکمل
ــ کړ	مطلق فعل
ــ تیرمهال	مطلقه ماضی
ــ اوسمهال	مطلق حال
ــ اوستیرمهال	مطلق استقبال
بشپړ اند	بشپړ وونکی
ــ کړ	سوباشیف یا ناقص فعل
ــ ترک یا توک	بشپړ وونکی عنصر یا جزء
بیاپینس	تکرار
بیجار	بیکار ــ بی فعالیته ــ مجهول (فعل)
ــ کړ	مجهول فعل
ــ کړ نوم	مفعولی صفت
بیدوده	بیقاعده
بیدودي	بیقاعده گی
بیلتون	فصل
بیلنست	اشتقاق
بیلنیتی	اشتقاقی ــ مشتق
بیواک (غږ)	کنسونت ــ صامت
پایخوړ	ضمیمه ــ تعلیق
پایلینوي	نتیجه گیري ــ استنتاج
پایله	(فعلی) خاتمه ــ نتیجه
پایلیزه	(دکتاب) خاتمه

پرتله	مقایسه ــ مناسبه ــ نسبت
پرتلیز	مقایسوي ــ نسبی
[illegible]	ذات اسم
پڅنی	بدنی ــ جسمی ــ ذاتی
پڅي	بدن ــ جسم ــ ذات ــ وجود
پښو یپوهاند	گرامریستان
پښویه	گرامر ــ دستور ــ صرف ونحو
پښو ییز	گرامري
پلوي	طرفدار ــ سمتی ــ توجیهی
ــ نومځري	سمتی ضمیر
پورغز	واج قرضی
پورویی	مستعار لغت ــ واژه ي قرضی
پوړ شمیر	رتبی یا وصفی عدد
پوښتغونډه له	استفهامی جمله
پوښتنښــه	د سوالیی علامه
پوښتیلیک	پرسشنامه
پوښتومځري	استفهامی ضمیر
پوښتنی	استفهامی
پیر	مرحله ــ دور ــ دوره ــ حالت
پیژند	ارتیکل ــ حرف تعریف

ـ پانـه	استعلامیه ورقه
پیوستون	وصل
تاړي	وند ـ افیکس
تړغبرگغونډه له	عطفیه مضاعفه جمله
تړ وییکی	حرف عطف ـ دعطف توري
توانی	امکانی ـ اقتداري
ـ کړ	ـ فعل
توري	حرف ـ گرافیم
توسن	سبب ـ علت
ـ پیر	الی حالت
ـ غونډه له یا توسنی غونډه له	علتیه جمله
ـ وییکی	دعلت توري
توسنی	الی ـ علتی ـ علتیه ـ معلول
توك یا توکی	عنصر ـ ماده
تول	مال ـ ملکیت
ـ نوم	مضاف
ـ نومځري	ملکی یا اضافی ضمیر
ـ تون	ځاي ـ ظرفیت
ـ پیر	ظرفی حالت ـ لوکاتیف
تونی	ظرفی ـ مکانی
ـ کـړول	مکانی قید

تیرمهال	ماضی ــ تیره زمانه
ــ کړ	ماضی فعل
ټوك	جزء ــ جلد
ټوکړ	پاراګراف
ټولنوم	عام اسم
ټولي	کتیګوري
ټولیز یا ټولوال	کلی ــ عمومی ــ عامه ــ مجموعی ــ جمعی
جاج	مفهوم
جوت	معلوم ــ ثابت ــ مشخص
جوله	بڼه ــ شکل ــ لفظ
جولیز	شکلی ــ ظاهري ــ لفظی
چار	عمل ، عملیه ــ فعالیت ــ فنکشن
ــ وال	فعال ــ معلوم
ــ ــ کړ	معلوم فعل
ــ ــ ــ نوم	فاعلی صفت
ــ انګ	عکس العمل ــ بازتاب
ځانګړتیا یا ځانګړنه	خصوصیت ــ خاصه
ځانګړنومځري	شخصی ضمیر
ځانګړي نوم	خاص اسم ــ علم
څپه	هجاء ــ سیلاب
څپیز	هجایی ــ سیلابی
څرګندنی	تشریحی ــ توضیحی

— غونډه له	بیانی یا توضیحی‌غونډه له
څرګندوونکی	بیانیه ادات
څرمه	فرعی — ضمنی — الحاقی
— غونډه له	فرعی جمله
څرنګوالی	کیفیت
څرنګیز	کیفی
څومره والی	کمیت
څومره ییز	کمی — کمیتی
څیزنوم	اسم — سوبستانتیف
څیزنومیز	اسمی
څیزیال	غیرشخصی
خبر	خبر — مسند — گذاره
خبري	خبري — بیانی — بیانیه
— غونډه له	خبري جمله — بیانیه جمله
— کړ	خبري یا بیانیه کړ
خپلواک (غز)	راول
خپلواکه غونډه له	مستقله یا اصلی جمله
خج	فشار
خجن	فشار لرزکی
دود	قاعده — رواج — مروج
دودیز	باقاعده — عنعنی — متداول
دوی	قانون

ګ یرګړي	جمع
روزد (ي)	معتاد
روز دتیا	اعتیاد
روزدنی	اعتیادي
روز دي	عادي
- کړ	اعتیادي فعل
روستاړي	پسوند - لاحقه - سفیکس
زورخج	دینامیک‌خج
ژبپوهاند	زبانشناس
ژبپوهنه	زبانشناس
ژبپوهنیز	لینګویستیکی •
ژبنی	لسانی
ستاینوم	صفت
سربل	پیشینه - پرپوزیشن
سرغاړي	مستنکف - سرکش - متمرد - باغي
- غونډ له	مستنکفه جمله
سول	عقل - منطق
سولیز	معقول - منطقی
شمیر تړنګ	عددي ترکیبونه
شمیرنوم	عدد (اسم)
شننه	تجزیه - تحلیل - تفسیر
ښځینه	موءنث

غاړه	لحن ــ ترنم
غبرگغږ	دیفتونگ
غبرگغونډله یا غبرگه غونډله	مضاعفه جمله
غبرگون	انعکاس ــ جواب
ــ کړ	انعکاسی فعل
ــ نومځري	انعکاسی ضمیر
غږ (زغ)	فون ــ صدا ــ سونډ
ــ پوهه	فونولوژي
ــ پوهیز	فونولوژیکی
غوښتنی	دعائیه ــ مطلوب
ــ کړ	دعائیه فعل
غونډ	گروپ ــ فقره
غونډله	جمله
ــ پوهــه	نحو ــ سینتکس
ــ ییز	جملوي
ــ پوهیز	نحوي
غونډ نوم	اسم جمع
کړ	فعل
ــ اوړون	دفعل گردان
ــ تړ	...
ــ توک	فعلی عنصر
ــ غونډ	فعلی گروپ
ــ مهال	فعلی زمانه
ــ نوږ	فعلی جنس

ــ نوم	فعلی یا مشتق نوم
کړند	فاعل
ــ پیر	فاعلی حالت ــ نومیناتیف
کړوال	فعلی
ــ غونډ	فعلی گروپ
کړواله غونډ له	فعلی جمله
ــ گړنه	فعلی اصطلاح
ــ ول	قید
ــ ولی	قیدي
کړولی	فعلی ریښه
کړولی غونډ	قیدي گروپ
کړي	مفعول
ــ غونډ	مفعولی گروپ
ــ پیر	مفعولی حالت
گډ غونډ له یا گډه غونډ له	مرکبه جمله
گډلی غونډ له	مختلطه جمله
گړ	مورفیم ــ واج
ــ پوهه	مورفیمولوژي ــ واجشناسی ــ حرف
ــ پوهیز	مورفیمولوژیک ــ صرفی
گړدود	لهجه ــ گویش
ــ پوهه	لهجه شناسی
گړنپوهنه	اصطلاحشناسی ــ فرازیولوژي
گړنه	اصطلاح ــ محاوره ــ ایدیم ــ فراز

ګړنی	اصطلاحی ــ محاوروي ــ شفاهی
ګڼه	عدد ــ افراد وجمع
ګومانی	شکی ــ احتمالی
لالرنغوتنو مخري	لالري اشاري ضمير
لرتير مهال	بعيده ماضی
لرستاينوم	د مسند صفت ــ د پريديکات صفت
لرکړی	بالواسطه مفعول ــ داتيف
ــ پير	د بالواسطه مفعول حالت ــ داتيف
لرنغوتنو مخري	لري اشاري ضمير
لښتيليک	جدول
لنډ تيرمهال	قريبه ماضی
لنډ ستاينوم	د مسند اليه صفت ــ نژدي صفت
لنډ کړي	بی واسطه مفعول ــ اکوزاتيف
ــ پير	د بی واسطه مفعول حالت ــ اکوزاتيف
لوستليکی	کتاب قرائت ــ درسی کتاب ــ تکسبوک
لوښتن يالوښين	الی ــ انسترومنتال
ــ پير	الی حالت ــ انسترومنتاتيف
لوښی	ظرف ــ اله ــ سامان
ليږند فعل	متعدي فعل ــ ترانزيتيف فعل
ــ چارکړ	کوزاتيف فعل ــ مصدر صناعی
ليکلړ	لست ــ مينيو
ليکښه	د تنقيط علامه ــ پنکچويشن
ليکنی	تحريري

ليكس	كتاب
- پلور	كتابفروشي
- پلوري	كتابفروش
مانا	معنى - معنا
- پوهه	علم معاني - سيمانتيك
- توك	معنوي توك
- نوم	اسم معنى
- ونج	معنوي تغيير
مختاړى	پيشوند - سابقه - پريفيكس
مخكړ	فعلي سابقه - پريويرب
مرستيالكړ	معاون فعل
مله غونډله	ملگري يا فرعي جمله
منځپينې غونډله	معترضه جمله
منځتاړي	ميانوند - انفيكس
منځوالكړ	انعكاسي فعل
موخه	هدف - مقصد - مطلب - مطلوب
موخن	مطلوب
نابشپړ كړ	غير مطلق فعل - استمراري فعل
ناپاي	ناتمام - مصدر - اينفينيتيف
ناشنوني	لايتجزا - غير قابل تجزيه
ناليږند كړ	لازمي فعل - اينترا نزيتيف فعل
ناوړيدوني	غيرمتصرفه - نه گرديدونكي - نه اوړيدونكي
نرينه	مذكر

نغوته	اشاره
نغوتنو مخري	اشاري ضمير
نوچار	ابتکار ـ اینیسیاتیف
نوز نوم	اسم جنس
نوزي	جنس
نوم	اسم
ـ اوړون	داسم گردان
ـ اوښتون	داسم تغییر
ـ پېر	اسمی حالت
نومځري	ضمیر (ځري ـ نماینده)
نوم نوزي	اسمی جنس
نوموال یا نومیز	اسمی
ـ غونډ	اسمی گروپ ـ مسند الیه
نوموالهغونډ له	اسمی جمله
ـ گړنه	اسمی اصطلاح
ـ لیک	فهرست اسماء یا اعلام ـ ایندیکس
نومونپوهـــه	ترمینولوژي
نومونه	نامگذاري ـ اصطلاح (علمی ـ تخنیکی) ـ ترم
نومیرل	تشخیصول
نومیز یانوموال	اسمی
نیمواك (غز)	نیم واول ـ شبه واول
نیولیك	فهرست مندرجات

وتونپیر	د مفعول منه یا منشایی حالت ـ ابلاتیف
ورتلون پیر	د مفعول له حالت
ورمندون	امر ـ حکم ـ قضاوت
ورمندي	امري ـ قضاوتی
وګړپوهنه	اتنولوژي ـ انتروپولوژي ـ بشرشناسی
وګړي	شخص ـ صیغه
ولړ	ریشه ـ جذر ـ روټ
ونج	بدل ـ عوض ـ بدلون ـ معاوضه
ونجول	بدلول ـ تبدیلول ـ عوضول ـ معاوضه کول
ونجون	بدلون ـ معاوضه
ونجیدل	بدلیدل ـ عوضیدل
وور شمیر یا مات شمیر	کسري عدد
ویش شمیر	انقسامی عدد
ویی	لغت ـ کلمه ـ واژه
ـ اوډون	ترتیب کلمات
ـ پانګه	لغوي ذخیره ـ ویکا بولري
ـ پور	قرض واژه یی
ـ پوهه	لغتشناسی ـ واژه شناسی
ـ رغاونه	لغوي ساختمان ـ واژه سازي
وییز	لغوي ـ کلموي
ـ خج	لغوي فشار
وییکو مخري	اداتی ضمیر
وییکی	ادات ـ حرف ـ پارتیکل

همیشنی یاهمیشه ین	استمراري ــ دایمی
هیښ	حیران ــ متحیر ــ متعجب
هیښتیا	حیرانی ــ تحییر ــ تعجب
هیښنده	محیر ــ تعجباور
هیښنی	تعجبی
یوستوي	ساده ــ بسیط
ــ غونډ له	بسیطه یاساده جمله
ــ ویی	بسیطه کلمه
یوګړی	مفرد
یوون	واحد ــ یونټ

وی پانگــــــه

پښتـــو	ناپښتـــو
اخځ	ماٴ خذ
ــ ليك	دماٴخذونو فهرســـت
آر	اصل ــ پرنسيپ ــ اصيل ــ اصلی
ــ پوهه	ريشه شناس ــ فقه اللغه ــ اتمولوژي
ارزښت	ارزش ــ اهميت
ارزکتنــه	ارزيابی
ارزونه	اسعار
آرشمير	اصلی عدد
اروابناد	مرحوم ــ شاد روان
آروالی	اصالت
اروپا گروهی	اروپايی مشرب
آره	نسب ــ منشاٴ
له ـــ	اصلا ــ په اصل کی
آړ	شرط ــ مانع
اړپيچ	اختلاف ــ تضاد ــ ضد
اړپيچن	ضد ــ متضاد
اړنګ	شك ــ اشتباه
ــ لاندي	مشکوك ــ مشتبه
اړوتی	مشروط ــ شرطی
اړوند	مربوط ــ مرتبط ــ متعلق ــ تابع
اړوندي	همبستگی ــ تعلق ــ ارتباط ــ تابعيت

پښتو	نا پښتو
اړيکې	رابطه ــ ارتباط ــ تعلق (جمع) روابط ــ تعلقات ــ مناسبات ــ تماسونه
اړين	ضروري ــ حتمي
اسمانڅك	اسمانخراش
اغيز	نفوذ ــ تاثير
اغيزمن	مؤثر ــ متأثر ــ متنفذ ــ نافذ
اغيزمنې	مؤثريت ــ نافذيت
اغيزه	تاثير ــ تأثر
اكر	وضع
الواك	نظر ــ نظريه ــ نګاه ــ تيوري
ــ دود	طرزنظر
ــ هم	همنظر
الواكې	نظري ــ تيوريكې
اَن (هن)	اينك ــ حتى
انځور	رسم ــ تصوير ــ نقش ــ تمثيل ــ ګراف
ــ ليك	ګراف ــ دياګرام ــ پيكتوګرام
ــ يز	ترسيمي ــ تصويري ــ مصور ــ تمثيلي ــ دراماتيك
اند	فكر ــ مفكوره
ــ پوهه	ايديولوژي
ــ دود	طرز تفكر
ــ ليك	هنر وارث ــ ايدوګرام

پښتو	ناپښتو
ـــ ي	فکري ـــ مفکر ـــ متفکر
انګ	حس
انګونه	حواس
انګیرل	ګومان کول ـــ تعبیرول ـــ حدسول ـــ ګڼل
انګیرواله	ایدیالیزم ـــ انګارګرایی
اوبدانځی	نساجی فابریکه
اوبدانه	نساجی ـــ بافنده ګی
اوریدا	سماع ـــ استماع
آوریز	سمعی ـــ شنوایی
اُوریز	بیرونی
اوسپینیز	اهنی
اوښتون	انقلاب
اوښکن	اوښکی بهوونکی ـــ اشک اور ـــ اشکریز
ـــ اوګی	ـــ غاز
ایرنځ	خاکستردانی
بادرږه	برف کوبه
بدآندي	بدآندیش ـــ بدخواه
بدوین	بدبین
بډ	حریف ـــ مقابل ـــ نظیر
ـــ والی	تقابل ـــ مقاله
برخه وال	سهیم ـــ شامل (کنفرانس ...)

پښتـــو	ناپښتـــو
برېښنا ګاډي	برقی موټـــر
چـم ګاډي	ترموای
بشپړ تیاین	تکاملی
بشرواله	بشر دوستی ـ اصالت بشري ـ هومانیزم
بلغز	الوفون
بلګړ	الومورف ـ واجګونه
بلوس	تجاوز ـ تیري ـ غصب
بلوسګر	متجاوز ـ غصوونکی ـ اشغالګر
بوټپوهاند	بو تانیست
بو ټپوهنه	ګیاشناسی ـ بوتانیك
بوټیانـــه	بوتانیك
بولنتون	قوماند انی
بولند وي	قوماند ان
بولنه	مقوله
بهر	خارج
بهرنی	خارجی
بیابانګرځی	بیابانګرد
بیارغاونه	بازسازي ـ رستوریشن
بیالیکون	باز نویس
بیخبـنا	زېرېنا
بیدوده	مستثنی ـ بی قاعده

پښتو	ناپښتو
بېدودي	استثناء ـ بی قاعده گی
بېلتا	میزه
بېلا بېل	مختلف ـ بیل بیل
بېلښت	اشتقاق
بېلښتي	اشتقاقی ـ مشتق
بېلنگ	مشتق
بېلنگونه	مشتقات
پاټکی	طبقه
پاټکیز	طبقه یی ـ طبقاتی
پازپېژاند	وظیفه شناس ـ مسوولیت شناس
پازوالی	مسئوولیت
پانگوال	سرمایدار
پانگواله (پانگوالی)	سرمایداري
پایلنیوي	نتیجه گیري ـ استنتاج
پایله	خاتمه ـ نتیجه
پایلیزه	خاتمه (کتابوغیره)
پتیبل	تصمیم نیول
پچار	فعال
پدل	اثر ـ تابو ـ تحریم
ـ وبی	تحریم شوي کلمه ـ تابو
پراختیا غوښتنه	توسعه طلبی ـ توسعه جویی

پښتو	ناپښتو
پراختیایي	ترسعوي
پرتلل	مقایسه کول ــ قیاسول ــ مقابله کول
پرشاتګ	عقب نشیني ــ قهقرایي سیر
پرګنغونډه	میټینګ ــ جلسه (پینبارور)
پرګنواله	کمونیزم
پرګنه	کمون ــ توده ــ کتله
پرګنیز	کموني ــ توده یي ــ کتلوي
پرله پسیوالی	تسلسل ــ تواتر
پرله غښتل	منسجمول
پرله غښتی	منسجم
پرله غښتیا	انسجام ــ نظم ونسق
پرمختللی	مترقي ــ پیشرفته
پرمختیا	انکشاف
پرمختیایي	انکشافي
پریکړه	فیصله ــ مقاطعه ــ تصمیم
ــ لیك	فیصله لیك ــ قطعنامه
پژني	بدني ــ جسمي ــ عضوي
پژي	بدن ــ جسم ــ عضویت ــ اورګان
پښت پوهاند	نسب شناس ــ ژینو لو ژست
پښت پوهنه	نسب شناسي ــ ژینو لوژي
پلارواکي	پدرشاهي
پلوي	طرفدار ــ وابسته

پښتو	ناپښتـــــــــــو
پلوي	طرفداري
پوچاندي	بداندیش ـ بدنیت ـ بدسګال
پورژباړه	عاریتی ترجمه
پورنی	قرض ـ عاریتی ـ مستعار
پوروېی	قرض یا مستعارلغت
پوښتپانـه	د استعلام ورقه
پوښتـــنه	استفهامیه علامه
پوښتلیك	پرسشنامه
پوهنغونډ	دایره المعارف
پوهنیز	علمی
په بل پسی	د بل پسی
په بله وینا	په بل عبارت
په پاي کی	په اخر کی ـ بالاخره
په ترځ کی	په ضمن کی ـ ضمنا ـ پوصورت کی
په ټولیز ډول	په عمومی ډول ـ عموما
په رښتینـــه	په واقعیت ـ په حقیقت کی ـ واقعا ـ حقیقتا
په وړاندي	په مقابل کی ـ په حضور کی
په هیڅا پوري اړه نلري	د هیڅاپوري اړه نلري
په یو مهال کی	درعین حال
پیښلیك	تأریخ
پیښلیکونکی	مورخ ـ تاریخدان
ترژمی پسرلی ښه دي	د ژمی نه پسرلی ښه دي

پښتو	ناپښتـــو
له کابل څخه تر ننگرهار پوري	د کابل نه د ننگرهار پوري
پېیون	نظم ـ تنظیم
تړښت	ترکیب
تړښتي	ترکیبی ـ مرکب
تړنگ	مرکب ـ ترکیب
تړنگونه	مرکبات ـ ترکیبات
توکموانه (نژاد واله)	نژادپرستی ـ اپارتاید ـ نژادي تبعیض
توکیز	مادي ، عنصري
ـ واله	مادیت ـ ماتریالیزم ـ د مادي اصالت
تژنی	مکانی
ټاپول	تاپېول
ټبرپوهنه	نژاد شناسی
ټبرنی (ټبري)	نژادي ـ قومی
ټولنپوهاند	جامعه شناس ـ سوسیولوژیست
ټولنپوهنه	جامعه شناسی ـ اجتماعیات ـ علم الاجتماع
ټولنواله	سوسیالیزم
ټولنیز	اجتماعی
ټولنیزیدل	اجتماعی کیدل
ټولوال	عمومی ـ عامه ـ همگانی
ټولوالی	اتفاق ـ اتحاد ـ یکپارچه گی

پښتو	ناپښتـــو
تولی	کتیگوري
تولیز	عمومی ـ کلی
جوت	ثابت ـ معلوم ـ مثبت
ـ پوهنه	مثبت‌علم ـ ساینس
ـ تیا	اثبات ـ ثبوت
جوله	شکل ـ صورت ـ لفظ
جولیز	شکلی ـ صوري ـ لفظی ـ ظاهري
چاپخونه	چاپخانه ـ مطبعه
چارانگ	عکس‌العمل ـ بازتاب ـ واکونش
چال چلند	سلوك ـ رفتار ـ گذاره ـ معیشت
چاڼتون (چاڼځی)	تصفیه خانه
ځان وژنه	خود کشی ـ انتحار
ځانګړتیا (ځانګړنه)	خصوصیت ـ خاصیت
ځانګړي	مخصوص ـ خصوصی ـ خاص ـ مختص ـ شخصی ـ فردي
ځانی	شخصی ـ فردي
ځیښـاك	استثمار ـ استحصال ـ بهره کشی
ځبیښناګر	استثمارگر ـ بهره کش
ځمکپوهنه	جغرافیا
ځمکوال	زمیندار ـ فیودال
ځمکوالی	زمینداري ـ فیوډالیزم
ځواك	قدرت ـ قوه ـ طاقت
ځیر	دقیق ـ متوجه

پښتو	ناپښتـــــو
څــار	مراقبت ــ انتظار
څارن	مراقب
څارنوال	مدعی العموم
څارنه	مراقبــت
څارو	مراقب ــ منتظر
څانگوال	متخصص ــ مسلکی ــ د رشتی خاوند
څانگه	شعبه ــ رشته ــ مسلك ــ موٴسسه ــ دیپارتمنت ــ تخصــص ٠
څانگیز	رشته یی ــ مسلکی ــ تخصــصی
څښاك اویه	د څښلو اویه
څلورلاري	چارراهی
څیړ اند	محقق ــ متتبع
څیړ ندود	طرز تحقیق ــ د تحقیق متود
خبرتیا	معلومات
خبرځاي	د خبر منبع
خبرونه	اطلاعیه ــ ابلاغیه ــ اعلان
خپرندوي	ناشر
خپرنځی	محل انتشار ــ د نشرځاي
خپرنی	نشراتی
خپلمنځچار	ذات البینی تعامل یافعالت

پښتو	ناپښتـــــو
خپلمنځی	ذات البینی
خت	کمیس
ختی	زیر پیرهنی
د بیلګی په توګه	دنمونی په توګه
د رسته وال	مسلح ــ وسله وال
ــ ځواکونه	قواوې
د ساري په ډول	د مثال په توګه ــ مثلا
دود	رواج ــ عنعنه ــ مروج
دودیالی	مهذب
دودیز	عنعنی ــ متد اول
دوګړ وشمیر یا زیاتوالی	دنفوسو شمیر یا زیاتوالی
دوه ګړې	تثنیه ــ دوال
دوه واله	دوالیزم
دوې	قانون
ــ غونډ	دقوانینو مجموعه
ــ لیك	قانوننامه ــ دستور نامه
دویمی ــ (دویمنی)	دومی ــ دومین ــ ثانوي
دوییزه	مثنوي ــ د وه رویګی
دینپوهنه	دینیات ــ دینی علم یا علوم ــ تیولوژي
ډار	خطر ــ ویره ــ دهشت
ډارناك	خطرناك

پښتو	ناپښتو
ډاروونکی	دهشت أفگن
ډبر چاپ	سنگی چاپ ـ لیتوگرافی
ډبر لیک	کتیبه
ډبرین	سنگی ـ سنگین
ډلواکي	جمهوري ـ جمهوریت ـ جمهوری‌نظام
ډېر پېښن	کثیرالوقوع
ډېرپېښنې	بسامد
ډېر څپیز	کثیرالهجایی ـ ډېر سیلابی
ډېر څښتنې	شرک ـ مشرکی
ډېرزېږي	کثیرالتولید
ډېر ژبی	خولسانه ـ پولی لینگوال
ډېر ژبیز	خو لسانه (قاموس ۰۰۰)
ډېر ښت	کثرت ـ اکثریت ـ میجاریتی
ډېر ښتی (ډېروالی)	اکثریتی
ډېر ښځمن	دخوښځو خاوند
ډېر ښځمني	تعدد زوجات
ډېرمانیز	کثیرالمعنی
ډېر مېړونې	تعدد ازواج ـ پولیاندري
ډېر ودون	تعدد ازدواج ـ پولی‌گامی
راکښون	جذب ـ جلب ـ جذابیت ـ جالبیت
ربړه	پرابلم ـ معضله
رغا	بیزاري

پښتو	ناپښتـــــــو
رغاونه	ساختمان ــ سازمان
رغاونی (رغاونیز)	ساختمانی
رغاوه	صنعت
رغاویز	صنعتی
روغتیایی	صحی
روښاندي	روشنفکر ــ منور
ریز (ریږ)	برف کوچ
زږغه	تردد
زږ غی	متردد
زغرگاډي	زره دار موتر
زغریالی	زره دار
ژپانگه	لسانی ذخیره ــ لغوي ذخیره
ژپوهاند	زبانشناس ــ لینگویست
ژپوهنه	زبانشناس
ژپوهنیز	لینگویستیکی
ژپېژاند	زباندان
ژښود	د ژبې خود اموز
ژښودنه	لسانی تدریس زبان اموزي
ژبلوست	د ژبې درس یا تدریس
ژبنی	لسانی
ژپونج	لسانی تغییر ــ لسانی تحول
ژغی	د مریض تذکره

پښتو	داپښتو
ژمنه	وعده ـ تضمین ـ تعهد
ژوپوهاند	زولوژیست ـ جانورشناس
ژوپوهنه	زولوژي ـ جانورشناس ـ علم الحیوان
ژوند پوهنه	بیولوژي ـ زیست شناس
ژوند دود	د ژوند طرز ـ کلتور
ژوندنی	حیاتی
ژونی	حیوانی
ساپوهاند	روانشناس
ساپوهنه	علم الروح ـ پسیکولوژي ـ علم النفس ـ روحیات
ساییز	روحی ـ تنفسی
سپړنه	تشریح ـ شرح
سپړ	نون
ـ پوهه	فونیتیک
سپمایی	صرفجویانه
سپوږمیز	قمري
ستاینلیك	تقدیرنامه ـ جایزه نامه
ستر	لوی ـ مهم
سترچاری	کلانکار ـ متکبر
ستورپوهاند	منجم ـ ستاره شناس ـ هیأت دان ـ استرونوم
ستورپوهنه	د نجوم علم ـ د هیأت علم ـ استرونومی
سرینا (مخینا)	روینا

پښتـــو	ناپښتـــو
سرچپه	برعکس ــ معکوس
سرليک	عنوان ــ سرنامه
سرليکه	سرمقاله
سريزه	مقدمه ــ سراغاز
سړوبه	شيريخ ــ آيسکريم
سړي سر	فی نفر ــ د سړي سر
ــ کال گټـه	د سړي سرکالنی عايد
ــ گټـه	کالنی عايد
سمدلاسه	سمدستی ــ دستی ــ عجالتا
سملاسی	فوري ــ عاجل
سمون	اصلاح ــ ترميم ــ تصحيح ــ ريفورم
ــ ليک	غلطنامه
سند	رأي
ــ اخيستنه	رأي گيري ــ ريفرندم
ــ ورکونه	رأي ورکونه
سوب	حاضر
سهـل	هضمول ــ تحمل کول
سيمه	منطقه ــ محل ــ علاقه ــ ناحيه ــ ساحه ــ حوزه
ــ ييزه	منطقوي ــ محلی ــ علاقه يی ــ ناحيوي ــ حوزوي ٠
شپه ليک	شب نامه
شمارپوهنه	د احصائيی علم
شماري	احصائيوي

پښتو	ناپښتو
شمارخيړنه (شميرخيړنه)	احصائيه .
شننه	تحليل تفسير
ښار مينه	ښاري ناحيه ـ کارته
ښځـــنه	زنانه ـ سياسر
ښځينـه	زنانه يي ـ مونث
ښکارندوي	نماينده ـ نمايانده ـ ممثل ـ مظهر
ښکارندويي	نماينده گی ـ تمثيل ـ اظهار
ښکارنده	پديده
ښکارنليك	اظهارنامه
ښنده	افراط ـ مبالغه
ښندي	افراطی ـ اکستريم
ښوونپوهاند	پيداگوگ ـ د تربيی عالم
ښوونپوهنه	پيداگوژي ـ علم التربيه
ښوونيز	تعليمی
ښه ترښه	فبها
غبرگغږ	ډيفتونگ
غبرگون	جواب ـ عكس العمل
غورچاڼ	گلچين ـ منتخب
غوره	بهتر ـ مرجح ـ مهم
غوړاوو	چاپلوس
غوړاوي	چاپلوسی ـ تملق

پښتو	ناپښتـــو
غونډ	مجموع ـ گروپ ـ کل
غونډ ال	سیستم
کارنده	فعال ـ کاري
کارویش	تقسیم کار
کالخواي	ولی ـ فامیلی واکمـن
کرکیل (کرکیله)	کشت وکار ـ زراعتی چار
کرگر	دهقان ـ بزگر ـ زارع
کرپوهه	علم زراعت
کرنه	کرهنه ـ زراعت ـ کشت
کروندگر	ـ ـ ـ
کرونده	مزرعه ـ فارم ـ زراعت
کړاو (یو څپیز)	تمرین ـ مشق ـ ممارست ـ جمناستیک ـ ادمان
کڅول	بالاپوشی ـ کوټ
کیږ	قبر
ـ لیک	دقبرلوحه
کیدون	إمکان ـ احتمال
کیدونی	ممکن ـ احتمالی
گیز	نازل
گ:ل	نازلیدل
گچه	اندازه ـ سویه ـ سطح
گسر	ظلم ـ استبداد
ـ گر	ظالم ـ مستبد
گروهن	معتقد

پښتو	ناپښتـــــو
گروهول	معتقدول
گروهه	عقیده ـ اعتقاد
گروهیدل	عقیده پیدا کول ـ گرویدن
گناگاره	جریمه ـ کفاره
گنډی	کرتی ـ جمپر
گوډاگی (بړیخی)	عمال ـ کولابراتیور
گوریت	عقاب
لارښود	رهنما ـ پیشوا ـ رهبر
لاسبري	مسلط
لاسبری	تسلط
لاسکوی	زیردست ـ مادون ـ ماتحت
لاسکښلی	خطی ـ قلمی ـ دستویس
لاسکښنه	دستویس ـ قلمی یا خطی نسخه
لرغون خوښونه	قدامت پسندي
لرغون پوهاند	لرغون پیژندونکی ـ باستانشناس
لرغو نپوهنه	لرغون پیژندنه ـ باستانشناسی
لرلید	دورنما
لروین	دوربین
لروینون	تلویزیون
لږښت	اقلیت
لږښتی	اقلیتی ـ اقل ـ اصغري

پښتو	ناپښتو
لسیزه	دهه
لگښت	مصرف ــ استهلاك
ــ وال	مستهلك
لگښتی	استهلاکی
لنډ اندی	کوتاه اندیش ــ کوتاه فکر
لوستلیکی	درسی کتاب ــ تکسبوك
لوړاند	مدرس ــ لیکچرر
لو لنگر	اواره
لووی	شاهد ــ گواه
لوهه	اشتها ــ ذوق
له	د
ــ پلوه	له درکه ــ له لحاظه ــ له طرفه
ــ توغه وتل	له عهدي وتل
ــ ځلمی سره	د ځلمی سره
ــ ځیلمی	یکسره
ــ خوا	دخوا
ــ ده خخه	د ده خخه
ژمی راهیس	د ژمی راهیس
ــ سنگ پرته	د سنگ پرته
لیږد	رحلت ــ هجرت ــ کوچ

پښتو	ناپښتو
ــ لیک	نقل ــ کاپی
لیږ دي	هجري ــ مهاجر
لیکچه	رساله ــ کتابچه
لیکلاره	دلیکنې سبک ــ ستایل
لیک لیکانې	مکاتبه
لیکښه	دتنقیط علامه
لیکنې	تحریري ــ کتبي
مانا	معنا ــ معنی
ــ بلون	تداعی المعانی
ــ بلونې	متداعی المعانی
ــ پوهه	علم المعانی ــ معنی شناسي ــ سیمانتیک
مخزیږ د	قبل المیلاد
مخزیږ دي	قبل المیلادي
مخګڼه	وصفي شمار
مړینشمیر	دمړواحصائیه
مټلیکی	جیبي کتاب
منګي	خزانې
موروآکي	مادرشاهي
موخن (موخه وال)	هندفمند ــ مطلوب
موخه	هدف ــ مطلب مقصد
مهالنی	موقوته ــ زماني
مهالنی	جریده

پښتو	ناپښتو
مهالویش	تقسیم اوقات ــ پروګرام
مینه وال	علاقمند
ناپېیلتوب	عدم انسلاک
ناپېیلی	غیرمنسلک
ناسوب	غیر حاضر ــ غایب پس شا
ناسوبتیا	غیر حاضري ــ غیابت
نړیوال	جهانی ــ بین المللی
نړیواله	بین المللیت ــ انترناسیونالیزم
نشتاند	منفی باف ــ نیالیست
نشتمن	نیستمن ــ نادار ــ مفلس
نشتمنی	نیستمنی ــ ناداري ــ مفلسی
نندګیرل	احساسول ــ محسوسول
ننګیره	احساس ــ حس
نوچار (نوښت)	ابتکار
نوزېږ	جنسی
نومهالی	عصري ــ مودرن
نومیال (سړی)	مشهور (سړي)
نومیالی	شهیر ــ مشهور
نوښته	اختراع ــ ابداع
نهیلن	نا امید ــ مایوس
نهیلی	نا امیدي ــ مایوس ــ یاس

پښتو	ناپښتو
نیاو	عدل ــ انصاف
ــ چار	عادل
ــ من	عادل
یز	عدلی ــ قضایی
نیټه لیک	کرونولوژي ــ تاریخنویس
واکمن	باصلاحیت ــ داقتدارپه سر
ــ گوند	داقتدارپه سرگوند
وټپوهاند	اقتصاددان
وټپوهنه	داقتصاد علم
وټیز	اقتصادي
ودانیز	عمرانی ــ تعمیراتی ــ ساختمانی
وده	رشد
ــ ییز	دودي په حال کی ــ مخ په وده (هیواد ...)
نوي پرمختایی هیواد ونه	پرمختیایی نوي‌هیوادونه
ورځچاری	ابن الوقت ــ اپور تونیست
ورځچاري	ابن الوقتی ــ اپورتونیستی ــ اپورتونیزم
ورکوس	گمنام ــ بینام
ورښندون	امر ــ حکم ــ حکمت ــ قضاوت
ورهنه	کسب ــ پیشه
وړتیا	اهلیت ــ کفایت ــ لیاقت ــ قابلیت
وړجم	پوستین
وزلوبه	بزکشی

پښتــــو	ناپښتـــــو
وژنشمیر	دقتل احصائیه
وګړپال	مردم پرست ـ مردم دوست
وګړپوهاند	بشرشناس ـ انتروپولوژیست ـ اتنولوګ
وګړ پوهنه	بشر شناسی ـ انتروپولوژي ـ اتنولوژي
وګړ شمیر	دنفوسو شمیر
وګړ شمیرنه	دنفوسو شمیرنه ـ سرشماري
وګړنی	مردمی ـ توده یی ـ خلقی
وګړواك	دیموکرات
وګړواکی	دیموکراسی ـ دیموکراتی ـ خلقی نظام
وګړیز	شخصی ـ فردي
ـ روستاړي	شخصی خاتمه (ګرامر)
ولس دښمنی	ضد ملت ـ ملت پرور
ـ مین	ملت دوست ـ ملت پرور
ولسواك	دیموکرات
ولسواکی	دیموکراتی
ولسواله	ملیت ـ نشنلیزم
ولسولی	ملت داري ـ هم ملتی
ونډه	سهم
ونه (لکه تنه)	اندازه ـ سایز (مندوزي)
ویار	عیب
ـ من	معیوب

پښتو	ناپښتو
وياړل (وياړن)	له افتخاره ډک
وياړن	مفتخر- مغرور
وشاك	تجزيه طلبي
ويلاړ	عزم - اراده - تصميم
وي ليکي	قاموس- فرهنگ
هان (منگ)	عمر
هاند (کول)	کوشش
هخوب	کلتور- ثقافت
هخوبيز	کلتوري
هخول	تشويقول - ترغيبول - مايلول
هڅه	کوشش- اقدام - ميل -ميلان - تمايل - شوق
- وهاند	جد وجهد
هڅيدل	تشويقيدل - مايليدل - ذوق پيداکيدل
همهالي	همعصر - معاصر
هواپوهنه	هواپيژندنه - هواشناسي - مترولوژي
هوايي چلند	هوانوردي- هواپيمايي - هوايي ترافيك
هيبښ	حيران - متعجب
هيبښتيا	حيراني - تحير - تعجب
هيبښنده	محير - حيرانوونکي
هيبښني	تعجبي
هيواد	وطن - کشور - ميهن - مملکت - دولت

پښتـو	ناپښتو
ــ پال	وطنپرست
ــ پالنه	وطنپرستی
ــ پلورنه	وطنفروشی
ــ پلوری	وطنفروش
ــ وال	هموطن ــ وطندار ــ وطنپرست
ــ واله	هموطنی ــ وطندوستی ــ پاتریو تیزم
یاد ښت	یادابنت ــ یادداشت ــ یادداشت ــ نوټ
یمال	دواوري تریان
یوځییز	یوهیجایی
یونبځښی	یک زنی
یوګړي	مفرد (ګرامر)
یو سیر ونبی	یک شرهري
یون	حرکت ــ سفر
یوند ود	طرز حرکت ــ طرز رفتار ــ رسم ګذشت
یوون	واحد ــ یونټ

(پاي)

سید مسافر

اخځلیـــــک

۱ـ الهام ـ محمد رحیم : روش جدید در تحقیق دستور زبان دري ـ پوهنځی ادبیات ۱۳۴۹ ۰

۲ـ دوکتور پالوال عبد الرازق : پښتونوي مصدر ـ ادبپوهنځی ۱۳۵۰ کابل ۰

۳ـ دکتر پرویز خانلري : ساختمان جمله ـ بخشی از جلد دوم تاریخ زبان فارسی بنیاد فرهنگ ایران ـ تهران ۱۳۴۹ ۰

ـ ساختمان فعل " " " " " "

ـ انواع پنجگانه ساختمان فعل جلد دوم تاریخ زبان فارسی بنیاد فرهنگ ایران تهران ۱۳۵۲ ۰

۴ـ دوکتور تزي حبیب الله : نوي ژبپوهنه او ژبني مسایل ـ پښتو ټولنه ۱۳۴۴ ۰

۵ـ دوکتور دولت محمد : دکلام د اجزاو جوړښت ـ زیری ۴۳ گڼه ۱۳۵۱ کابل ۰

ـ د پښتو ژبی د فعلی اصطلاح گانو واحدونه او د هغوی د قاموسی تشریحاتو ځینی پوښتنی (ژباړه) ـ کابل مجله ـ ۸ گڼه ۱۳۵۱ کابل ۰

۶ـ دوکتور روان فرهادي : دستور زبان دري برای شاگردان مکاتب ـ لیسهٔ استقلال ثور ۱۳۵۴ کابل ۰

۷ـ دوکتور زیار : د ژبپوهنی بنسټونه ـ ادبپوهنځی ۱۳۵۳ ۰

PROPERTY OF ACKU 5596

8. E. Coseriu:

Einführung in die Strukturelle Linguistik.

Uni. Tübingen 1969.

9. F. De Saussure:

Grundfragen der Allgemeinen Sprachwissenschaft - Uebersetzer: H. Lommel.

2. Auflage, Berlin 1967.

10. G. Helbig & J. Buscha:

Deutsche Grammatik -- Leipzig 1975.

11. H. Krahe:

Indogermanische Sprachwissenschaft 11 Formlehre.

Hamburg Göschen Band 60 - Berlin 1963.

12. A. Martinet :

Grundlage der Allgemeine n/ Sprachwissenschaft.

Kohlhamer m/ Verlag 1967.

13. J. C.Mayer-Ing. :

Untersuchungen von Satzbau des Paschto.

Hamburg 1966.

14. J. M. Pence : A Tagmemic Grammar of Pashto Clause Structure

Univ. Microfilms Michigan 1967.

15. H. Penzl : A Grammar of Pashto - Washington 1955.

16. D. A. Shafeev : A Short Grammatical Outline of Pashto - Mouton & Co. 1964.

17. U. Ulbrich : Wörterbuch - Linguistische Grundbegriffe.

Verlag Ferdinand Hirt 1972.